# خپل وطنه، گل وطنه

( د متلونو کیسې)

ټولوونکی: عبدالنافع همت

۱۳۹۳لمریز کال

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د کتاب ځانګړني :


| | | |
|---|---|---|
| نوم | : | خپل وطنه، ګل وطنه |
| ټولوونکی | : | عبدالنافع همت |
| خپرندویه ټولنه | : | علامه رشاد خپرندویه ټولنه، کندهار |
| چاپ کال | : | ۱۳۹۳ل |
| د چاپ شمېر | : | زر ټوکه |
| تصحیح | : | خلیل احمد ثارن |
| د پښتي ډیزاین | : | رضا پارسا |
| د لومړۍ پښتۍ رسامي | : | نصیر احمد احمدي |
| د ټولوونکي بر ېښنالیک | : | anhimmat@gmail.com |


د کتاب د چاپ او خپرولو حقوق له لیکوال او خپرندویي ټولني سره خوندي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ډالۍ:

دا کتاب خپلې ګرانې او مهربانې مور ته ډالۍ کوم، هغه مور چې د انساني ژوند لومړۍ کیسه مې له دې څخه اورېدلې او زه یې په کوچنیوالي کې په خپلو خوږو کیسو ورو ورو له انسانې نړۍ سره اشنا کړی یم.

عبدالنافع همت

(c) ketabton.com: The Digital Library



اکاډمسین سلیمان لایق

# له متلونو راز بېړ بدلي کیسې

د فولکلوري ادبیاتو سیمه د خلکو د ټولنیز احساس، نبوغ او ادبي کار سیمه ده چې د لیکل شوي ادب لپاره د سرچینې او مبدأ حیثیت لري. هغه ملتونه چې پیاوړي ملي مکتوبي ادبیات لري، د هغوی له شتمن او متنوِع فولکور څخه برخمن او شتمن شوي دي.

د نړۍ سترې مذهبي او رزمي حماسې لکه د هندوانو مقدس کتاب ( رامـاین ) د والمیکي شاعر اثر، یا (الیاد) او ( اودیسه ) د یونان په انتیکه دوره کې د ( هـومر ) دوې حماسې او یا په سومر کې د ( ګِلګَمِش ) د خوارقو حماسه ګرسره له خلکـو څخه په راټولو شویو شفاهي زېرمو باندې تکیه لګوي.

لا ښخوا تر دې چې خلک د لیک خاوندان شي، هغوی د ژبې او شفاهي ادب خاوندان وو او له مخه تر دې چې هغوی تغزلي ( عاشقانه) شعر ولیکي، هغوی عشق احساس کړی و، پخوا تر دې چې موسیقي او غاړې اختراع کړي، هغوی موزوني عاشقانه زمزمې پیل کړي وې. د ټولنیزې هستۍ ټولې برخې په خپل تکاملي پړاو کې د استحالو، بشپړېدو او بدلېدو اوړده واټنونه وهلي او اوسنۍ مرحلې ته راغلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابوالقاسم فردوسي زموږ د هیواد حماسه بول ستر شاعر په هماغو نابغه ګـانو کــې شمار دی چې زموږ د ولسونو د شفاهي روایاتو شهکارونه یې په خپل تلپاتي اثر ( شهنامه ) کې خوندي او د نړیوالو ننداري ته وړاندې کړي دي. هغه خپله شهنامه د بلخ له لومړني ټولواک څخه تر پهلوان رستم، کک کُهـزاد، د کابـل او زابـل تـر واکمنانو پورې اوږده کړه او زموږ د اُسطوره یي تاریخ او ځلاند ثقافت روایات یــې له ورکې څخه وساتل.

د ټولو یادو شویو شهکارونو جرړې او سرچینې د خلکو پـه شـفاهي ادبیـاتو کــې خوندي شوي دي. که شفاهي روایات نه وای دغه شهکارونه به هـم نــه وو او کـه دغه شهکارونه نه وای د انسان د بیاني نبوغ لاره به ډب شوې وه.

فولکلوري ادب د لیکل شویو ادبیاتو لپاره د هغو زېږوونکو سرچینو حیثیت لـري چې د مکتوبي ادبیاتو ستر سین جوړوي، هغوی ته بنیاد او نظم ورکــوي او ملــي اصالت یې ټاکي. ټول اُسطوره یي او عاشقانه داستانونه، ډرامــې او د لیکـل شــویو ادبي ژانرونو ګرد اقسام د خپلې شفاهي سابقې او قدامت په اعتبار فولکوري رنګ او عطر لري.

د فولکلوري تار او تانستې پرته د ملي کتبي ادبیاتو د شتون فکـر هــم لا نــه شــي کېدای. لیکلي ادبیات له شفاهي ادبیاتو څخه پیل کېږي، هیڅوک داسي یو ملت نه شي را په ګوته کولای چې شفاهي ادبیات دې و نه لري، خو لیکلي ادبیات دې ولري او یا دې د شفاهي ادبیاتو برخه خواره وي، خو لیکلي ادبیات دې غني وي.

د فولکوري ادبیاتو راټولول او له علمــي میتــود ســره ســم څېـړل پــه معاصـرو او اکاډمیکو مطالعاتو کې مهم ځای نیولی دی. شفاهي ادبي ژانرونه نه یواځې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

## خپل وطنه، گل وطنه

ادبي تيورۍ او ادبي څېړنو له نظره، بلکې د تاريخ، ټولنپېژنـدنې، قـوم پېژنـدنې، انسان پېژندنې، روحياتي څېړنو او نورو مطالعاتو له اړخه هم يو مهم ځـای غـوره کړی دی.

تېر کال د افغانستان د اسلامي جمهوريت د علومو اکاډمۍ، د ژبو او ادبياتو مرکـز په هيواد کې د فولکلوري څېړنو د اهميت له مخې، د اکاډمي علمـي شـورا تـه د افغاني ژبو د فولکلورونو د راټولولو او ارشيف کولو لپاره د يوه زېرمه ځای د جوړولو پيشنهاد وکړ چې له نېکه مرغه دغه پيشـنهاد و منـل سـو او سـږکال د هغـه پـر فعالولو مقدماتي کار روان دی.

دا د افغانستان د فرهنگ او ادب په سيمه کې يو داسي رغوونکی اقدام دی چې د ټولنيزو پوهنو په تېره بيا په ثقافتي څېړنو کې رغونې او پرمختگ ته پراخه مخـه ورکوي. په داسي بختور مهال کې ماته دا د پښتو متلونو د کيسـو کتـاب چـې د متلونو د را منځ ته کېدو منطق او شان ورود څرگندوي، د ديبـاچې ليکلـو لپـاره راوسپارل شو. دا اثر ( خپل وطنه، گل وطنه ) نومېږي چې پر وطـن مـين زلمـي ښاغلي عبدالنافع همت ليکلی دی. دا کتاب د متل د را منځ ته کېدو تـاريخي - فرهنگي علت او سرچينه په گوته کوي او له څېړونکي سره مرسته کـوي چـې د متل په ريښه يي سرچينو او د هغه په را منځ ته کېـدو کـې ټـولنيز محرکـات او اسباب وپېژني.

د متلونو د را منځ ته کېدو بهير داسي دی چې هر ځانگړی ( منفرد) متل له يوې داسي پېښې او تصادف څخه را منځ ته کېږي چې د خلکو ذهن ته د عقلي درايت او يا عملي حکمت تجربه او نتيجه ورکوي. د دغو تجربو يو شمېر د خلکو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلاق ذهن کې د يوې ټولنيزې مقولې او پديدې حکمت او يا د هغې هغه ليدلورى او اغېز بيانوي چې ټولنيز فراست تاييد کړي دي.

ښاغلی همت چې په پښتو ادب کې پراخ ورود لري، د خپلو ګڼو مشاغلو باوجود له پښتو فولکلور سره د عاشقانه لېوالتيا له مخې د يو شمېر پښتو متلونو په باره کې هغه کيسې او وړاندېينې راټولې کړي دي چې د متلونو د را منځ ته کېدو مبدأ او ټولنيز علت بيانوي.

که څه هم د متلونو تر منځه داسې افراد هم شته چې د هغوی په شان ورود کې د بېلابېلو راويانو تر منځ اختلاف موجود دی، خو فولکلوري ژانرونه او ورسره متلونه چې د پيدايښت ناټاکلی زمان لري، کېدای شي چې د يوه قوم د جلا نسلونو او قومونو په همځولو کې د دودونو او روايتونو د اختلاف په سبب او يا د نورو ټولنيزو عواملو له کبله دغه اختلافونه او توپيرونه را منځ ته شوي وي.

دا اختلافونه تش په متلونو کې نه، بلکې په ټولو فولکلوري ژانرونو او اساطيري رواياتو کې ليدل کېږي. کوم څه چې په دې مرحله کې زموږ فرهنګي هويت او ملي ادب ضرورت ورته لري هغه دا دی چې بايد فولکلورونه د هر راز روايتي توپيرونو او اختلافونو باوجود کشف، راټول او په علمي طريقه د علمي څېړنې لپاره تنظيم او زېرمه شي.

فولکلورونه د راټولولو خپل خاص ميتود لري، هغه دا دی چې کله يو متل يا يوه لنډۍ له چا څخه اورو او هغه ليکو، نو بايد د راوي نوم، د پلار نوم، ټبر، عمر، سيمه، د سواد کچه او د ثبت تاريخ هم ورسره وليکو، د دې تر څنګ بايد په فولکلور کې د راوي د لهجې ټول خصوصيات هم ثبت شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## خپل وطنه، ګل وطنه

په افغانستان کې چې تر اوسه د فولکلور په راټولولو کې څومره کار شوی دی، دغه میتود ته هیڅ پام نه دی شوی، خو له نېکه مرغه همت صاحب په خپل کتاب ( خپل وطنه، ګل وطنه) کې د متلونو کیسې په علمي او عصري میتود راټولي کړي او تر ډېره بریده یې د فولکلور نړیوال او علمي میتود مراعت کړی دی، زه هیله لرم چې باید په دې برخه کې نور هم دقت وشي او هغه نور خصوصیات هم په پام کې ونیول شي چې له همت صاحب څخه پاته شوي دي.
زما هیله دا ده چې پخوا تر دې چې د پښتو د فولکلوري ژانرونو سیمه ییزې غني زېرمې د راروانو بدلونونو او دودونو په وجه، له هغوی څخه د نویو نسلونو د پردي کېدو له کبله مړاوي او لا درکه شي، باید د ثقافت د سیمې د کارکوونکو په همت، له ورکې او هېرې څخه وژغورل شي.
همت صاحب د خپلې ملي خواخوږۍ په خاطر د افغانستان د معنوي پانګې د بې مزده راټولولو لپاره خپله وطني، انساني او ذمه وارانه ونډه ادا کړې ده، زه دده لپاره اوږد ژوند او د ګران افغانستان د خلکو په خدمت کې لا برى غواړم او د هیواد له زلمیو ثقافتیانو څخه هیله کوم چې د افغاني فولکلورونو په راټولولو، خوندي کولو او ارشیف کولو کې هغه ګټوره او مهمه ملي دنده سر ته ورسوي چې زموږ او زموږ له اسلافو څخه نیمګړې پاتې شوې ده.

و من الله التوفیق

اکاډمسین سلیمان لایق

کابل، د کب ۲۵ نېټه، ۱۳۹۲ ه ش

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د متلونو پر کیسو یوه بله کیسه

متلونه د ملتونو د ملي تجربو، عملي نتیجو او فکري نچوړ دی او د خلکو د خولو هغه سپېڅلي، پاکي، معنی داري او لویې لویې، خو لنډې لنډې جملې دي چې د ولس د ثقافت، فرهنګ، علم او پوهې د کړوورو ژوندۍ نمونې او د ولسي پوهانو د لوړو افکارو نماینده ګان دي.

متلونه د ولسونو د ملي ژبو په بلیغو او فصیحو جملو کې خوندي کېږي او د خپل فکري او ادبي ارزښت له امله د دې ملتونو د افرادو په سینو او حافظو کې ساتل کېږي او بیا خوله پر خوله له یوه نسل نه بل نسل ته لېږدي او خلک یې د ورته پېښو او حالاتو د تائید یا تردید له پاره وایي.

په دې ترتیب هر متل د پاخه فکر او پخې ژبې مجموعه ده چې د ولسونو له شفاهي فرهنګ سره اړه لري او له کومه وخته چې په دوو وروستیو پېړیو کې په نړۍ کې د فولکلور او ولسي کلتور اهمیت ته پوهان متوجه شوي او د راغونډولو له پاره یې ټولنې او اکاډمۍ جوړې شوې، نو د نورو فولکلوري توکیو تر څنګ د متلونو راټولو، لیکلو او خوندي کولو ته هم پام اوښتی دی.

د ملتونو متلونه په کتابونو، رسالو، کېسټونو او نورو کې چاپ او خوندي شوي او راز راز تشریحي، تفسیري، تحلیلي او حتی د ملتونو د متلونو پرتلیزې څېړنې شوي او دا قیمتي ملغلرې او الماس خوندي شوي چې د پوهې او استناد غوړونو ته د قیمتي ملغلرو په توګه وراچول شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## خپل وطنه، ګل وطنه

د هر ملت متلونه د دوی د خپلو ژبو په چوکاټ کې خپلې ښکلاوي او ځانګړنې لري او له فکري صلابت سره ژبنی سلاست، فصاحت او بلاغت هم لري. پښتو متلونه هم ډېر لرغوني او پخواني دي چې زموږ د نیکونو غوره، قیمتي، تللي، او پخې ویناوي پکښې خوندي شوي او د زمانې په پوړیو کې تر موږ پورې رارسېدلي دي.

متلونه په ټولنه کې د منطق او استدلال له پیدایښت سره سم د منطقي کلیو او پخو فکري لاسوندونو په توګه را منځ ته شوي چې د ګړني ادب یوه خوږه او پخه برخه ده او له زرګونو کلونو راهیسې پر پښتني ټولنه حکومت کوي، د پوهانو او لویانو په سینو کې ساتل شوي او خوله پر خوله رالېږدېدلي دي.

متلونه هر هغه چا چې فکر کولای شوای ویلي دي، لکه د لنډیو غوندې مشخص ویونکی نه لري، د سینو په خزانو کې ساتل شوي او خوله پر خوله رالېږدېدلي دي. متلونه هر وخت ویل شوي او ویل کېږي او د ټولو پښتنو د خولو ملغلري دي چې د خلکو په حافظو او ذهنونو کې خواره واره پراته دي او له موقع سره سم یې وایي او استدلال پرې کوي. متلونه د شکل او عباراتو له پلوه خوندور، لنډ او له فصیحو او بلیغو جملو نه جوړ وي او د فکر له پلوه له موجز او معجز ډول یو لوی او پوخ مطلب پکښې ځای شوی وي.

متلونه له زرګونو کلونو راهیسې په پښتني ټولنه کې ژوند کوي، جوړېږي، خورېږي، هېرېږي او نوي متلونه یې ځای نیسي، دا عملیه همداسې روانه او پښتني فکري ټولنه پرې ودانه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**خپل وطنه، گل وطنه**

پښتو متلونه د بڼې له پلوه درې ډولونه لري لکه منثور، منظوم او مسـجع متلونـه دي چې د ټولو په جوړښت کې د ژبې فصاحت، بلاغت او صلابت په نظر کې دی.

ځو منثور متلونه دا دي:

- که بانجڼ نه خورې، بد مه پرې وایه !
- وابښه د سمې خوري هوا د غره لري.
- د ښو غوښو ښه ښوروا وي.
- تر سره گټه تود تاوان ښه دی !

ځو منظوم متلونه:

- ارمان به کړې هلکه، بیا به نه مومې ادکه
- من خورم چارک گټم، بي بي درځم که نه درځم !
- سل روپۍ پور که، د اختر شپه پر کور که
- دوې گوتې یې تورې کړې، پر ما خوارې یې پورې کړې.

ځو مسجع متلونه:

- ارزان بې علته نه وي، گران بې حکمته.
- بخت په ټنډه دی، نه په منډه.
- پر ځمکه سیوری نه لري، پر اسمان ستوری.
- اسان یې په سوو گټي، مېړونه یې په خولو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



متلونه پر دې وېش علاوه نور په زړه پورې ډولونه هم لري چې يو يې هم تمثيلي متلونه دي. دا متلونه يوه موضوع د ډيالوگ په بڼه په خپله غېږه کــې رانغـاړي او اورېدونکی ورجذبوي لکه د يوې ډرامې ننداره چې کوي.

د دې ډول متلونو څو نمونې دا دي:

(۱):

- چېرته ځې؟

- د دښمن کره

- ولې؟

- دوست مې هلته دی.

دا متل هغه وخت ويل کېږي چې يو چا په بدو کې خپله خور او لور ورکړې وي او بيا يې په پوښتنه پسې ځي.

(۲):

- مورې خرڅوم دي !

- څنگه؟

- داسې چې څوک دې نه اخلي

(۳):

- ابا اوبو يووړ !

- ويل ابا څه کوې چې غاړې غرونه يې يووړل.

(۴):

- اموخته خور ښه دی که ميراث خور؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ویل اموخته خور.

تلمیحي متلونه د متلونو یو بل ډول دی چې د یوې پېښې، یوې واقعې، یوه ځای یا یوې اسطورې ته اشاره پکښې شوې یا یو مشهور نوم پکښې راغلی وي لکه دا متلونه:

- اتڼه وران شې چې امرالدین دې نارې کوي.
- پر پچه وخوت کشمیر یې ولید.
- خوشال خټک، په درنو دروند په سپکو سپک.

په دې لړ کې کیسه ییز متلونه چې اوس ورته د متلونو کیسې هم وایي هغه متلونه دي چې له یوې کیسې نه رازېږېدلي او له یوې کیسې سره تړلي وي. دا متلونه هم ډېر زيات دي او کار هم پرې شوی دی چې ستاسو په لاس کې کتاب هم همدا کیسه ییز متلونه یا د متلونو کیسې دي چې د پښتو ژبې ځوان او هڅاند لیکوال عبدالنافع همت، همت کړی، زحمت یې ګاللی او په لسګونو داسې متلونه یې راغونډ کړي چې له کیسو څخه رازېږېدلي او ده یې د کیسو د رښتینولۍ لــه پاره ډېر زيار ګاللی او له باوري کسانو نه یې راټولي کړي دي.

تر دې وړاندې هم په دې برخه کې کار شوی او د متلونو د کیسو څو مجموعې راغونډې شوي او چاپ شوي دي لکه:

- د متلونو کیسې، دوه ټوکه، ښاغلی ابوالخیر ځلاند.
- د ملغرو امېل، ښاغلی ولي محمد ولي.
- د متلونو کیسې، دوه ټوکه، ښاغلی موسی زی.
- د متلونو کیسې، ښاغلی نصرالله زرمتی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- خبره له خبرې پیدا کېږي، ښاغلی علم گل سحر.
دوی ټولو هڅه کړې چې کیسې یې یو له بل سره ورته نه وي او هر یو خپله کیسه او خپل راوي لري.
ما چې د ښاغلي همت کیسې ولوستې، اکثره یې داسي کیسې او متلونه دي چې له پخوا څخه په خلکو کې موجود وو، خو دده راویانو له وروستیو کسانو سره تړلي او نوي کړي یې دي.
دا ډول خوځښت او حرکت له پخوا څخه په فولکلور کې موجود دی چې د فولکوري توکیو د زمانې او مکاني پراختیا او خپرېدو په لاره کې ډېره مرسته کوي او عمر یې اوږدوي. مثلا یوه لنډۍ، یو متل یا یو بل فولکوري توکی په کندهار کې جوړېږي او د کندهار اړوندو سیمو نومونه پکښې وي، خو کله چې دا توکی ننگرهار ته ولېږدي نو هلته یې مکاني نومونه وربدل کړي او په نوي محیط کې د نوي ژوند کولو زمینه ورته مساعده شي یا په یوه فولکلوري توکي کې د یوې سیمې یوې مشهورې پېښې ته اشاره شوې وي، خو کله چې بل ځای ته ولېږدي هلته د هغې سیمې یوه مشهوره واقعه ورسره وتړله شي او په دې توگه له نوي محیط سره اشنا شي یا په یوه همداسي فولکلوري توکي کي یو مشهور او سیمه ییز نوم راغلی وي، په بل ځای کې دا نوم په بل مشهور نوم واوړي او د دې توکي ژوند اوږد کړي، دا ځکه چې فولکوري توکي شفاهي ژوند کوي او له محیطي بدلونونو سره یې ژوند تجدید او اوږدېږي.
د همت صاحب په دې اثر کې راغلې د قاضي غلام متل ۶۴ کاله وړاندې اروابښاد استاد محمدگل نوري په (پښتو متلونه) نومې کتاب کې خوندي کړی او قاضي

(c) ketabton.com: The Digital Library



غلام په خپله د امیر شېرعلي خان د واکمنۍ پر وخت تېر شوی او همت صاحب دا کیسه په ۱۳۸۹ ه ش کال کې ثبت کړې ده چې په دې ترتیب دې متل تقریبا یو نیم سل کاله عمر کړی او د روایاتو تجدید اوږد عمر وربخښلی دی.
(انا مړه تبه یې وشلېده). دا هم یو مشهور متل دی چې کیسه یې ځای پر ځای فرق کوي او محیطي تړاوونه پیدا کوي. د (انځر او غوښه) کیسه په بېلابیلو ځایونو کې بېلابېل روایات لري، دا کیسه د چای او هندوانې د تضاد په بڼه هم ده او د نورو متضادو خوړو په باب هم ویله کېږي. همدا راز چې بدگرځي، بد به پرځي متل هم ډېر ډولونه او ډېرې کیسې لري.
( که بدي نه کړې بدې چارې، بدی به چا واژه بې لارې ) دا له نیکي بدي فولکوري کیسې سره تړلی متل دی چې ډېره په زړه پورې کیسه ده.
یا:
کرمیه چې غم نه وي ته غم راړوې، کرمیه په لم غوټه سپرو واوړې. د پتې خان او رابیا د کیسې سره تړلې ناره ده چې د متل بڼه یې غوره کړې ده. اکرم خان د دې کیسې یوبدماشه کردار دی چې د پتې خان ناسکه ورور دی، اوس چې هر څوک ده ته ورته کارونه کوي دا متل ورته ویل کېږي.
په همدې ترتیب که د دې اثر د نورو کیسو په باب په خوره وره پښتونخوا کې پلټنه وشي ګڼ او سره بېل روایتونه به یې ترلاسه او تنوع به یې زیاته شي.
همت صاحب د خپل کار له پاره د فولکور ټولونې له عصري اصولو او **آ**رونو څخه کار اخیستی دی، لومړی یې متل راوړی، بیا یې تړلې کیسه په مشرح ډول راوړې، ورپسې یې د دې متل او کیسې د ویلو سیمې ښودلې او په پای کې یې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل راوي نوم راوړی او د کیسې د ثبت تاریخ او نېټه یې هم ښودلې ده. تر دې وروسته که هر څومره روایتونه ثبتېږي هغه به د دې متل د زماني او مکاني پراختیا له امله وي، نه د یو بل درد له پاره.

له نېکه مرغه اوس پر متلونو باندې د څېړنې نورې لارې هم پرانیستل شوي دي، په دې لړ کې زما مخې ته (د متلونو په لار) نومي کتاب پروت دی چې ښاغلي فرهاد علي وسیم یوسفزي لیکلی او په ۲۰۱۰م کال د خیبر پښتونخوا له مردان نه خپور شوی دی. ده په خپل کتاب کې د متلونو د پیدایښت زمینې څېړلي چې د متلونو تر کیسو یې د څېړنې زمینه لږ پراخه ده او د هر متل د پیدا کېدو تعبیر او تفسیر کوي.

همدا راز (متلي بابا) یو بل کتاب هم زما مخې ته پروت دی. په دې کتاب کې لنډې کیسې لیکل شوي چې د هرې کیسې سرلیک یو متل دی او کیسه د متناظرو متلونو په راوړلو سره خوندوره شوې او په دې ترتیب په هره کیسه کې په لسهاوو نور متلونه راغلي دي.

د همت صاحب پر کتاب باندې تبصره کې مې د دې کتابونو یادونه ځکه وکړه چې همت صاحب د خپل کتاب په لیکلو کې ډېر زیار گاللی او د متلونو په ملغلرو کې یې پخه لاره موندلې او زړه ته یې ورننوتلی دی، دی کولای شي چې پر متلونو خپل کار ته دوام ورکړي او د پښتني متلونو نورې زمینې هم وڅېړي، ویې څېړي او په دې لاره کې نوي ډگرونه فتح کړي.

د همت صاحب د لیک ژبه ښه او روانه ده، خو تر ډېره بریده یې هڅه کړې چې په کندهارۍ لهجه یې ولیکي. په فولکوري څېړنو کې د یوې لهجې کارول عیب

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه دی، خو په دې شرط چې گونکې برخې یې په معیاري ژبه تشریح شي او خصوصا کله چې لهجه ژبدودیز ورانی پېښوي او گرامري قاعدې ماتوي بیا نو عامه ژبه کارول په کار ده.

دردونه ډېر دي، خبره پر بله را نه ولاړه، بیرته راځم د همت صاحب همت او دده (خپل وطنه، گل وطنه) کتاب ته چې په فولکوري څېړنو کې د خاص ارزښت او مقام وړ دی، زه په خپل وار مبارکۍ ورکوم او نور بریالیتوبونه یې غواړم.

په درنښت

څېړندوی حبیب الله رفیع

د افغانستان د علومو اکاډمۍ سلاکار

۲۴/ ۹/ ۱۳۹۲ ه ش کال

(c) ketabton.com: The Digital Library



# انځر او غوښه بد نه سره وړي، ملنګ له منځه وړي

وايي چي يو ملنګ د کلي تر څنګ په کوډله ( جونګړه) کي اوسېده. دی به هر ماځيګر کلي ته راته او خير به يې ټولاوه. يوه ورځ يوه کور لږ پخه کړې غوښه ورکړه، ملنګ غوښه واخيسته او په کچکول کي يې واچوله، وروسته يوه بل کور لږ تازه انځر ورکړه، ملنګ انځر هم واخيسته او له غوښي سره يو ځای يې په کچکول کي واچول، کچکول يې غاړي ته واچاوه او خپلي کوډلي ته ولاړ.

کله چي ماخوستن سو، نو ملنګ اول غوښه او ورپسې يې انځر وخوړل. نيمه شپه وه چي پر نس يې درد سو، درد يې وار په وار پسي ډېرېده چي اخير بيخي له ولاړو ولوېد. شپه تېره سوه، په سبا ملنګ کلي ته نه ورغی او ورځ ترې په خپله کوډله کي پروت و.

ملنګ په کلي کي يو انډيوال درلود چي کله به يې ملنګ کور ته ورته او کله به دی د ملنګ کوډلي ته ورته او د زړه خواله به يې سره کول. د انډيوال يې پام سو چي ملنګ نن کلي ته نه دی ورغلی، په زړه کي يې ورو ګرځېده چي ملنګ ته خامخا يو څه ورپېښه ده چي نن کلي ته نه دی راغلی، هغه و چي د ملنګ د پوښتني لپاره روان سو.

کله چي د ملنګ کوډلي ته ور ننووت، نو ګوري چي ملنګ ناروغه پروت دی او د ګېډي له درده اړخ پر اړخ کېږي. انډيوال وپوښتل چي ملنګ پاچا څه دي خوړلي دي چي پر نس دي درد دی؟ ملنګ ورته وويل چي انځر او غوښه مي خوړلي دي، انډيوال يې وويل: بس بس پوه سوم، همدې انځرو او غوښي ناروغه کړی يې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

## خپل وطنه، گل وطنه

کاشکي انځر او غوښه دي يو ځای نه وای سره خوړلي، انځر او غوښه خو تر خپل منځ بد سره وړي. ملنګ په زګېروي ورغبرګه کړه: نه داسي خبره نه ده، که يې بد سره وړلای نو په کچکول کي به يې جنګ سره کړی وای، انځر او غوښه بد نه سره وړي، ملنګ له منځه وړي.[1]

يادونه:

دا متل په کندهار او جنوبي پښتونخوا کي ډېر ويل کېږي. کله چي يو څوک د کومي دسيسې او توطيې قرباني سي يا د مشکل اصل عامل يو شی او خلک بل څه فکر کوي نو خلک دا متل وايي.

[1]: دا کيسه مي په کوچنيوالي کي له خپل پلار څخه اورېدلې ده. (ع، همت)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اوړه خيشته ميشته کړي، منت پر تناره کړي[1]

وايي چي پر يوې مور خپله لور ډېره ګرانه وه او خورا يې نازوله، مېړه به يې ورته ويل چي دې نجلۍ ته اوس لا د کور لږ کار په لاس ورکوه چي زده يې کړي، سبا چي پېغله سي او د مېړه کور ته ولاړه سي نو هيڅ کار به يې نه وي زده، ښځې يې دا خبره نه ورسره منله ويل به يې چي دا دی زه ټول کارونه کوم، څه ضرورت دی چي دا کار وکړي.

مياشتي او کلونه تېر سول او نجلۍ پېغله سوه، ښځې به د کور ټول کارونه خپله کوله، خو لور ته يې هيڅ کار په لاس نه ورکاوه. مېړه يې ورته وويل چي اوس نجلۍ پېغله سوې ده، بايد چي د کور له کارونو سره بلده سي، همدا يې وخت دی چي ځيني کارونه په لاس ورکړې، سبا چي د مېړه کور ته ولاړه سي کارونه به

1: دلته ( خيشته ميشته ) د ګرامر له مخي تکراري ترکيب نه دی لکه کورمور، هلک ملک، سړی مړی، بلکي د ډوډۍ لپاره د اوړو چمتو کولو يوه ځانګړي پړاو ته اشاره ده. په کندهار او شاوخوا ولايتونو کي هغه ډوډۍ چي پر تبخي ( تبۍ ) پخېږي اوړه يې په دوو پړاوونو کي چمتو کېږي. لومړي پړاو ته يې (اغږل) يا (اخښل) وايي. په دې پړاو کي له اوړو سره يوازي اوبه او مالګه ګډېږي او د کاشين يا تالۍ سر په ړينګي ( د اوړو دسترخوان ) يا ټغر تړل کېږي. يو يا دوه ساعته وروسته له همدې خيشته کړيو اوړو سره نوري اوبه هم ګډېږي، کله چي اوړه ښه سره ګډ سي په سوکانو کلک کلک وهل کېږي چي پاخه سي، لکه د دېوال لپاره چي خټه پخېږي دغسي اوړه هم په سوکانو وهل کېږي چي کلک او پاخه سي.
د اوړو چمتو کولو دې پړاو ته (ميشتېدل) ياني په سوکانو وهل وايي. د اوړو اغږل اسانه کار دی او خاص مهارت نه غواړي، خو مشتېدل خاص مهارت غواړي چي دا پړاو د ډوډۍ پر پخولو خورا ډېر اغېز لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځنګه کوي؟ ښځي به ورته ویل چي خیر دی اوس لا زه ځوانه یم او کار کولای سم، پر بېرده چي یو څو ورځي هوسا تېري کړي، که د مېړه کور ته ولاړه هسي هم کار ته مجبوره ده.

د نصیب کارونه دي نجلۍ واده سوه او د خسرګنۍ د کور ټول کارونه ور دغاړي سوله، خواښي چي به یې هر کار په لاس ورکړ د دې به نه و زده، د نجلۍ د بې کارۍ او ټمبلۍ اوازه په ټوله خسرګنۍ کي خپره سوه، د نجلۍ په باره کي د ښځو خبري ورځ په ورځ ډېرېدې، آن دا چي داسي وخت هم راغی چي ښځو به مخامخ پېغورونه ورکول. خواښې یې مجبوره سوه چي د کور نور کارونه په خپله وکړي، دې ته یې یوازي ډوډۍ پخول وروسپارله، ورته وې ویل چي لومړی ډوډۍ پخول زده کړه بیا به نور کارونه هم په لاس درکړم.

څرنګه چي نجلۍ تر دې مخکي ډوډۍ نه وه پخه کړې ، نو تل به یې ډوډۍ سوځلې، بلمنګه ( بې مالګي ) تروه او یا پتیره به وه. نجلۍ به د ځان خلاصولو لپاره ډول ډول پلمې جوړولې، کله به یې ویل چي اوړه خراب دي، کله به یې ویل چي بوټي لانده دي او کله به یې ویل چي تنور خراب دی.

یوه ورځ یې مېلمانه درلودل، کله چي نجلۍ اوړه میشتول ( لندول) نو خواښي یې ورته وویل چي لوري دا اوړه دي ډېر خیشته میشته کړي دي، سمه ډوډۍ نه ځني پخېږي، خو نجلۍ یې خبره و نه منله او له هماغه اوړو څخه یې ډوډۍ پخه کړه. مېلمنو ته چي یې راوړه، نو نیمه اومه او نیمه سوځلې وه.

د نجلۍ خواښې او مېړه د مېلمنو په مخ کي سخت وشرمېدل، خو هغه مهال یې څه و نه ویل. کله چي مېلمانه ولاړل، نو مېړه یې پر نجلۍ سوټی راواخیست او

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسي سخته يې وډبوله چي پوستکي يې ورواړوله، ويل يې کوچنۍ خو نه يې، ته به کله ډوډۍ زده کوې، دا هم ډوډۍ ده چي تا پخه کړې ده؟ ته خو په شرم نه پوهېږې، د مېلمنو په مخ کي دي زموږ پزه راپرې کړه.

نجلۍ چي هم خوږېدله او هم شرمېدله د ځان خلاصولو لپاره دا پلمه جوړه کړه چي تنور خراب دی. خوابنې يې زوی ته مخ ورواړاوه او ورته ويې ويل: زويه تنور سم دی، اصلي خبره دا ده چي اوړه يې سم نه وه اغږلي. بيا يې خوابنې په لغاز او پېغور وويل: دا ټمبله تل بېځايه پلمې کوي، اوړه خيشته ميشته کړي، منت پر تناره کړي.

يادونه: دا متل د کندهار او جنوبي پښتونخوا په ښځمنو کي ډېر ويل کېږي. کله چي يو څوک په تېره بيا ښځه ټمبله او يا بې کفايته وي، غواړي چي خپله بې کفايتي پټه کړي او ددې هدف لپاره خپله ملامتيا پر اسبابو او وسايلو ور اچوي، نو نوري ښځې دا متل وايي.[1]

---

(۱) دا کيسه مي په ( ۱۳۹۰ ش ) کال د لينډۍ د مياشتي پر اوومه نېټه د کندهار ولايت، ارغنداب ولسوالۍ د (ده سبزي ) کلي له يوې سپين سري ښځې څخه اورېدلې ده. ( ع، همت )

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اشه اشه بابا اشه، قاضي غلام [1] غوندي غمخور لرې

وايي چي يوه ورځ قاضي غلام له محكمې ښخه كور ته روان و، گوري چي د سماوار مخ ته يو خر تړلی او خورا دروند بار پر تړل سوی دی. د قاضي غلام زړه پر خره وسوځېد او پوښتنه يې وكړه چي دا خر د چا دی؟ يو چا ورته وويل چي خاوند يې په سماوار كي ناست دی. قاضي غلام د خره خاوند را وغوښت او ورته ويې ويل چي ولي ظالمه ! خپله په سماوار كي ارام ناست يې او خر بېچاره دي دومره په تكليف كړی دی؟ كه وايې چي د بار لپاره وي دا هم سمه خبره ده، اوس خو دي خر بې ضرورته په تكليف كړی دی.

د خره خاوند بې ځوابه پاته سو او ستر گي يې كښته واچولې. قاضي غلام پوليسو ته وويل چي دی ونيسئ، د خره بار پر واچوئ او خره ته شپيشتي

---

[1] قاضي غلام محمد چي په قاضي غلام سره شهرت لري په كندهار كي يو ډېر عادل شخصيت تېر سوی دی. دی دومره عادل قاضي و چي دده له لاسه خلكو پر حيواناتو هم ظلم نه سوای كولای. اوس هم په كندهار ښار كي يوه كوڅه دده په نوم يادېږي چي ( قاضي غلام دانه ) يې بولي. دده د عدل او انصاف په باب په كندهار كي خورا ډېري كيسې ويل كېږي.

قاضي غلام محمد د امير شېرعلي خان د پاچهۍ په وخت كي ژوند كاوه او پر عدالت سربېره يې په علم كي هم ډېر شهرت درلود، ان دا چي نامتو عالم او سياستوال علامه سيد جمال الدين افغان به يې كورته راته. ( ع، همت)

(c) ketabton.com: The Digital Library



( ریشقه) ور واچوئ، کله چي خر موړ سو نو بیا له سړي څخه بار لیري کړئ.
پولیسو هم سړی را ونیو او د خره بار یې پر واړاوه. څرنگه چي بار دروند و، نو د سړي مخ سور واوښت او خولې پر راماتي سوې.قاضي غلام ورته وویل چي ځنگه اوس خو پوه سوې چي بار څومره دروند او څومره ځوروونکی دی؟
کله چي سړي توبه وایسته، نو قاضي غلام ورته وویل چي اوس ځه ولاړ سه، خو پام دي وي چي بیا پر خره ظلم و نه کړې. په خلکو کي اوازه گډه سوه چي قاضي غلام یوه سړي ته له خره سره د ظلم په وجه داسي سزار ورکړه، تر دې وروسته د کندهار خلکو انسانان خو څه کوې چي له ډار او وېري یې پر حیواناتو هم ظلم نه سوای کولای.
یوه ورځ یو سړی له خپل بار کړي خره سره کندهار ښار ته ولاړ، تر یوه څه مزله وروسته خر یو ځای ودرېد، خاوند چي یې هر څومره اشه اشه ورته وویل خر بیا هم له ځایه و نه ښورېد، سړي له ډاره خر په لښته نه سوای وهلای، ویل داسي نه وي چي پولیس مي ووینې او قاضي غلام را خبر کړي، اخر یې په کنایه او لغاز خره ته وویل : اشه اشه بابا اشه، قاضي غلام غوندي غمخور لرې. [1]
یادونه: دا متل په کندهار او جنوبي پښتونخوا کي ډېر ویل کېږي. کله چي یو څوک له کومي ستونزي سره مخ سي او مقابل لوری یې په ظاهره کمزوری، خو د

---

(۱) دا کیسه مي په ( ۱۳۸۹ ش ) کال د جدي د میاشتي پر دوولسمه نېټه له ښاغلي سید عبدالحي اغا څخه په موبایل کي اورېدلې ده. ښاغلی عبدالحی اغا د کندهار ولایت، ارغنداب ولسوالۍ د ناگان د کلي اوسېدونکی دی. (ع، همت )

(c) ketabton.com: The Digital Library



پردې تر شا د کومي غښتلي قبيلې، شخص يا حکومت ملاتړ ولري، نو خلک د خپلي ناوسۍ ښوولو لپاره دا متل تېروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# انا مړه سوه تبه یې وشکېده

وایي چي یوه بوډۍ له ډېره وخته راهیسي ناروغه او تل به یې تبه وه، هر څومره دارو درمل چي یې وخوړل جوړه نه سوه. یو چا ددې بوډۍ لمسیانو ته وویل چي انا مو په صندلۍ کي پټه کړئ چي ښه خوله وکړي، که خدای کول همدا خوله یې جوړوي. کله چي لمسیانو انا ته د خولې وویل نو انا ویل زه اوس هم د تبي له لاسه سوځم او تاسي خوله راکوئ؟ لکه چي وژنئ مي که څنګه؟ لمسیانو یې ډېري زارۍ ورته وکړې چي دا کار ستا په خیر دی، په دې ډول جوړ ېږې، نیم ساعت تکلیف پر ځان تېر کړه د تل لپاره به جوړه سې، لنډه دا چي انا یې په دې ډول علاج راضي کړه.

لمسیانو یې انا په صندلۍ کي ښه پټه کړه، دوی د صندلۍ د تلتک ( بړستن) پر څنډو کښېناستل چي هم صندلي یخه نه سي او هم انا له صندلۍ څخه را و نه وځي.انا ډېري نارې وکړې چي د خدای لپاره مړه سوم ایله مي کړئ ، خو لمسیانو یې ویل مه یې ایله کوئ. انا یو څو دقیقې چیغي وکړې، خو وروسته ارامه سوه. لمسیانو سره وویل چي انا ارامه سوه. مشر لمسي یې وویل چي په زوره خبري مه کوئ چي انا ویده سي، دا ډېر وخت دومره ښه نه وه ویده سوې. بس انا یې همداسي په صندلۍ کي پرېښوول او دوی بلي خوني ته ولاړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چي د ډوډۍ وخت راغی، نو یو لمسی ورغی چي انا راویښه کړي، گوري چي انا لکه بانجڼ تکه شنه اوښتې او وختي لا مړه سوې ده. لمسیان یې حیرانۍ واخیستل چي مور، خو ویل انا به په دې ډول جوړه سي دا خو مړه سوه. یو لمسی یې ولاړ چي گاونډیان خبر کړي او نور لمسیان یې سر ته کښېناستل.

په دې وخت کي د انا کوچني لمسي د انا پر تندي لاس کښېښود او مشر ورور ته یې په خوشالۍ وویل: لالا ! د انا تبه وشکېده، دا دی ته یې وگوره بدن یې یخ دی. مشر ورور ته یې درد ورغی او کشر ورور یې یوه کلکه چپلاخه ( ثچپړه ) وواهه او په درد یې ورته و ویل: بدبخته د انا تبه نوره څه کوو؟ انا مړه سوه او ته وایې چي تبه یې وشکېده؟

یادونه:
دا متل په ډېرو پښتني سیمو کي ویل کېږي. کله چي یو کار په ډېري ستوماني او سترېا پای ته ورسېږي او نور نو خلک نه غواړي چي پر دې موضوع بحث کوي، نو دا متل وایي. [1]

[1] دا کیسه مي په کوچنیوالي کي له خپلي مور څخه اورېدلې ده. (ع، همت)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# افسوس شالماره ([1]) پای دي پر ټنډه خره تمام سو

وایي چي یو سوداگر به تل په کندهار کي د شالمار مېلې ته ورته او خورا ښې خاطرې یې ځني درلودې. په دې وخت کي سوداگر د کاروبار لپاره هندوستان ته ولاړ او څو کاله هلته پاته سو، کله چي بیرته کندهار ته راغی نو شپې او ورځې یې شمېرلې چي کله به د شالمار د مېلې وخت راسي چي دی ورسي. هغه و چي د مېلې وخت راغی او سوداگر په پخواني شوق او مینه د شالمار مېلې ته ولاړ، گوري چي د شالمار مېله ځای ډېر کوچنی سوی دی، نه هغه لوبي او ساعتېری سته او نه هم د پخوا په شان ډېر ځوانان لیدل کېدل، یوازي یو څو هلکانو په یوه خړ میدان کي د ( ټنډه خره ) [2]نومي لوبه کوله. سوداگر ډېر خوابدی سو، تر خوله

---

[1] ( ۱ ) شالمار یا شالیمار په کندهار کي یوه تاریخي مېله ده چي د لوی احمدشاه بابا په وخت کي شــروع سوې او اوس یې پایڅوړ ( پاته برخه ) د بابا صاحب مېله نومېږي. بابا صاحب د کندهار ښار شمال ته د یوه صوفي شخصیت زیارت دی. دا زیارت په ( لنگر ) نــومي کلــي کــي جــوړ ســوی چــي د ارغنــداب ولسوالۍ مرکز دی. څرنگه چي د باباولي زیارت هم په دې کلي کي دی، نــو خلــک اوس دا کلــی بابــا صاحب بولي. پخوا به د شالمار مېله څلوېښت ورځي روانه وه چي په نوروز کي به شروع پیل او بیا به یې څلوېښت ورځي دوام کاوه.

[2] ( ۲ ) ( ټنډه خره ) یوه ولسي لوبه ده چي په کندهار او جنوبي پښتونخوا کي رواج لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې سوړ اسوېلی وخوت او ويې ويل: افسوس شالماره پای دي پر ټنډه خره تمام سو. (۳)[1]

يادونه: دا متل په کندهار او جنوبي پښتونخوا کي ډېر ويل کېږي. کله چي يو کار، يو ارزښت او يا يو شخص له خپل برم او عظمت څخه ولوېږي او يا د خلکو په نظر کي سپک سي، نو خلک د افسوس په ډول دا متل وايي.

(۳) دا کيسه مي د (۱۳۹۰ ش) کال د وري د مياشتي پر پنځمه نېټه په کابل کي لـه ښـاغلي فضـل احمد اغا څخه اورېدلې ده. دی د کندهار ولايت، ارغنداب ولسوالۍ د ناگان د کلي اوسـېدونکی دی. (ع، همت)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اوښان بېګار ېدله، ګیدړه هم ځغاسته، ویل پوښتنه نسته

پخوا چي موټر نه و، نو حکومت به د کار لپاره اوښان، فیلان، اسان، خرونه او نور هغه حیوانان بېګارول[1] چي بار یې وړای سوای. یوه ورځ حکومت اوښان بېګار کړي ول، عسکرو چي به هر ځای اوښ لیده، نو هغه به یې نیوه او کار ته به یې استاوه.

ځنګلي او کورني اوښان ډېر وارخطاول، که څه هم حکومت اوښان بېګار کړي ول، خو ټول حیوانان وېري اخیستی و، ویل داسي نه وي چي حکومت د اوښانو سره دوی هم بېګار کړي، لنډه دا چي په سمه، غرونو او ځنګلونو کي منډي ترړي شروع وې، هر حیوان هڅه کوله چي ځان یو ځای پټ کړي.

یوه ګیدړه هم ډېره وارخطا وه او منډې وهلې، یو چا پوښتنه ځني وکړه چي ګیدړي خدای دي یې خیر کړي، ولي دومره وارخطا یې؟ ګیدړي ورته وویل چي حکومت اوښان بېګاروي. سړي په خندا ورته وویل: حکومت خو اوښان بېګاروي، ته ولي داسي وارخطا یې؟ ګیدړي په ناهیلۍ او نا امیدۍ ورته وویل: هی وروره، نه قانون سته او نه پوښتنه، بس ګډوډي ده، داسي نه وي چي یو څوک حکومت تهووایي چي دا هم د اوښ بچی دی، په دې ګډوډۍ کي یې په چا سپینوې چي زه د اوښ بچی نه، بلکي ګیدړه یمه.

[1]: کله چي حکومت له مزدورۍ او امتیاز پرته په زور یو څوک یا د هغه موټر یا بله وسیله کار ته بوځي بېګار بلل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## خپل وطنه، گل وطنه

سړي ته خندا ورغله او پر خپله لاره ولاړ، څو گامه وروسته یو سړی په مخه ورغی، ویل خدای دې خیر کړي ولي خاندې؟ سړي د گیدړي کیسه ورته وکړه، له دې پېښې وروسته چي به کوم سړی بېځایه وارخطا و، نو خلکو به ویل چي: اوښان بېگار بېدله ، گیدړه هم ځغاسته ویل پوښتنه نسته.

یادونه:
دا متل په کندهار او جنوبي پښتونخوا کي ډېر ویل کېږي. کله چي یو څوک ډارن یا بېځایه وارخطا وي، نو خلک دا متل وایي. ([1])

---

[1]) دا کیسه مي په ( ۱۳۶۶ ش ) کال له ښاغلي مولوي عبدالعلي صاحب څخه اورېدلې ده. دی اصـلا د هلمند ولایت د نوزاد ولسوالی و چي هغه مهال د جنوبي پښتونخوا د پنجپای یا محمد خېلو په کیمپ کي اوسېده او د عبدالله بن مسعود (رض) په مدرسه کي د عربي ژبي استاد و. (ع، همت )

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اوبه په اوبو، شیدې په شیدو

وايي چي يوه سړي به په شيدو کي اوبه گډولې او بيا به يې په بازار کي خرڅولې.
يوه ورځ يې شيدې خرڅي کړې، پيسې يې په هميانۍ ( د پيسو کڅوړه) کي واچولې او کور ته روان سو. په لاره کي يې گرمي وسوه او خولې پر راماتي سوې، هم هلته نژدې يوه سيند ته ورغی چي پکښي ولمبېږي او گرمي يې ورکه سي.
هغه و چي کالي يې وايستل او سيند ته ورولوېد. په دې وخت کي يوه بيزو راغله، د پيسو کڅوړه يې واخيسته او د سيند پر غاړه يوې وني ته وخته.
سړي چي هر څه چيغي وکړې چي له بيزو څخه د پيسو کڅوړه واخلي خو گټه يې و نه کړه. بيزو د پيسو کڅوړه خلاصه کړه او پيسې يې راوايستلې، يوه روپۍ به يې د سيند اوبو او بله به يې پر وچه را اچوله، په همدې ډول يې ټولي پيسې له وني څخه راواچولې.
کله چي سړی له سيند څخه راووت نو هغه پاته نيمي پيسې چي بيزو د سيند پر غاړه اچولي وې بيرته راواخيستې، خو ډېره خواشينی و، ويل نيمي پيسې مي له لاسه ووتې. په دې وخت کي يې د ځان خوشالو لو لپاره له ځان سره وويل: څه خير دی، ما خو هم په شيدو کي نيمي اوبه گډې کړې وې، د ابو پيسې ابو يووړې او د شيدو پيسې راپاته سوې، بيا يې وويل: اوبه په اوبو، شيدې په شيدو.[1]

---

[1] : دا کيسه مي د ۱۳۹۲ه ش کال ليندۍ د مياشتي پر نهمه نېټه له لعل بادشاه خيالي څخه په ټيليفون کي اورېدلې ده. ښاغلی خيالي د خيبر پښتونخوا مردان سيمي، خيال اباد د فارم کورونـو اوسـېدونکی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یادونه: دا متل په خیبر پښتونخوا په تېره بیا مردان کې ډېر ویل کېږي. کله چې گټه او تاوان سره پرتله او وروسته یو څه گټه ورته پاته سي نو د ځان ډاډه کولو او خوشاله کولو لپاره دا متل تېروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بد ورور په بده ورځ په کار بېږي

وايي چې د يوه طالب ورور لمونځ نه کاوه، طالب چې به هر څومره نصحيت ورتـه کاوه ورور يې خبره نه منله. طالب به هره ورځ مورته ويل چې دا زما ورور ډېر بـد سړی دی، يو توری لمونځ نه کوي. مور به يې هم ډېر نصـيحت ورتـه وکـړ چـې زويه لمونځ کوه، زوی به يې هغه گړی ښه ورته وويل، خو بيا به يې هم لمونځ نـه کاوه.

يوه ورځ د طالب له يو چاسره جنگ سو، مخالف لوری يې ډېر پر زورور و، طالـب يې را چپه کړ، يو غټ سوټی يې ورته ونيو او داسي کلک يې واهه چې نـارې يـې ټول کلي اورېدلې. دطالب ورور له ليري وليدل چې ورور يې يوچا را غوځـار کړی او ډبوي يې.

بس ده هم سمدلاسه ور وځغاسـتل او هغـه نفـر يـې راونيـو، سـوټی يـې ځنـي واخيست او ښه يې وډباوه. طالب چې راپورته سو او ورور يې وليد، نو له خپل ورور څخه ډېر خوشاله سو، له ځان سره يې وويل: هر څوک يو ځای لري ، بد ورور په بده ورځ په کار بېږي.

يادونه: دا متل په کندهار او جنوبي پښتونخوا کي ډېر ويل کېږي. کله چي چا ته خپل ورور يا کوم بل خپل بد و ايسي او د ښو هيله يې ځني پرې سي، بيا که

(c) ketabton.com: The Digital Library

## خپل وطنه، گل وطنه

نوموړی شخص ده غوندي د بد شخص مخه ونیسي یا په بده ورځ په ښه ورسـي، نو دا متل وايي.[1]

۱) دا کیسه ښاغلي معلم عبدالاحد سرتیف د ( ۱۳۸۹ ش ) کال د لیندۍ د میاشتي پر اوولسمه نېټـه په ایمیل کي رالېږلې ده. دی د کندهار ولایت، ارغسان ولسوالۍ د (سرتیف کـلا) کلـي اوسـېدونکی دی. (ع، همت )

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بې عقل سړی یې دومره په بل نه کوي لکه په ځان

وايي يوې کونډې دوه زامن درلودل چې په ډېر تکليف او خواريو يې لوی کړي وو، کونډې يوه ټوټه ځمکه هم درلوده او د کور ټوله ګوزاره يې په همدې ځمکه کوله، کله چې د ځمکو د حاصلاتو وخت سو، نو دومره ډېر ملخ راپيدا سول چې د اسمان مخ يې پټ کړ.
ټول خلک ځمکو او باغونو ته ولاړل چې له خپلو ځمکو څخه ملخان وشړي. د کونډې زامن چې خبر سول نو د پلار ټوپک يې راواخيست او د خپلي ځمکي خوا ته روان سول، کله چې هلته ورسېدل، نو ګوري چې ملخانو يې نيم فصل خوړلی دی، د کونډې زامنو ته سخت درد ورغی، يوه ورور يې لښته راواخيسته او څو ملخان يې مړه کړل، په دې وخت کي يې يو ملخ څو واره په لښته وواهه خو ځني خطا به سو، اخير يې ټوپک راواخيست او پر ملخ يې څو ټکان وکړل، خو ملخ بيا هم ځني خطا سو، په دې وخت کي هغه ملخ راغی او د ورور پر ځيګر ( ټټر) يې کښېناست، د کونډې زوی خپل ورور ته اشاره وکړه چې دا دی ملخ زما پر سينه ناست دی، هغه هم ټوپک ورته سم کړ چې ډز سو خپل ورور يې وويشت. کونډه چې خبره سوه، نو په چيغو چيغو يې ژړل. کله چې خلک راغلل او د پېښي پوښتنه يې وکړه نو يوه سړي د خپلو سترګو ليدلی حال ورته ووايه، په دې وخت کي يوه سپين ږيري وويل: بې عقل سړی يې دومره په بل نه کوي لکه په ځان.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يادونه:

دا متل په کندهار او جنوبي پښتونخوا کي ډېر ويل کېږي. کله چي يو څوک په خپله گټه او تاوان نه پوهېږي او د گټي پر ځای ځان ته تاوان ورسوي، نو خلک دا متل وايي.[1]

---

(۱) دا کيسه مي د (۱۳۸۸ ش) کال د وږي د مياشتي پر لومړۍ نېټه له ښاغلي عبدالحي څخه چي په حاجي لالا شهرت لري اورېدلې ده. دی د کندهار ولايت، ارغنداب ولسوالۍ د لويي منارې د کلي اوسېدونکی دی. (ع، همت)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ښ که له کوچو هم جوړه سي، خواره دي سي

يوې ښځې ته به تل خپل مېړه ويل چي زه بله ښځه کوم، خو د دې زړه ته نه لوېده چي مېړه دې بله ښځه وکړي، هغه و چي په ډېره بې پروايي به يې مېړه ته ورغبرګه کړه: خدای دي تا دومره نر کړي چي همدا نن بله ښځه وکړې. کله چي به سړي د بلي ښځي نوم ياد کړ نو دې به همدا يوه خبره ورته کوله.
څو کاله تېر سول، خو ښځې اولاد پيدا نه کړ، مېړه يې غوښتل چي د اولاد لپاره بله ښځه وکړي ، پخوا به يې په ټوکو ويل چي بله ښځه کوم، خو اوس يې رښتيا غوښتل چي بله ښځه وکړي، آن دا چي پټ پټ يې پوښتني کولې چي ځان ته نجلۍ خوښه کړي. ښځه چي د مېړه په نيت پوه سوه، نو ډېره وارخطا سوه، کله چي به يې مېړه وويل چي بله ښځه کوم، نو د دې ښه به والوته، اوس يې نو نه هغه د پخوا زړه ورتوب پاته و او نه بې پروايي.
ښځې به شپه او ورځ له ځان سره دا فکر کاوه چي که مېړه يې بله ښځه وکړي د دې به څه حال وي؟ کله به يې ويل چي ښ په ما هيڅ هم نه سي کولای، کله به وېري واخيسته چي که ښ يې پيدا کړه، نو ژوند به يې ډېر تريخ سي. اخير يې له ځان سره وويل چي مېړه يې نن وي که سبا بله ښځه کوي، ښه به دا وي چي دا اوس لا له ښي سره ځان عادت کړي، هغه و چي کوچي ( کوچ ) يې راواخيسته، يوه ناوکۍ ( نانځکه) او يو زوم يې ځني جوړ کړل، پر ناوکۍ يې د خپلي ښي او پر سړي يې د خپل مېړه نوم کښېښود، په ناوي او زوم يې ښايسته کالي واغوستل او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ثنگ پر ثنگ يې سره کښېنول، ځای يې داسي ورجوړ کړ لکه د دوی آئينه مصحف چي وي، چمبه (دايره ) يې راواخيسته او بدلي يې ورته شروع کړې، بس داسي يې وګڼل چي دا زومگی په رښتيا د دې مېړه او ناوکۍ يې بن ده.
په دې وخت کي يې تر خوله يوه لويه چيغه ووته، دايره يې له ځمکي وويشته، د کوچو ثخه جوړه سوې ناوکۍ يې په لاس کي سره ومروړله او په درد يې ورته وويل: بې شرمي تا بل سړيپيدا نه کړ چي زما له مېړه سره دي واده وکړ؟ ته نه وې خبره چي دا سړی زما غوندي ځوانه او ښايسته ښځه لري؟ ستا څه خيال و چي ته به زما له لاسه پر ارامه ژوند وکړې؟ ته ودرېږه زه به اوس درسره جوړه سم. له دې سر ه سم يې د کوچو ناوکۍ راواخيسته او اور ته يې واچوله، کله چي ناوکۍ په اور کي ښه ويلي سوه، نو دې له ځان سره په خندا وويل: بن که له کوچو ثخه هم جوړه سي، خواره دي سي.
يادونه:

دا متل د کندهار او جنوبي پښتونخوا په ښځو کي ډېر ويل کېږي. کله چي يوه ښځه د بني ځيني ښه اړخونه وايي او يا يې هدف دا وي چي ځيني ښې بني هم سته، نو بله ښځه چي له دې نظر سره جوړه نه وي، دا متل وايي.[1]

[1] (۱) دا کيسه مي په ( ۱۳۸۵ ش ) کال له خپلي مېرمني ثخه اورېدلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پکه دا دي لا بله سپکه !

وايي چي يو چا خپل کور ته مېلمانه رابللي ول، په رابلل سويو مېلمنو کي د يوه مېلمه پزه بادو خوړلې وه. کوربه يو زوی درلود چي په سر پک او خورا فسادي او شوخ و. تر مېلمستيا مخکي کوربه زوی ته وويل چي بچيه په مېلمنو کي د يوه مېلمه پر پزه دانه را ختلې ده، پام دي وي چي ډېر ورته و نه گورې، ځکه چي مېلمه شرمېږي او زموږ نوم بدېږي.
هلک هم هغه دم ورسره ومنله، خو کله چي مېلمانه راغلل، نو هلک ورغی چي روغبړ ورسره وکړي. کله چي يې پر هغه مېلمه سترگي ولگېدې چي پزه يې بادو خوړلې وه، نو پلار ته يې مخ راواړاوه او په لوړ اواز يې وويل: پلاره تا خو ماته ويلي وه چي د يوه مېلمه پزه لږ خوږ ده، دا خو بيخي پزه نه لري. په دې وخت کي يې پلار د مېلمنو په مخ کي ډېر سخت وشرمېده، لاسونه يې سره ومروړل او ويې ويل: پکه دا دي لا بله سپکه !

يادونه: دا متل په ډېرو پښتني سيمو کي ويل کېږي. کله چي يو داسي څوک چي له پخوا څخه د ناوړه کارونو له امله مشهور وي او پر خپلي بدنامۍ سربېره يو بل داسي ناوړه کار وکړي چي له خلکو څخه يې پخواني بدکارونه هېر سي، نو خلک دا متل وايي. [1]

[1] دا کيسه د (۱۳۹۰ ش) کال د زمري د مياشتي پر دوولسمه نېټه د سمسور په نوم يو چا زما د فيسبوک پر پته را استولې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په څه ناز مې لويولې راڅه پلن سوې[1]
# ما د باز بچی بللې، خو ته بم سوې

وايي چي يوه شپانه په دښت کي د وحشي مرغه بچی پيدا کړ، شپانه داسي فکر وکړ چي دا د باز بچی دی، هماغه و چي کور ته يې راوړ او په قفس کي يې واچاوه. څرنګه چي باز ښکاريانو په ډېره لوړه بيه اخيست او خورا ډېر ارزښت يې درلود، نو شپانه يې هم خوړو او اوبو ته خورا ډېر پام کاوه.

له دې کلي څخه ليري يو غريب سړی خبر سو چي په فلاني کلي کي شپانه د باز بچی موندلی دی، غريب سړي اورېدلي ول چي باز ښکاريان خورا په لوړه بيه رانيسي، هغه و چي پايځې يې راپورته کړې او د شپانه کلی يې پيدا کړ، شپانه د باز بچی دومره لوړ بيه کړ چي د غريب سړي له وسه پورته و.

غريب سړي د باز رانيولو پيسې نه درلودې خو بيا يې هم زړه نه صبرېده، ويل خدای به کوي او همدا باز به کوي چي زه له دې غريبۍ څخه خلاص سم، هغه و چي په کلي کي کور په کور وګرځېد، څه له خپلوانو او څه له پردو خو اخير يې پيسې برابري کړې او له شپانه څخه يې د باز بچی رانيو. د باز بچي ته يې خورا ډېر پام کاوه، خپله خواري او غريبي ځني پاته وه، بس شپه او ورځ به يې د باز د بچي پالنه او روزنه کوله.

---

[1] : راڅه ياني راڅخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## خپل وطنه، گل وطنه

د باز بچی چي لږ غټ سو، نو رنګ يې ( بم ) ته ورته و، غريب سړي ويل خير اوس لا بچی دی، سم نه معلومېږي، خو کله چي باز ښه غټ سو کټ مټ بم و، ټولو خلکو وويل چي دا بم دی. غريب سړي چي دا حالت وليد، نو په ژړا يې پيل وکړ او پر سر يې خاوري باد کړې، ويل زما خو ژوند برباد سو، زه به د خلکو پورونه څنګه ور ادا کوم. په دې وخت کي يې زړه راډک سو او له درده يې بم پر ځمکه وويشت، ښه يې پر کښېښوولو او په درد يې وويل: په څه ناز مي لويولې راځه پلن سوې - ما د باز بچی بللې، خو ته بم سوې.

يادونه:
دا متل په کندهار کي ويل کېږي. کله چي يو څوک له چا سره ډېر زيار وګالي او دا هيله لري چي سبا به يې زيار ښه حاصل ورکړي، خو بر عکس ټولي خوارۍ يې اوبه يوسي او ګټه و نه کړي، نو خلک دا متل وايي.[1]

[1] دا کيسه مي په ( ۱۳۶۵ش ) کال له ارواښاد ولسوال محمد عمر خان څخه اورېدلې ده. دی د کندهار ولايت، ارغنداب ولسوالۍ د ناګان د کلي اوسېدونکی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پردی کټ تر نیمو شپو وي

وايي چي يوه پاچا يوه مينځه درلوده، دا مينځه به له پاچا سره په ماڼۍ كي اوسېده، پر نورو كارو سربېره يې يو كار دا و چي د پاچا د خوب خونه به يې ورسموله. يوه ورځ پاچا په دربار كي مېلمستيا جوړه كړې وله چي خورا ډېر مېلمانه يې رابللي ول. په دې شپه مينځه ډېره ستړې سوې وه، بې له دې چي د پاچا د خوب پالنگ ور سم كړي خوب يووړه، له ډېري ستړيا څخه د هډوكو په درد راويښه سوه، په دې وخت كي يې پام سو چي د پاچا د خوب پالنگ يې نه دی ورسم كړی، په منډه ولاړه او د پاچا د خوب پالنگ يې ورسم كړ، نور يې نو په غړو كي سېک نه و پاته، بس همالته خوب يووړه.

مينځي په ټول ژوند كي پر داسي پاسته پالنگ خوب نه و كړی، كلونه كلونه يې دا ارمان درلود چي په پالنگ كي خوب وكړي، خو نن چي د پاچهۍ پر ښكلي او پاسته پالنگ پرېوته، نو ښه په درانه خوب ويده سوه.

په دغه شپه پاچا تر ډېره وخته پوري له مېلمنو سره ناست و، كله چي د خپل خوب كوټې ته راغی، نو گوري چي پر پالنگ يې مينځه ويده ده. پاچا چي مينځه وليده، نو له درده سور او شين سو، شلاخه ( متروكه ) يې راواخيسته او بې له دې چي مينځه له خوبه راويښه كړي همداسي په خوب كي يې پر پښو څو شلاخي ووهله، ويل ته اوس دومره بې شرمه سوې چي زما په پالنگ كي ويدېږې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## خپل وطنه، گل وطنه

مينځه بېچاره له يوې خوا د پاچا چيغو او له بلي خوا د شلاخو درد له خوبه راويښه کړه، کله چي يې وليدل چي دا د پاچا په کټ کي پرته او پاچا يې څنگ ته ولاړ دی، نو له وېري يې ښه والوته او بدن يې ر ږېږد واخيست، د پاچا درد وار په وار ډېرېده، مينځه يې تر وېښتانو ونيوله او په کشولو کشولو يې له کوټې وايسته، مينځه چي له يوې خوا سخته وارخطا او له بلي خوا په زړه کي ډېره پښېمانه وله له ځانه سره وويل: پردی کټ تر نيمو شپو وي.

يادونه:
دا متل تقريبا په ټولو پښتني سيمو کي ويل کېږي. کله چي يو څوک له پردو سره ملگری وي او هغه يې په نيمه لاره کي پرېږدي او ناځواني ورسره وکړي، نو خلک دا متل وايي.[1]

[1] دا کيسه مي په (١٣٩٠ ش) کال د جدي د مياشتي پر څوارلسمه نېټه په کابل کي لـه ښـاغلي معلـم هستي محمد څخه اورېدلې ده. دی د کندهار ولايت، ارغنداب ولسوالۍ د ناگـان د کلـي اوسـېدونکی دی. (ع، همت)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پور چې ځنډنی سي، خوړنی سي

وايي چې په پخوا وختو کې د يو چا پر يوه نفر پور باندې و، د پور څښتن څو ځله خپل پور وغوښت، خو پوروړي به هر ځل ورته ويل چې پيسې نه لرم، ډېر وخت تېر سو خو پوروړي بيا هم پيسې پيدا نه کړې. يوه ورځ بيا د پور څښتن د پوروړي دروازه ور وټکوله، پوروړی چې له کوره را ووت، نو د پور څښتن په درد ورته وويل: بس ده ډېر مي درته وکتل، نور صبر نه سم کولای، نن به مي خامخا خپل پور راکوې.

پوروړی نه پوهېده چې څه وکړي، له يوې خوا د پور څښتن نه پرېښوده او له بلې خوا يې پيسې نه درلودې، اخير يې د پور خاوند ته وويل چې سمه ده راځه پور دي درکړم. هغه و چې پوروړی دمخه او دپور خاوند د شا له خوا ورپسې روان سو، تله تله تله چې اخير د يوه لوی سيند غاړې ته ورسېدل.

د پور څښتن وويل چې دلته څه کوې؟ پوروړي وويل: پيسې راسره نسته او ته مي هم نه پسې پرېږدې، اوس غواړم ځان سيند ته واچوم چې له پوره دي بېغمه سم، له دې خبري سره سم يې د سيند پر خوا منډه کړه. د پور خاوند چې دا حال وليد ،نو په پوروړي پسي يې منډه کړه، تر لاس يې ټينګ ونيو او ورته ويې ويل: وروره خير دی نيم پور به درپرېږدم، خو ځان سيند ته مه ور اچوه. پوروړي هم ورسره ومنله او دواړه بيرته د کلي پر خوا روان سول.

په لاره کې د پور څښتن په ارامه ورته وويل: دا دی نيم پور خو مې در پرېښود، اوس دا راته ووايه چې پاته نيم پور مي کله راکوې؟ پوروړي کټ کټ وخندل او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ويې ويل: ته ولي دومره وارخطايې، پاته نيم پور به دي هم دغسي ژر در کړم لکه دا نيم نور چي مي درکړ. د پور خاوند چي د پوروړي خبره واوريده، نو ډېر ناهيلی سو، نور يې زړه ته نه لوېده چي پيسې دي يې په لاس ورسي، په خواشــينۍ يــې وويل: پور چي ځنډنی سي، خوردنی سي.

يادونه:
دا متل په کندهار او غزني ولايتونو کي ډېر ويل کېږي. کله چي پور وځنډېږي او يا پوروړی له پور څخه نټه ( انکار) وکړي، نو خلک دا متل وايي. [1]

[1] دا کيسه مي له ښاغلي محمد انور اندړ څخه اورېدلې ده. دی د غزني ولايت، اندړو ولسوالۍ د ( پاينده) کلي اوسېدونکی دی. اندړ صاحب (خوردنی ) ويلی، خو استاد سليمان لايق وايي چي مور يې خــوړنی وايو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پیشو تر هغو شیخه چي پر مږه نه وي پېښه

وايي چي په یوه کنډواله کي ځو مږو او موږکانو ژوند کاوه، یوه ورځ یوه پیشي د کنډوالې پر دېوال تېرېده چي د مږو او موږکانو بوی یې تر سږمو سو، کله چي کنډوالې ته ورکښته سوه، نو د موږکانو او مږو ګڼه ګوڼه یې ولیده، پیشي له خوشالیه باغ باغ سوه، بس همدلته یې ورته واړوله، هره ورځ به یې مږي او موږکان خوړل او خورا ساعت یې تېر و.

مږي او موږکان له پیشي څخه ډېر تنګ سول، ټول په غارونو کي پټ سول، تر څو چي بیخي مجوره سوي نه وای نو له سوړو څخه نه راوتل، په دې وخت کي پیشي ډېره وږې سوه، هر څه چي یې وکړه نو موږکان او مږي یې له غارونو څخه نه سوای را ایستلای، اخیر یې له ځان سره یوه نقشه جوړه کړه، په کنډواله کي یې په زوره ناره کړه چي اې مږو او موږکانو ! زه ستاسي ټولو څخه ډېره بخښنه غواړم، ستاسي ډېر خپلوان مي وخوړل او تاسي مي ډېر وځورولاست، خو نور مي توبه ده، بیا به تر مرګه پوري دا کار و نه کړم، که باور نه کوئ نو راسئ وګورئ چي زه ربښتیا وایم او که درواغ؟

په دې وخت کي یو موږک په ډېر احتیاط له غاره راووت، ګوري چي پیشي اوږدې تسبیح په غاړه کړي او د عبادت په ډول خوله ښوروي، موږک یې کرار مخ ته تېر سو، خو پیشي ګردسره ورته ګوري هم نه، موږک ولاړ او نورو موږکانو ته یې وویل چي پیشي خو ربښتیا زموږ له خوړلو څخه توبه ایستلې ده، دا دی ماته یې څه و نه ویل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## خپل وطنه، گل وطنه

له دې خبرې سره سم څو موږکان له غارونو څخه راووتل او د پیشي مخ ته ودرېدل، پیشي په خپل عبادت داسي بوخته ده چي موږکانو ته بیخي گوري هم نه. موږکانو چي دا حالت ولید نو ولاړل او مږي یې خبري کړې، ویل هلئ راووځئ، پیشي شیخه سوه، نور په موږ کار نه لري.

مږو چي دا خبره واورېده نو یوه مږه له سوړي راووته او پیشي ته نژدې سوه، گوري چي پیشي ورته گوري هم نه، مږه ولاړه او نوري مږي یې خبري کړې چي راووځئ، نور به ارام خپل ژوند کوو، پیشي شیخه سوه، نور موږ نه خوري. له دې سره سم ټولي مږي له سوړو څخه راووتې او له خوشالیه یې د پیشي مخ ته اتڼ واچاوه.

پیشي چي ورته وکتل نو یو دم یې پر مږو ورټوپ کړه، څرنگه چي مږي له خپلو غارونو څخه ډېري لیري راغلي وې، نو ځانونه یې بیرته غارونو ته نه سوای رسولای، پیشي پر مږو ډېره سخته حمله وکړه، اکثره مږي یې ونیولې او یا یې ټپیاني کړې. په دې وخت کي دوې مږي چي ټپونه یې کوچني وه ځانونه غار ته ورسول، یوې مږي بلي ته وویل: پیشو تر هغو شیخه چي پر مږو نه وي پېښه.

یادونه:

دا متل په خوست، پکتیا او پکتیکا ولایتونو کي ډېر ویل کېږي. کله چي یو څوک له نه وسه ځان ښه سړی بولي او بیا چي پر بدو کارونو وس پیدا کړي او له دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره سر ه چي ځان ته ښه سړی وايي بد کار ته لاس واچوي، نو خلک دا متل وايي.[1]

---

[1] دا کیسه مي د ( ۱۳۹۱ ش ) کال د جدي د میاشتي پر لسمه نېټه په کابل کي له یوه ټکسي چلوونکي گل میر څخه اورېدلې ده. ښاغلی گل میر اصلا د خوست ولایت، تڼيو ولسوالۍ د حصارک د کلـي دی، خو اوس په کابل کي اوسېږي
(ع، همت )

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ترکاڼي د بيزو کار نه دی

وايي چي يو ترکاڼ ( نجار) په کلي کي دوکان درلود، دی به په هفته کي يو وار ځنگله ته ولاړ او هلته به يې وني اره کړې او بيا به يې دوکان ته راوړې. يوه ورځ يې په ځنگله کي د يوې لويي وني تنه اره کوله، څرنگه چي د وني تنه لويه او لنده وه، نو ترکاڼ يې ډېر ستړی کړ، کار يې بس کړ او گوښه د يوې وني تر سيوري لاندي ويده سو.

په دې وخت کي يوه بيزو چي لوړه په ونه کي ناسته وه او د اره کولو ننداره يې کوله، کله چي ترکاڼ ويده سو، نو بيزو راکښته سوه او د وني د تنې په اره کولو يې پيل وکړ. د بيزو پام نه و چي لکۍ يې د لرگي د کوندې په هغه چاوده کي لوېدلې ده چي نجار هلته فانه وهلې ده، په دې وخت کي يې پښه له فانې ( آغاز) سره ولگېده چي ترکاڼ د اره سوي ځای په چاک کي ورکړې وه، له دې سره سم د کوندې دوې پلې سره ومښتې او د بيزو لکۍ کلکه پکښې بنده سوه.

بيزو چي هر څومره زورونه ووهل چي د لرگي له کوندې څخه خپله لکۍ راخلاصه کړي، خو وس يې و نه رسېد، هغه و چي له ناچاريه يې په چيغو پيل وکړ، په دې وخت کي ترکاڼ د بيزو په چيغو له خوبه راويښ سو او په منډه د بيزو خوا ته راغی، گوري چي د بيزو لکۍ د لرگي په کونده کي ټينگه مښتې ده.

ترکاڼ بيزو ونيوله او په قفس کي يې واچوله، په دې وخت کي ترکاڼ د قفس څنگ ته کښېناست او په خندا يې بيزو ته وويل: ای بې عقلي بيزو ! ايا تا غوښتل چي ترکاڼي وکړې؟ ته بايد پوه سې چي ترکاڼي د بيزو کار نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یادونه:

دا متل تقریبا په ټولو پښتني سیمو کي ویل کېږي. کله چي د اهلیت او کاري کفایت خبره یاده سي یا یو څوک د یو کار اهلیت نه لري او کار خراب کړي، نو خلک دا متل وايي.[1]

[1] دا کیسه مي په (۱۳۷۵ ش) کال د جنوبي پښتونخوا د پنجپای یا محمد خیلو په کیمپ کي له ارواښاد قاري عبدالرزاق څخه اورېدلې ده. دی د کندهار ولایت، ارغنداب ولسوالۍ د لویي منارې د کلي اوسېدونکی و. (ع، همت)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# توپ بې تره کي (١) نه راګرځي

وايي چي کله انګرېزانو لومړی وار پر افغانستان تېری وکړ، نو د نورو ولايتونو په شان په غزني کي هم پښتنو بريدونه ورباندي وکړل، په دې جګړه کي ډېر انګرېزان مړه سول، لښکر يې تارونار سو او يوې او بلي خوا ته يې په تېښته پيل وکړ، خو يوې ټولۍ انګرېزانو ډېر سخت جنګ کاوه، پښتنو چي هر څه بريدونه ورباندي وکړل ګټه يې نه کوله، د دې ټولۍ مخ ته يوه لوړه غونډۍ وه چي پر سر يې توپ ولاړ و، دا چي له پښتنو سره توپ نه و او يوازي يې په توره، ټوپک او ببلچې جګړه کوله، نو له توپ سره جنګ کول ډېر سخت کار و، تر څو چي به پښتنو ځوانانو تر انګرېزانو پوري ځانونه ور رسول، نو توپ به پرله پسې ډزي ورباندي وکړې او پښتانه به يې کنډ و کپر کړل.

په دې وخت کي پښتانه پوه سول چي تر څو مو د توپ غونډۍ نه وي نيولې، انګرېزان نه سو ماتولای، هغه و چي يوې ډلي ځوانانو د توپ پر غونډۍ ورمنډه کړل، توپچي چي کله ځوانان وليدل چي د دوی خواته منډي وروهي، نو پر هغوی يې پرله پسې ډزي شروع کړې چي په ډزو کي ټول ځوانان ټپيان او يا ووژل سول.[1]

[1] ( تره کی ) د غلجي پښتنو يوه مشهوره قبيله ده چي لويه برخه يې په غزني ولايت کي اوسېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



توپچي فکر وکړ چې ټول پښتانه يې ووژل، بس زړه يې ډاډه سو او پام يې بلې خوا ته واړاوه. په دې ځوانانو کې يو تره کی ځوان هم و، دا ځوان که څه هم ټپي و، خو په ټپي ځان راپورته سو او ځان يې د توپ غونډۍ ته ور ورساوه، انګرېز توپچي يې تر غاړه ونيو او ويې واژه. کله چې نور انګرېزان پوه سول چې د توپ غونډۍ يې له لاسه ووته، نو په تېښته يې پيل وکړ.
کله چې پښتانه سره راټول سول، نو دا سوبه او بريالیتوب يې د تره کي ځوان د مېړاني او زړه ورتوب برکت وباله. کله چې انګرېزان دوهم وار افغانستان ته راغله نو د غزني پښتانه د خپل ځان د ساتني لپاره بیا سره راټول سول، د جرګې يوه سپين ږيري وويل چې په دې کار کي د تره کو ملګرتوب ضروري دی، ځکه چې توپ بې تره کي نه راګرځي.

يادونه:
دا متل په غزني ولايت کي ډېر ويل کېږي. کله چې يو څوک د يو کار وړتيا او اهليت ولري او يا يې يو کار پخوا په ښه ډول تر سره کړی وي او نوموړي شخص ته يو ځل بيا اړتيا پېښه سي او يا د يو کار لپاره يو شخص وړ او مناسب وګڼل سي، نو خلک دا متل وايي.[1]

[1] دا کیسه مي په ( ۱۳۹۰ ش ) کال د غوايي د مياشتي پر اتلسمه نېټه له ښاغلي ومان نيازي څخه اورېدلې ده. ښاغلی نیازی د غزني ولايت د اندړو ولسوالۍ د ( شمشی) د کلي اوسېدونکی دی. نیازی صاحب وايي چې دا کیسه يې له ښاغلي جانان پهلوان څخه چې اوس په کوټه کي اوسېږي اورېدلې ده. (ع، همت )

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ځان يې زړو جامو کې جوړ کړ

# لکه په وران کلي کې باغ د ګلو وينه

وايي چې يو سړی ډېر غريب و، اولاد يې نه درلود، بس يوازې دی او مېـرمن يـې سره اوسېدل، خو بيا هم په وچه ډوډۍ نه وه ماړه. سړی به سـهار غـره تـه ولاړ، بوټي به يې راوړل او بيا به يې په ښار کې خرڅ کړل، په کومه ورځ چې به بـاران و او يا به هوا ډېره سړه وه نو غره ته نه سوای تلای، هماغه و چې په هغه شپه به دی او مېرمن يې وږي ويده سول.

ددې سړي مېرمن ډېره ښايسته وه او پر ده هم دومره ګرانه وه چې زړه يې ورسره ډوبېده. يوه ورځ يې مېرمني ورته وويل چې سړيه نن زموږ په کلي کې واده دی، که ستا اجازه وي زه به هم ورسم. غريب سړي ويل سمه ده ولاړه سه.

ښځه واده ته ولاړه، په واده کې يې وليده چې نورو ښځو نـوي او ښايســته کـالي اغوستي دي، خو ددې کالي زاړه او پينه پينه دي، د ښځو چې د دې زړو کالو تـه پام سو پر راټولي سوې او ملنډې يې په وهلې، وار په وار د ښځو ورته پـام کېـده، غريبې ښځې تر يو وخته څه و نه ويل، خو وروسته يې زړه تنګ سو او پـه چيغـو چيغو له واده څخه ووته.

د غريب سړي ښځه همداسي په ژړا کور ته راغله او د مېړه په غاړه کې ور ولوېده، ويل زموږ غريبي به تر کله وي؟ ډېري لوږې او تندې مې وګاللې څه مې و نه ويل، خو د کلي د ښځو سپکې خبرې او ملنډې نه سمه زغملای، نن د واده ښځو په ما

(c) ketabton.com: The Digital Library



دومره ډرۍ او ملنډي ووهلې چې تر مرگه به مې هېرې نه سي، له شرمنده گیـه نه ځمکه چاودله او نه زه په ننوتلمه، ټولو ښځو نوي کالي اغوسـتي ول، خـو زمـا کالي نوي خو هلته پر بېړده بیخي خیري او پینه پینه ول، هر ډول چې کېـږي مـا ته به یوه جوړه نوي کالي رانیسې.

غریب سړي چې خپلې گرانې مېرمنې ته وکتل، نو زړه یې وربانـدي تـور کبـاب سو، خو هیڅ یې له وسه پوره نه وه، نه پیسې ورسره وې چې هغې ته نوي کـالي واخلي او نه یې د هغې اوښکو ته ځان ټینگولای سوای، تر خوله یـې یـو سـوړ **آه** وخوت او پر مخ یې اوښکي راماتي سوې. ښځې چې د مېړه اوښکو ته وکتـل، نـو ژړا یې په ستوني کي وچه سوه او خبري یې بس کړې.

په دې وخت کي سړي ته خپله مېرمن تر پخوا ډېره ښایسه و ایسېده، بله لار یې نه درلوده، همدا یوه لاره ورپاتـه وه چـي هغـې تـه پـه خپـل ښایسـت د زړه ډاډ ورکړي، لومړۍ یې خپلې او بیا یې د مېرمنې اوښکي ورپاکي کړې، وروسـته یـې په ناز ورته وویل: اې زمـا گرانـې ! ښایسـته ښـځه چـي نـوي او ښایسـته کـالي واغوندي په کالو کي یې ښایست نه معلومېږي، ټولـو ښـځو یـو د بـل کـالو تـه ستر گي نیولي وي، ستا ځان ته پام دی کنه؟ ستا ښایست په ټول کلي کي نسته، ستا د ښایست اوازې په کلي کي خو څه کوې چې تر ډېر لیري لیري ځایه پوري تللي دي، ته په همدې زړو جامو کي ډېره ښه ایسې. په واده کـي د ښـځو کـالي ښایسته وه، خو ته خپله ښایسته وې، ته اصلا نه یې پوهېدلې، ښځو لـه کسـت او کینې څخه پر تا خندل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## خپل وطنه، گل وطنه

ښځې بیا هم خبري نه کولې او همداسې په حیرانۍ یې د مېړه خبرو ته غوږ نیولی و، سړي داسې فکر وکړ چې ښځه یې ورباندې پوه سوه چې دی هغې ته دروا‌غ وایي، سترګې یې بلې خوا ته واړولې او له ځان سره یې دا لنډۍ زمزمه کړه:

ځان یې زړو جامو کې جوړ کړ - لکه په وران کلي کې باغ د ګلو وینه.

یادونه:

دا متل په خیبر پښتونخوا کې ویل کېږي. کله چې یو څوک له معنوي پلوه غني وي او یا له رنګه ښکلی وي، خو په جامه خوار او ډېر بېوزله وي او یا خلک یې په قدر چندان نه پوهېږي، نو خلک د نوموړي شخص د ډاډګیرنې لپاره دا متل وایي. [1]

---

[1] دا کیسه مې په (۱۳۷۶ش) کال د پېښور له مشهور طناز او دیني عالم ارواښاد (مولانابجلي ګـر) څخه د یوې ثبت سوې فیتې له لارې اورېدلې ده. (ع، همت)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ځوک چې زورور سي، نو عقل مرور سي

وايي چې يو تجارتي کاروان يوه ليري وطن ته روان و، له دې کاروان سره يو ډېر مشهور عالم او يوه سړی هم ملگری و. په لاره کي د کاروان مخه غلو ونيوله، د کاروان ساتونکي يې ووژل او کاروان يې لوټ کړ، غلو نه يوازي دا چې مالونه يې غلا کړل، بلکي کاروانيان يې هم ډېر سخت ووهل او پر دې سربېره يې خورا سپک هم کړل.
په دې وخت کي يوه سړي عالم ته وويل چې ستا قربان سم ته خو ډېر پوه سړی يې او ټول خلک دي پېژني، ته دې غلو ته يو څه نصيحت وکړه، مالونه خو يې راڅخه واخيستل اوس دي مو‍ږ پرېږدي چې خپلو کورونو ته ولاړ سو. عالم ورته وويل چې تاسي يې وينئ چې هغوی غله دي، زه غلو ته څنگه نصيحت وکړم؟
خلکو ورته وويل چې تاسي خو ډېره ښه ژبه لرئ او خدای ډېره پوهه درکړې ده او غله هم انسانان دي او عقل لري، که ستاسي خبري واوري خامخا يې مني، که مالونه بيرته نه راکوي نو موږ خو دي پرېږدي.
يوه سړي ورته وويل چې انسان هغه وخت انسان وي چې په ژوند کي له عقل څخه کار اخلي ، کله چې عقل ته شا کړي او د عقل پر ځای پر زور تکيه وکړي بيا نو انسان نه دی، سړی خو هغه چا ته نصيحت کوي چې د هغوی عقل کار کوي، اوس له دې غلو څخه عقل مررور دی، ځوک چې زورور سي، نو عقل مرور سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## خپل وطنه، گل وطنه

یادونه:

دا متل په کندهار او جنوبي پښتونخوا کي ډېر ویل کېږي. کله چي یو څوک د خپل واک او زور له امله عقل او منطق تر پښو لاندي کړي او د خلکو په څورولو پیل وکړي، نو خلک دا متل وایي.[1]

[1] دا کیسه مي په ( ۱۳۶۵ ش) کال د جنوبي پښتونخوا پنجپای ( محمد خېل ) کیمپ کي لـه اروابښـاد مولوي عبدالحلیم صاحب څخه اورېدلې ده. نوموړی اصلا د کندهار ولایت، ژیړۍ ولسوالۍ د سنځري کلي اوسېدونکی و. (ع، همت )

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څوک چي کوَر خوري، سر به هم خوري[1]

وايي چي په يوه دېره ( کوټه ) کي د توت لوړي وني وې چي د انګورو په تاکونو ( سپارتاک) پوښل سوي وې. د سپارتاک په سر کي لړ انګور پاته ول، ډېرو خلکو کوښښ کړی و چي دا انګور راوشکوي خو له وسه يې پوره نه ول.

د مني اخيري شپې وې او د ځمکي ټول انګور خلاص سوي ول. يوه زلمي غوښتل چي د توت وني ته ور وخېژي او کور ياني انګور راوشکوي. په حجره کي ناستو خلکو ورته وويل چي هلکه مه کوه انګور ډېر لوړ دي، داسي نه وي چي راولوېږې او خدای مه کړه لاس، پښه او يا مغزی دي مات سي. هلک د خلکو خبره و نه منله او د انګورو لپاره د توت وني ته وروخوت.

هلک کوښښ وکړ چي په لوړو څانګو کې د انګورو وږيو (ځوندېانو) ته ځان ورسوي او راو يې شکوي، په دې وخت کي د توت هغه نرۍ څانګه چي ده لاس ورپوري نيولی و ماته سوه او هلک له وني څخه راولوېد، سر يې پر يوې ډبري ولګېد او وروسته د همدې ټپونو له امله مړ سو. د جنازې پر مهال خلکو افسوس کاوه چي هلک ځوانيمرګ سو، يوه سپين ږيري چي هلک يې له دې کاره منع کاوه د کنايې او لغاز په ډول وويل: بس نو څوک چي کور خوري، سر به هم خوري.

---

[1] : د کونړ ولايت او خيبر پښتونخوا د ځينو سيمو خلک انګورو ته ( کوَر ) وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## خپل وطنه، گل وطنه

یادونه:

دا متل په کونړ ولایت او خیبر پښتونخوا په ځینو سیمو کي ډېر ویل کېږي. کله چي یو څوک ډېر (اورګډی) او (اور پړاندی) وي او په لوی لاس ځان په خطر کي اچوي او بیا سر بایلوي، نو خلک دا متل وایي. [1]

---

[1] دا کیسه ښاغلي ډاکټر فرید بزګر د (۱۳۸۹ ش) کال د لیندۍ د میاشتي پر اته ویشتمه نېټه په ایمیل کي رالېږلې ده. دی د کونړ ولایت، نرنګ ولسوالۍ د چارقلعه کلي اوسېدونکی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# چې دود وي، هلته سود وي

وايي چې يو وخت د ژمي په موسم کې زابل ولايت ته يو مامور را تبديل سوی و. مامور غوښتل چې خپله کډه هم رابار کړي او په زابل ولايت کې واړوي. مامور د وظيفې په لومړۍ ورځ يوه ځايي سړي مېلمه کړ.

مامور کور ته په لار ه کې له ځايي سړي څخه د سيمې په اړه پوښتني گروېږني پيل کړې، ويل دلته ژوند څنگه دی؟ که زه کور او ماشومان راولم دلته به گوزاره وکولای سم کنه؟ ځايي سړی چې څومره پوهېده مامور ته يې د سيمې په باب معلومات ورکړل. کور ته چې ورسېدل، نو کوربه مېلمه د کور يوې خونې ته بوت چې نيمه برخه يې تاوخانه او نېمه پاته برخه يې د اوسېدو لپاره جوړه سوې وه، د خونې تيران او دېوالونه د اور بلولو له امله تک تور اوښتي ول.

مامور چې خونې ته وکتل نو نه يوازې دا چې په سيمه کې اوسېدل ورته گران معلوم سوه، بلکې دې ته يې هم وارخطا سو چې دا يوه شپه به څنگه تېر بېږي؟ څرنگه چې هوا ډېره سړه وه، نو د کور خاوند وغوښتل چې تاوخانه توده کړي چې مېلمه يخ و نه وهي. مېلمه چې د خونې تورو دېوالونو او خيرنو پردو ته وکتل نو تر دود يې يخني ښه وگڼله او د کور خاوند ته يې وويل چې يخني مې قبوله ده، خو دود نه سم زغملای.

د کور خاوند هم د مېلمه پالني له امله پر خپله خبره ټينگار و نه کړ او له اور بلولو تېر سو. يوه شيبه وروسته مېلمه د يخنۍ له امله رېږد واخيست، هر څه چې يې ځان ټينگ کړ بيا يې هم تر وس تېره سوه، د کور خاوند ته يې وويل چې ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساړه دي، دود خير دی اور بل کړه. د کور خاوند هم سمدلاسه اور بل کړ چې له دې سره سم خونه له دوده ډکه سوه. مېلمه تر يوه مهاله ځان دود ته ټينګ کړ، خو وروسته يې ډېر زړه تنګ سو او د کور خاوند ته يې وويل: دا خو ډېر بد دود دی، تاسي څنګه په دې ډول ژوند تېروئ؟ د کور خاوند ورته وويل: ورو‌ره موږ په همدې دود ژوندي پاته يو، هر چېري چي دود وي، هلته سود وي.

يادونه:

دا متل په زابل، غزني او نژدې سړو سيمو کي ډېر ويل کېږي. په کومه سيمه کي چي واوره اوري او هوا يې سړه وي نو اور بلول د ژوند چاري اسانه کوي او خلکو ته ګټه رسېږي، کله چي يو يخ وهلی سړی اور ته کښېني او تود سي، نو د اور ګټې او فايدې په دې متل سره بيانوي.[1]

[1] دا کيسه مي د( ۱۳۸۹ ش ) کال د ليندۍ د مياشتي پر دوه ويشتمه نېټه له ښاغلي هدايت الله فيضي څخه په تيليفون کي اورېدلې ده. دی د زابل ولايت د کلات ښار اوسېدونکی دی. (ع، همت )

(c) ketabton.com: The Digital Library



# چې مېږونه وي، هلته کورونه وي

وايي چې يو کال خورا ډېره واوره واورېده، لارې او کوڅې بندې سوې، ډېر کورونه تر واورو لاندې سول، ډېرو خلکو ته د سر او مال تاوانونه ورسېدل. ژمی هــر ډول چې و تېر سو او پسرلی راغی، د پسرلي نهه ورځې هم تېرې ســوې، خلـک ډاډه سول چې اوس به نو نوره واوره نه کېږي. د غزني ولايت په يوه ليرې کلي کې يو سپين ږيری اوسېده. دی ډېر تجربه کار او له موسم سره ښه بلد و، ده لس ځوانان زامن درلودل او ښه يې روزلي ول چې دده له خبرې هيڅ نه اوښتل.

سهار مهال و، سپين ږيري اسمان ته وکتل، اسمان تک شين و، يوه زوی تــه يــې وويل: زويه ولاړ سه د هاغه غونډۍ پر سر ودرېږه، شاوخوا وګوره چې پــر اســمان وريځ ښکارېږي که نه؟ زوی يې ولاړ او پر غونډۍ ودرېد، شا وخوا يې څار وکــړ او بيرته راغی، پلار ته يې وويل چې بابا ډېر ليرې يوه لوېشت سپينه ورځ ښکاري.

سپين ږيري زامنو ته وويل چې دا وريځ خطرناکه ده، زمـا تجربــه دا ده چــې نــن واوره کېږي او دا واوره به ډېره خطرناکه وي، نن کارونو ته مه ځئ او پر کور پاتــه سئ. بيا يې وويل چې په غوجل کې ولاړ غويی حلال کړئ چې پوخ يــې کــړو. د کور ټول لويان او کوچنيان يوې کوټې ته راولئ او کوټه ښه توده کړئ. نورو زامنو ته يې وويل چې تاسې د واورې پاکولو سامانونه تيار کړئ، پنډې جامې واغوندئ او ځانونه د واورې پاکولو ته چمتو کړئ.

زامنو يې هم د پلار خبره ومنله، هر څوک په خپل کار پسې روان سول. د کلــي خلکو وويل چې د سپين ږيري او د هغه د زامنو ماغزه خراب سوي دي، هسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېځایه له واوري ډارېږي، په دې شنه اسمان او پسرلي کې به واوره له کومه سي؟ کليوال له خپلو کورونو را ووتل، هر څوک په خپل کار پسې ولاړل.
یوه لوېشت وریځ ورو ورو پسي ډېرېده او اخیر یې د اسمان مخ پټ کړ، لږ شیبه وروسته واوري په اورېدو پیل وکړ. هغه خلک چي په کورو کي پاته وه نه یې د واوري لپاره چمتووالی درلود او نه یې هم د سونګ لپاره بوټي او نور ضروري شیان درلودل. واوره ډېره چټکه او غټه غټه اورېده، هغه ځوانان چي له کلي څخه لیري تللي ول دا موقع یې پیدا نه کړه چي بیرته خپلو کورونو ته راسي.
په لږ وخت کي واوري کوڅې او لاري بندي کړې، واوره وار په وار پسي ډېرېده، داسي وخت هم راغی چي واوره د کورونو تر دروازو پورته سوه، د سپین ږیري زامنو به په نوبت سره له بامو څخه واوره پاکوله، کله چي به ستړي سول او یا به یې ساړه وسول، نو هغې کوټې ته به راغله چي دیګ پکښي باندي و. له دیګ څخه به یې غوښه را وایسته او وبه یې خوړه، په همدې ډول به یوې ډلې واوره پاکوله او بلي ډلي به ځانونه تودول.
د سپین ږیري زامنو ته ګرانه وه چي له نورو خلکو سره د واوري په پاکولو کي مرسته وکړي او یا د هغوی له حاله خبر سي، دوی ایله دومره وکړل چي د خپل کور واوره پاکه کړي. ماښام مهال واوره ودرېده، خو بیا هم په کلي کي چوپه چوپتیا وه، ان دا چي د سپو غپاوي هم نه اورېدل کېدې.
د سپین ږیري زامنو د کلي د لارو او کوڅو په خلاصولو پیل وکړ. کوڅې پاکي سوې، خو هیڅ یو کلیوال کوڅې ته را و نه وت، په کورونو کي هم د چا غږ نه اورېدل کېده، بس یوازي په هوا کي کارګان ګرځېدل او کاغ کاغ یې کاوه. د

(c) ketabton.com: The Digital Library

## خپل وطنه، گل وطنه

سپین ږیري زامنو د ګاونډي د کور له دروازې څخه واوره پاکه کړه، یوه زوی یې ناره کړه: راووځئ دا دی کوڅه خلاصه سوه، خو چا ځواب ور نه کړ، ځوان د ګاونډي کور ته ور ننوت، ګوري چي د ګاونډي ټوله کورنۍ مړه سوې ده، وروسته معلومه سوه چي د کلي ټول خلک مړه سوي دي، پر چا خوني رانړېدلي او څوک له یخنۍ څخه مړه سوي دي، په نیمه ورځ کي د ټول کلي خوله پټه سوه، بس یوازي د سپین ږیري کورنۍ ژوندۍ پاته سوه.

کله چي هوا توده او واوري ویلي سوې، نو لاري هم خلاصي سوې، د نورو کلیو خلک راغلل چي ددې کلي احوال واخلي، ګوري چي له یوه کور پرته نور ټول کلیوال واوري وژلي دي. په یوه ورځ کي ټول کلی هدیره سو، ددې پېښې اوازه تر لیرو لیرو سیمو پوري ولاړه، دا پېښه په کیسو او نکلونو کي ورګډه سوه، اناګانو او نیکه ګانو د خپلو لمسیانو تر غوږو هم ور ورسوله.

د سپین ږیري زامنو لیځي رابډوهل، کارونه یې وکړل، وروسته یې ودونه وکړل، ټولو ځانونو ته جلا جلا کورونه جوړ کړل، زامن او لوڼې یې پیدا سوې، هغوی هم ځوانان او ودونه یې وکړل. ورو ورو کلی بیرته اباد او د پخوا په شان پراخ سو، خان او حجره، ملا او جومات یې پیدا کړل. دا کلی (نوی کلی) وبلل سو چي د سپین ږیرو د زامنو برکت و، د سپین ږیرو زامنو هم ځانونه له مرګه وساتل او هم یې خپل کلی د پخوا په شان اباد کړ، اوس کلی اباد او له خلکو پخوانۍ غمجنه کیسه هېره وه، خو ځیني پخوانۍ کنډوالې لا اوس هم پاته وې او لکه زړه انا خپلو لمسیانو ته به یې ددې غمجني پېښې کیسه وریادوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## خپل وطنه، گل وطنه

یوه ورځ یو مسافر پر لاره تېرېده، ده هم په ماشومتوب کي له خپلي انا اورېدلي وه چي ددې کلي ټول خلک واوري وژلي دي، کله چي کلي ته راغی، نو گوري چي کلی سمسور او اباد دی، له حیرانیه یې گوته په غاښ ونیوله، د کلي له یوه سړي څخه یې وپوښتل: اې وروره ! ما اورېدلي وه چي ددې کلي ټول خلک واوري ووژل، خو اوس چي زه گورم ټول کلی اباد دی. سړي د خپل سپین ږیري نیکه د تدبیر او د هغه د لسو مېړنیو زامنو کیسه ورته وکړه. په دې وخت کي مسافر وویل: چي مېړونه وي، هلته کورونه وي.

یادونه:

دا متل په کندهار او غزني ولایتونو کي ډېر ویل کېږي. کله چي ځوانان یو کار په ډېره مېړانه تر سره کړي او یو څوک د خپلو زامنو، تربرونو او خپلوانو په مټ یو کار په بریالیتوب سره پای ته ورسوي، نو خلک د ځوانانو د هڅوني او ستایني لپاره دا متل وایي. [1]

[1] دا کیسه مي په کوچنیوالي کي له خپل پلار څخه اورېدلې ده. (ع، همت)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# چې بد گرځي، بد به پرځي

وایي چې یو سوداګر په بازار کې پر یو چوک ودرېد او په لوړ اواز یې ناره کړه: یو مزدور مې په کار دی، د یوې ورځې کار دی، خو د یوې میاشتې مزدوري ورکوم. خلکو چې دا خبره واورېده نو ورته رامنډې یې کړې، سوداګر هم د ګړندي په نوم یو ځوان پکښې خوښ کړ او له ځان سره یې بوت.
سوداګر ګړندي ته ښه غوړه ډوډۍ ورکوله او ښه یې نازاوه. یوه میاشت وروسته یې ورته وویل چې ګړندیه اوس به نو هوسا سوی یې، راځه چې اوس نو کار ته ولاړ سو. سوداګر او ګړندی پر اسانو سپاره سول، دوه خالي جوالونه یې هم له ځان سره واخیستل او د یوه دښت پر خوا روان سول.
ګړندي او سوداګر تر غرمې مزل وکړ، تر څو دښتونو او غرونو تېر سول چې اخیر یوې تنګې درې ته ورسېدل. اسان یې یو ځای ودرول او جوالونه یې راواخیستل، یو څو ګامه چې ولاړل، نو یو غار په مخه ورغی چې د دباندې له خوا تیاره ښکارېده، خو کله چې دوی ورننوتل نو وروسته په غار کې سوکه سوکه رڼا ښکاره سوه. سوداګر په غار کې یوه څا ته ودرېد چې ډېر ژور و او پای یې هیڅ نه معلومېده. سوداګر د ګړندي په ملا کې یو پړی کلک وتاړه او ورته ویې ویل: په دې څا (کوهي) کې سره زر او قیمتي غمي پراته دي، کله چې د څا پای ته ورسېدې، نو زه به سلواغه در کښته کړم، ته به یې ډکوې او زه به یې راپورته کوم، کله چې جوالونه ډک سول، تا به راپور ته کړم او له خیره سره کور ته به ځو، ګړندي هم دا خبره ورسره ومنله او څا ته ورکښته سو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګړندي سلواغې له قیمتي غمیو ورډکــولې او ســوداګر بــه راپورتــه کــولې او پــه جوالونو کي به یې اچولې، کله چي جوالونه ډک ســول، نــو ســوداګر وویــل چــي ګړندیه اوس نو پړی په ملا پوري کلک وتړه چي راپورته دي کــړم. ګړنــدي هــم پړی په ملا کي ټینګ وتاړه او سوداګر ته یې وویل چــي دا دی ځــان مــي وتــاړه. سودا ګر چي ګړندی د ځا تر نیمایي پوري راپورته کړ، نو پړی یې په چــاړه پــرې کړ چي له دې سره سم سلواغه د ځا په پای کي ولوېده.

ګړندی تر یوه وخته بې سده و، کله چي په سد کي سو، نو ټول بدن یې درد کاوه، په تېره بیا هډوکو یې داسي درد کاوه لکه په تبر چي دي وهلی وي. هر څه نارې چي یې وکړې چا نه اورېدې. کله چي یې په ځا کي یوې او بلي خوا تــه حرکــت وکړ، نو ګوري چي دا ځا نه، بلکي تر ځمکه لاندي یو لوی غار دی چي یوې او بلي خوا ته تللی دی، شا وخوا د انسانانو دسر کوپړې او نور هډوکي پراته دي. له وېرې یې د بدن وېښتان جګ جګ ودرېدل او سخت وارخطا سو، داســي ورتــه ښــکاره سوه لکه خپل مرګ چي په سترګوویني، خــو بیــا یــې هــم زړه راغونــډ کــړ او د خلاصون په لټه کي سو. هري خوا ته چي به ولاړ، نو د وتو لاره نه ورمعلومېده.

یوه ورځ او شپه یې په لوږه، تنده او سرګردانۍ تېره کړه، یــو وخــت ګــوري چــي ځنګ ته یې یو شی ودرېده، کله چي یې ښه ورته وکتل، نو ګوري چي یوه ګیدړه پر یوه شي بوی کاږي. فکر یې وکړ چي دا غار خامخا یوې خوا ته د وتو لار لري، ګیدړي ته یې ورحمله کړه او ټینګه یې ونیوله، ګیدړي چي هــر څــومره زورونــه ووهل ځان یې له ګړندي څخه نه سوای خلاصولای. ګړندي هغه پړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي يو سر يې دده په ملا کي تړل سوی و، بل سر يې د ګيدړي په ملا پوري کلک وتاړه او ګيدړه يې خوشي کړه.

ګيدړه چي ډېره وارخطا وه په منډو يې پيل وکړ، ګيدړه چي هري خوا ته ځي نو ګړندی هم ور پسي ځي. په همدې ډول ځي، ځي، ځي چي يو وخت رڼا معلومه سوه. رڼا ورو ورو پسي ډېرېده، يو وخت ګوري چي ګيدړه د ځمکي سر ته راووته. ګوري چي ډېري پېچلي درې او جګ جګ غرونه دي، بيخي يو بل ځای دی. ګړندي ګيدړه خوشي کړه او راروان سو. پوره يوه ورځ يې مزل وکړ چي ايله بيله يوې لاري ته را ووت او له هغه ځايه خپل کور ته ولاړ.

يوه ورځ يې په زړه کي راوګرځېده چي راسه ته هم هغه ښا ته ورسه او قيمتي غمي راوکاږه، خو کله چي هغه دښت ته ولاړ، نو لار ځني ورکه سوه، هر څومره چي وګرځېده هغه ښا يې پيدا نه کړ، هغه و چي بيرته ستړی ستومانه کور ته راغی. بيا يې په زړه کي وروګرځېده چي بايد سوداګر پيدا کړم، کېدای سي چي سوداګر بيا هغه چوک ته په مزدورانو پسي راسي. ځان يې په پټو کي ټينګ و نغښت او پر هغه چوک ودرېد.

يوه ورځ يې تېره کړه، خو سوداګر رانغی، بله ورځ هم رانغی، خو دريمه ورځ ګوري چي هماغه سوداګر بيا چوک ته راغی. تر څو چي سوداګر ناره کوله، ګړندی ورنژدې سو ويل ما مزدورۍ ته درسره بوزه. د سوداګر زړه ته نه لوېده چي ګړندی دي ژوندی پاته سوی وي، ځکه چي سوداګر ډېر مزدوران ښا ته ور اچولي ول او تر اوسه پوري يې يو هم ژوندی نه و راختلی. سوداګر په پخوانيو شرطونو ګړندی له ځان روان کړ او خپل کور ته يې بوت، ګړندي ويل داسي نه وي چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ومي پېژني ، هغه و چي دا ځل يې سوداګر ته خپل نوم او د کور پته غلطه وروښووله، بيخي يو داسي نوم يې وروښود چي د سوداګر په وطن کي نه و، دغه ډول يې خپل اصلي وطن هم ور ونه ښود،بيخي يو ليري وطن يې ورياد کړ.
سوداګر يوه مياشت وروسته ګړندي ته وويل چي ځوانه ځان تيار کړه. بيا يې دوه اسان له ځان سره بوتلل او هماغه ښا ته ولاړل. سوداګر وويل چي ښا ته ورکښته سه او قيمتي غمي راپور ته کړه. ګړندي چي ښا ته وکتل نو سوداګر ته يې وويل: اوهو په دې ښا کي ښومره توره تياره ده، زما سترګي توربړي، زه نه سم ورکښته کېدلای. سوداګر چي هر ښومره ورته وويل چي زه درسره يم هيڅ نه کېږي، خو ګړندي نه ورسره منله ويل زه وېرېږم، ته يو ځل ورکښته سه چي زه دي ووينم، بيا به وروسته زه ورکښته سم. اخير سوداګر مجبوره سو په ملا کي يې پړی وتاړه او ګړندي ښا ته وروځړاوه.
کله چي سوداګر يوه سلواغه قيمتي ډبري راپورته کړې، نو سوداګر وويل چي اوس نو ما درپورته کړه او ته راکښته سه. ګړندي وويل چي نه زه وېرېږم، ته هسي هم ورلوېدلی يې، ژر ژر يو ښو سلواغې راډکي کړه چي ځو له خيره. سوداګر چي اوس کښېوتلی و او بله چاره يې هم نه درلوده سلواغې يې له غميو ډکولې او ګړندي به راپورته کولې، کله چي جوالونه ډک سول، نو ګړندي سوداګر ته وويل چي اوس نو پړی په ملا کي ټينګ وتړه چي راپورته دي کړم.
سوداګر هم خوشاله سو، پړی يې په ملا پوري کلک وتاړه او ګړندي ته يې وويل چي درپورته مي کړه. ګړندي چي سوداګر د ښا خولې ته رانژدې کړ، نو ورته ويې ويل چي زه هماغه ګړندی يم چي تا په دې ښا کي اچولی وم، اوس نو ستا د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرگ وار دی، له دې سره سم يې پړی په چاړه پرې کړ او سوداګر د ځا په پای کې وغورځېد.

ګړندي د غميو جوالونه پر اسانو را بار کړل او خپل کور ته يې راوړل، تر يو څو مياشتو پوري يې چا ته حال نه وايه، کله نا کله به پټ د سوداګر کورته ورته او شاو خوا به يې له خلکو څخه دسوداګر پوښتنه کوله، خو خلکو به ورته ويل چې سوداګر ورک دی. کله چې ګړندی ښه ډاډه سو چې نور نو سوداګر ژوندی نه دی خپلو خپلوانو او انډيوالانو ته يې ټوله کيسه وکړه، خلکو چې د ظالم سوداګر کيسه واورېده نو يوه وويل : چې بد ګرځي بد به پرځي.

يادونه:

دا متل په ډېرو پښتني سيمو کي ويل کېږي. کله چې يو څوک په يوه بده لاره کي روان وي او په هماغه بده لار کي تاوان ووينې او يا مړ سي، نو خلک د بد شخص سره د کرکي څرګندولو په خاطر دا متل وايي.[1]

[1] دا کيسه مي په کوچنيوالي کي له خپل پلار څخه اورېدلې ده. (ع، همت)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# چې جنگ سوړ سو، میری تود سو[1]

وایي میری یو ځوان هلک و چې غره ته په لرگو راټولولو پسي ولاړ، کله چې میری په غره کي و، نو په کلي کي یې د پلار له یوه کلیوال سره جنگ سو، جنگ ډېر دوام و نه کړ او ډېر ژر د کلیوالو په منځگړیتوب پای ته ورسېد. په دې وخت کي یو بل کلیوال هم د لرگو راټولولو لپاره غره ته ولاړ چې په لاره کي میری په مخه ورغی. میري ورته وویل چې په کلي کي څه حال و؟ کلیوال وویل چې خیروخیریت و، خو پلار دي له فلاني سره د ځمکي پر سر لږ جنجال وکړ، هغه هم د خدای فضل دی د کلیوالو په منځگړتوب ارام سو.

میری چې په دې کیسه خبر سو نو په منډه یې ځان کلي ته ورساوه، هغه سړی یې پیدا کړ چې دده له پلار سر یې لانجه کړې وه، بس تبر یې ورسره سم کړ او پر سر یې په تبر وواهه چې هغه بېچاره ځای پر ځای مړ سو. کلیوال چې راغلل گوري چې میري سړی وژلی دی. د کلي ملک وویل چې وا میریه ولي دي سړی مړ کړ؟ میري ورته وویل چې زما له پلار سره یې جنگ کړی و، ځکه مي مړ کړ. د کلي ملک نورو کلیوالو ته مخ ور واړاوه او ورته ویې ویل: چې جنگ سوړ سو، میری تود سو.

---

[1] : دا متل دوې نوري کیسې هم لري چي یوه یې ښاغلي علم گل سحر په خپل کتاب ( خبره له خبري پیدا کېږي ) کي را اخیستې او بله کیسه یې ښاغلي موسی خان شـینواري پـه خپـل کتاب ( د متلونو کیسې ) کي خوندي کړې ده، خو زما کیسه د مکان، زمان او پېښي له پلوه له دې دواړو کیسو سره توپیر لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يادونه:

دا متل تقريبا په ټولو پښتني سيمو کي ويل کېږي. کله چي يو څوک يو کـار تـه ناوخته لاس وراچوي يا د تېري پېښي په اړه ناوخته بحث کوي يا عکـس العمـل ښيي، نو خلک دا متل وايي.[1]

[1] دا کيسه په ( ۱۳۸۹ ش) کال د لينډۍ د مياشتي پر اته ويشتمه نېټه ښاغلي ډاکټـر فريـد بزګـر پـه ايميل کي را استولې ده. (ع، همت )

(c) ketabton.com: The Digital Library



# چې یې وخورې په دروېزه[1]

# هېره به یې نه کړې مزه

وايي چې یو سړی ډېر غریب و، له غره څخه به یې بوټي راوړل او په بازار کې به یې خرڅول، ښځې به یې هم د خلکو په کورونو کې په مزدورۍ کالي پرېول او په همدې یې خپله گوزاره کوله. یو څه وخت وروسته ښځه بېوزلۍ تنگه کړه او نور یې تر وس تېره سوه، سړي ته یې وویل چې بس ده ډېري خوارۍ مې وگاللې، زه نور کار نه سم کولای. سړي چې هر څومره زارۍ ورته وکړې چې که ته کار و نه کړې یوازې د بوټو په پیسو زموږ گوزاره نه کېږي، ښځې یې بیا هم خبره ونه منله، ویل زه نور کار نه سم کولای.

سړي چې بله چاره نه درلوده ښځې ته یې وویل چې سمه ده کار مه کوه، زه به خپل کار کوم او په همدې پیسو به گوزاره کوو، ښځې ورته وویل چې نه په دې ډول گوزاره نه کېږي، یو بل کار پیدا کړه. غریب سړی چې هر څومره په کار پسې وگرځېد بل کار یې پیدا نه کړ، اخیر ناچاره سو او بیرته یې له غره څخه بوټي راوړل پیل کړل.

ښځې یې ورته وویل چې که بل هیڅ کار نه وي، نو سوال خو کولای سې، سوالگران هره ورځ ډېري پیسې پیدا کوي او ښه ژوند لري. سړي چې هر څومره

[1]: دروېزه: سوال ، گدايي، فقر، لاس نیول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته وویل چې سوال کول بد کار دی، خو ښځې یې نه ورسره منله، ویل خیر دی یو څو ورځې به شرمېږې، خو وروسته به عادت سې، که یو ځل دې د سوال او دروېزې د ډوډۍ خوند ولید بیا به دې دا خوند هیڅکله هېر نه سي.

سړي بیا هم دې کار ته غاړه نه ایښووله، ویل نه زه خپله خواري کوم. کله چې ښځه پوه سوه چې مېړه یې خبره نه مني، نو له مېړه سره یې په جنجالو او جنگونو پیل وکړ، داسي ورځ به نه وه چې د دوی په کور کې به جنگ او جگړې نه وې، اخیر خپل کور خو څه کوې چې گاونډیان هم ځني په تکلیف سول.

سړي چې به هر څومره گوزاره کوله ښځې یې بیا هم اوبه خړولې، اخیر سړی مرور سو او اکثره وخت به د خپلوانو کره اوسېده. ښځه چې په کور کې یواځې سوه، نو په کوڅه او کلي کې یې له ښځو سره جنگونه شروع کړل، خلک ډېر ځني تنگ سول، راغلل او د ښځې مېړه ته یې شکایت وکړ. سړي چې د کلیوالو شکایتونه واورېدل، نو خپل خپلوان او دوستان یې راټول کړل او ورته ویې ویل چې زه دا ښځه طلاقوم. خپلوانو یې ورته وویل چې ته ودرېږه مور به یو وار نصیحت ورته وکړو، که بیا هم سمه نه سوه طلاقه به یې کړې. سړي ویل سمه ده.

د سړي خپلوانو ښځې ته وویل چې نور له خلکو سره جنجال مه کوه، مور ټول په تا شرمېږو، که نه سمېږې نو مېړه دې طلاقوي. ښځې چې د طلاق خبره واورېده، نو لږ ارامه سوه، یو څه وخت یې سم ژوند کاوه، خو وروسته یې بیا د پخوا په شان جنجالونه شروع کړل، مېړه یې ورته وویل چې تا خو زما سره وعده کړې وه چې بیا به شر او شور نه کوې، بیا دې ولې جنگونه شروع کړل؟ زړه دې راخوړین کړ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور نو صبر نه سم کولای، اوس دي نو خامخا طلاقوم. ښځه وېرې واخیسته چي مېړه یې رښتیا طلاقوي، ویل داسي نه وي د شپې تېر ځای مي ودر بړي، په کلي کي مي هم خلک د ژبوري ښځي په نوم پېژني، خدای خبر چي بل مېړه به پیدا کړم. هغه و چي له ځان سره یې یو چم جوړ کړ، له مېړه سره یې غوړه مالۍ شروع کړې او بخښنه یې ځني وغوښته، ویل زه دا منم چي په خپله خوله مي ټول خلک د ځان دښمنان کړي دي، خو څه وکړم اوس مي عادت سوی دی. ما څو واره کوښښ کړی دی چي دا عادت پرېږدم خو نه پاتېږي. ما داسي اورېدلي دي چي که څوک یوه میاشت د سوال ډوډۍ وخوري نو هر ډول بد عادت ځني پاتېږي.

سړی چي اوس نو تر پزي راغلی و هر کار ته یې غاړه ایښووله. ښځي ته یې وویل چي که څه هم دا د بې غیرتو خلکو کار دی او ډېر شرمېږم، خو ستا لپاره دا کار هم کوم. هغه و چي له غره څخه بوټي راوړل او خپل د عزت کار یې پرېښود او په سوال او درویزه یې شروع وکړه، سهار تر ماښامه به یې په بازار کي سوال کاوه او په هغه پیسو به یې د کور گوزاره کوله.

یوه میاشت پر له پسې یې د سوال په ډوډۍ گوزاره وکړه. ښځي یې یو څه وخت سم ژوند کاوه، خو وروسته یې بیرته هماغه پخوانۍ نخرې شروع کړې. سړي ورته وویل چي وابځي د خدای پار ته وگوره ! د سوال ډوډۍ خو مي هم درباندي وخوړه اوس ولي جنجال کوې؟ ښځي په خندا ورته وویل چي پر دواړو ستر گو، زه به جنجال پرېږدم او ته سوال پرېږده. سړی چي اوس په سوال او مفته ډوډۍ روږد سوی و، زړه یې نه غوښتل چي سوال پرېږدي. ښځي ته یې وویل

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي خير دی زه به خپل سوال کوم او تا به ساتم، خو تــه لــږ ســمه گــوزاره کــوه. ښځي ورته وويل چي پخوا خو سوال کول يو ضرورت و، اوس خو دا دی  ما درتــه وويل چي سمه گوزاره درسره کوم، که مي بيا بده گوزاره وکړه هر ډول سزا چــي راکوې زه يې منم. اول تا ماته نصيحتونه کول چي په کور او کلــي کــي مــي مــه شرموه، ټول خپلوان او سيالان راباندي خاندي، اوس چي ته په ځوانــه ځــوانی او روغ صورت سوال کوې پر موږ خلک نه خاندي؟ ته په ځان نــه پــوهېږې، پــر مــا دومره خلک نه خاندي لکه پر تا چي خاندي، مــا تــه هــره ورځ ښــځي پيغورونــه راکوي، وايي مېړه يې ځوان او په صورت روغ رمټ دی، خو بې غيرتــه ســړی دی کار نه سي کولای او  سوال کوي.

لنډه دا چي ښځي له جنجاله او سړي له سواله لاس نه اخيست او هر يو پر خپلــه خبره ولاړ و. اخير ښځي ورته وويل چي زه په يوه شرط ستا خبره مــنم چــي تــه سوال پرېږدې او د پخوا په شان خپله خواري او مزدوري وکړې. سړي ورته وويل چي ستا خوښه ده، جنجال پرېږدې که نه ، خو زه سوال کول نه پرېــږدم. ښــځي چي له خدايه دغه ورځ غوښته ډېره خوشاله سوه او په خندا يې وويل:  چــي يــې وخورې په دروېزه، هېره به يې نه کړې مزه.

يادونه:

دا متل په ډېرو پښتني سيمو کي ويل کېږي. کله چي يو څوک په يو ناوړه عمــل روږد وي، په تېره بيا دا چي يو څوک په مړو سترگو ډوډۍ پيدا کوي يــا د روزۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

## خپل وطنه، گل وطنه

ګټلو په لاره کې زحمت نه ګالي او له دې عادت څخه نه اوړي، نو خلـک لـه دې عمل سره د کرکې څرګندولو په خاطر دا متل وايي.[1]

---

[1] دا کيسه مې په ( ۱۳۷۰ ش ) کال د کب د مياشتې پر لسمه نېټه د جنوبي پښتونخوا په سرانانو نومې سيمه کې له ښاغلي محمد يونس څخه اورېدلې ده. دی د هلمند ولايت د ناوې ولسوالۍ اوسـېدونکی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# چورت یې واهه، خورجین یې بایلود

وایي چې یو سوداګر له خپل نوکر سره یو لیري ځای ته په سفر روان و، له دوی سره یو آس او یو له سروزرو ډک خورجین و. په لاره کې یې آس ناروغه سو، وار په وار یې ناروغي پسې ډېرېده چې وروسته مړ سو، تر دې وروسته سوداګر او نوکر پر پښو روان سول. یو څه مزل چې یې وکړ، نو ډېر ستړي سول، په دښت کې یې یو ځای واړول چې شپه تېره کړي.

په دې وخت کې یو بل مسافر هم پر لاره تېرېده، کله چې یې سوداګر او نوکر ولیدل نو ورته ویې ویل: دا سیمه ډېر خطرناک غله لري، پر ځان پام کوئ چې و مو نه شکوي. سوداګر چې دا خبره واورېده، نو سخت وارخطا سو، نوکر ورته وویل چې باداره ته غم مه کوه، بېغمه ویده سه، زه به پیره کوم. سوداګر هم ورسره ومنل او ویده سو. یوه سترګه خوب چې یې وکړ، نو بیرته راویښ سو، کله چې یې نوکر ولید چې ویښ دی نو زړه یې پوره ( ډاډه) سو او بیرته ویده سو.

شپه ښه پخه وه چې سوداګر بیا سترګې راروڼې کړې، ګوري چې نوکر ویښ دی، خو په درنو سوچونو کې ډوب دی، سوداګر وویل: وا هلکه څه چورت وهې؟ نوکر وویل چې دې خبري ته چورت وړی یم چې خدای پاک دا دومره لوی اسمان څنګه بې ستني درولی دی؟ سوداګر په درد وویل: بېعقله سوچونه پرېږده خپله پیره کوه. له دې خبري سره سم سوداګر بیا ویده سو.

یوه شیبه وروسته چې راکښېناست، نو ګوري چې نوکر بیا هغسې چورتونه وهي، سوداګر بیا په درد وویل: وا هلکه تاته وایم ! بیا څه چورتونه وهې؟ نوکر وویل

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي په دې اړه سوچ کوم چي خدای پاک دا دومره خلکو ته څنګه روزي ور رسوي؟ سوداګر په درد وویل: وا د خدای اسکېرلې ما نه درته وویل چي خپله پیره کوه؟ له دې سره سم سوداګر بیا پرېوت او دا وار ښه په درنو ویده سو.
سپېدې لا نه وې چاودلي چي سوداګر راویښ سو، ګوري چي نوکر بیا هم په چورتونو کي ډوب دی. بیا یې په درد وویل: اې بدبخته بیا څه چورتونه وهې؟
نوکر وویل: خورجین غلو وړی دی، بله یې لا دا چي زما او ستا څپلۍ یې هم وړي دي، اوس دې خبري ته چورت وړی یم چي له دې ځایه به په لڅو پښو څنګه ځو؟
سوداګر چي د خورجین د غلا کېدو خبره واورېده، نو چیغي او نارې یې جوړي کړې، خو هیڅ یې له لاسه نه کېده، هغه و چي تش لاس کور ته راغی، ټوله شتمني یې د سروزو خورجین و چي غلو یووړ، یو څه پیسې چي یې په کور کي درلودې هغه هم یو څه وخت وروسته خلاصي سوې.
اوس نو سوداګر سوداګر نه و، داسي غریب سو چي د اولاد ډوډۍ به یې په خوارۍ پیدا کوله. کله چي به چا پوښتنه ځني وکړه چي ته خو یو وخت ډېر شتمن سړی وې، څنګه داسي غریب سوې؟ ده به یو سوړ اسوېلی وکیښ او ورته وبه یې ویل: زه د خپل نوکر له لاسه بدمرغه سوم، دی دي خدای خوار کړي، چورت یې واهه خورجین یې بایلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یادونه: دا متل په کندهار کې ویل کېږي. کله چې یو څوک د کار وخت په چورت وهلو او خیال پلوونو تېروي او په دې ډول د کار وخت ځنې تېر سي او یا له دې امله تاوان ور ورسېږي، نو خلک دا متل وایي.[1]

[1] دا کیسه مې په کوچنیوالي کې د کندهار ولایت، ارغنداب ولسوالۍ د ناګان کلي له عبدالکریم نـومي بزګر څخه اورېدلې ده. (ع، همت)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# چي ښنگه سوال هغسي ځواب

يو سوالگر کلي ته راغی او د يوه کور دروازه يې وروټکوله، د کور خاوند د کور له بالاخانې څخه سر راو ايست، ويل څه وايې؟ سوالگر ورته وويل چي ته يو وار دلته راسه چي يو ډېر ضروري کار درسره لرم، کله چي د کور خاوند راغی، نو سوالگر ورته وويل چي خير راکړه.

د کور خاوند ته درد ورغی، ويل دا خبره خو دي هلته هم راته کولای سوای، تر دې ځايه دي ولي را خوار کړم، خير اوس راځه چي بالاخانې ته ولاړ سو، د کور خاوند دمخه او سوالگر ورپسې سو، کله چي بالاخانې ته ورسېدل نو د کور خاوند ورته وويل چي خدای دي يې درکړي. سوالگر ورته وويل چي د کور په دروازه کي به دي راته ويلي وای چي خدای دي وزله وکړه، دا دومره زحمت دي ولي راکړ؟ د کور خاوند ورته وويل چي تا به هم هلته راته ويلي وای چي خير غواړم، بس چي ښنگه سوال هغسي ځواب.

يادونه: دا متل په کندهار او غزني کي ډېر ويل کېږي. کله چي د يو کار په مقابل کي يو مناسب عکس العمل وښوول سي او يا يو بد سړي ته په خبرو او منطقو غاښ ماتوونکی ځواب ورکړل سي، نو خلک دا متل وايي.[1]

[1] دا کيسه مي په ( ۱۳۶۷ ش ) شمسي کال له اروانباد جنرال محمد اکرم خاکرېزوال څخه اورېدلې ده. اروانباد خاکرېزوال د کندهار ولايت د خاکرېز والسوالۍ اوسېدونکی و چي د طالبانو تر واکمنۍ وروسته د کابل د امنيې قوماندان او په کندهار کي په يوه چاودنه کي ووژل سو. (ع، همت)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خلک له سقاویانو وېرېږي،

# کونډه له خپلو لمسیانو وېرېږي

د یوه سړي نوم حبیب الله و، خو خلکو به (سقاو) یا د سقاو زوی باله. ده یوه لویه ډله جوړه کړه او د افغانستان د هغه وخت پاچا غازي امان الله خان ته پور ته سو، تر څو جگړو وروسته یې پاچهي ونیوله، خلکو دده پاچهي نه منله خو حکومت غوښتل چې په زور خلک د ځان تابع کړي، په دې ډول د افغانستان په ډېرو ولایتونو کې د خلکو او حکومت تر منځ جنگونه پیل سول.

خلکو حکومت او د حکومت ملگرو ته سقاویان ویل. د سقاویانو یو لوی لښکر له کابل څخه مخ پر کندهار روان سو. په غزني او زابل کې خلکو سخت جنگونه ورسره وکړل، خو د سقاویانو لښکر لوی و او تر کندهاره پوري راور سېد. په کندهار کې د معروف ولسوالۍ د هوتکو په سیمه کې سخت جنگ ونښت. په دې وخت کې اوازه سوه چې سقاویان چې هره سیمه ونیسي، نو خلک وژني او کورونه یې لوټوي.

د چور او لوټمارۍ اوازې هري خوا ته خپرې سوې، خلک سخت وارخطا او هري خوا ته په منډو سول، چا لیري سیمو ته کډې بار کړې او چا بیا خپل قیمتي شیان تر خاورو لاندي پټ کړل. په دې وخت کې د کندهار ولایت، ارغسان ولسوالۍ د سپیني گاري په کلي کې یوه بوډا کونډه اوسېده چې یوازي یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



یومنګی د غوا غوړي درلوده. کله چې يې د چور او چپاول اوازه واورېده، نو د غوړو منګی يې په تخرګ کې ونيو او له کلي څخه ووته. په دې وخت کې د کونډې کوچني لمسي چې خپله انا وليده، نو پټ ورپسې سو، کونډې د غوړو منګی د يوې غونډۍ په لمن کې تر خاورو لاندې پټ کړ او دا بيرته کور ته راغله.

يو ساعت وروسته د کونډې لمسی وږی سو، انا ته يې وويل چې زه وږی يم، ماته ډوډۍ راغوړه کړه، کونډې ورته وويل چې غوړي په کور کې نسته. د کونډې لمسي هم سمدلاسه له دسترخوان څخه يوه وچه ډوډۍ راواخيسته او له کور څخه ووت. کونډه هم سمدلاسه پسې راووته او د هغه په څار روانه سوه. د کونډې لمسی سيده د هغې غونډۍ لمني ته ورغی چې انا يې د غوړو منګی پکښې ښخ کړی و. منګی يې له خاورو راوکيښ، سر يې ورخلاص کړ او ډوډۍ يې په غوړه کړه. په دې وخت کې کونډه هم راورسېده، منګی يې راواخيست او د کور پر خوا روانه سوه.

کور ته لا نه وه رسېدلې چې خور يې په مخه ورغله، خور يې پوښتنه څني وکړه چې دا د غوړو منګی چېري وړې؟ کونډې ورته وويل چې دا منګی مي يو ځای پټ کړی و، خو اوس مي بيرته راوکيښ او کور ته يې وړم. خور يې وويل چې خلک خپل شيان له کورو څخه ليري يو ځای پټوي او ته يې بيرته کور ته وړې؟ کونډې په ډېري نا اميدۍ او نا هيلۍ ورته وويل: هی هی خوري څه وکړم؟ خلک له سقاويانو وېرېږي او کونډه له خپلو لمسيانو وېرېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## خپل وطنه، گل وطنه

یادونه: دا متل د کندهار په معروف او ارغسان ولسواليو کي ويل کېږي. کله چي يو څوک د پرديو پر ځای له خپلو خلکو ډېره گيله او اندېښنه لري، نو خلک دا متل وايي.[1]

[1] دا کيسه ښاغلي معلم عبدالاحد سرتيف د ( ۱۳۸۹ ش ) کال د ليندۍ د مياشتي پر پنځـه ويشـتمه نېټه په ايميل کي رالېږلې ده. (ع، همت )

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خپل وطنه، گل وطنه

وايي په پخوا زمانو کي يو پاچا و چي د مرغانو ډېر شوقي و، دده په ماڼۍ کي د هر ډول کورنيو او وحشي مرغانو کمی نه و، خو په دې ټولو مرغانو کي پر پاچا يو بلبل ډېر گران و، دا بلبل يې د سرو زرو په قفس کي اچولی و، سرې اوبه او دده په خوښه دانې به يې ورکولې. کله چي به يې د بلبل قفس د ماڼۍ په باغ کي وځړاوه، نو پاچا به داسي فکر کاوه چي اوس به نو بلبل ډېر خوشاله وي، خو بلبل به بيا هم ناخوښه و او تل به يې ويل چي خپل وطنه، گل وطنه.

پاچا حيران سو چي د بلبل به څنگه وطن وي چي دی يې دومره صفت کوي. يوه ورځ يې بلبل ته وويل چي ستاپه وطن کي داسي څه دي چي زموږ په وطن کي نسته؟ بلبل ورته ويل چي زموږ په وطن کي داسي ډېر څه سته چي ستاسي په وطن کي نسته.

يو وخت د پاچا په زړه کي ور وگرځېده چي بايد د بلبل وطن ووينې. بلبل ته يې وويل چي که رښتيا ستا وطن زموږ تر وطن ښايسته وي، نو زه دي ايله کوم چي خپل وطن ته ولاړ سې، خو يو شرط لرم، هغه دا چي بايد زه يو وار ستا تر خوشي کېدو مخکي ستاسي وطن ووينم. بلبل د پاچا په دې خبره ډېر خوشاله سو، ويل بيخي سمه ده. پاچا اسونه زين کړل او له خپلو څو عسکرو او نوکرانو سره له ماڼۍ څخه ووت، بلبل چي به هري خوا ته اشاره کوله نو پاچا او عسکر به يې هماغي خواته تلل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## خپل وطنه، گل وطنه

تر ډېرو سیندونو، غرونو او ځنګلونو تېر سول چي اخیر یوه وچ دښت ته ورسېدل، په دښت کي لیري یو څو شنه بوټي ښکارېدل، بلبل وویل چي پاچا صاحب همدا زما وطن دی. پاچا چي هغه ځای ته ورغی، نو ګوري چي د اوبو یو کوچني ډنډ دی. پاچا حیران سو چي بلبل خو ویل زما وطن ډېر ښکلی دی، دا ځای خو یو وچ دښت دی. عسکرو ته یې وویل چي بلبل له قفس څخه خوشي کړئ !
عسکرو هم د پاچا له امر سره سم بلبل له قفس څخه ایله کړ، بلبل والوت او د ډنډ په منځ کي د یوې لوخي پر سر کښېناست، په نارو او خوشالیو یې پیل وکړ، په دې وخت کي نرى باد چلېده، باد به لوخه د اوبو خوا ته کږه کړه او بیرته به راپورته سوه چي له دې سره به د بلبل لکۍ په اوبو لنده سوه، بلبل به د لوخي له هر وار کږېدو سره داسي ویل: خپل وطنه، ګل وطنه.

یادونه: دا متل په کندهار او جنوبي پښتونخوا کي د جلاوطنۍ پر مهال ویل کېږي.[1]

[1] دا کیسه مي په کوچنیوالي کي له خپل پلار څخه اورېدلې ده. (ع، همت)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خندا به هغه وخت وي چي د غوا خاوند راسي

وايي چي يوه غوا په ختهو کي بنده سوې وه، هر څومره چي يې زور وواهه نو ځان يې له ختهو نه سواى را ايستلاى. په دې وخت کي يو وړى لېوه پر لاره تېرېده، گوري چي غوا په ختهو کي بنده سوې ده. لېوه د غوا په ليدو ډېر خوشاله سو، ان دا چي ختهو ته يې هيڅ پام نه سو، بس سمدلاسه يې په غوا پسي ختهو ته ورټوپ کړه چي له ټوپ سره سم دى هم په ختهو کي بند سو.

لېوه چي به هر څومره ځان ښوراوه، نو په ختهو کي به نورهم پسې ننووت. لېوه چي د خلاصون بله لاره پيدا نه کړه، نو په چيغو يې شروع وکړه. په دې شا وخوا کي يوه گيدړه هم اوسېده چي له لېوه څخه ډېره په عذاب وه، کله چي يې د لېوه نارې واورېدې، نو په منډه يې لېوه ته ځان راورساوه.

کله چي يې لېوه وليد چي تر څټه پوري په لوشو کي بند دى، نو کټ کټ په خندا سوه، لېوه ته د گيدړي پر خندا سخت درد ورغى، ويل بې شرمي زه مرم او ته راباندي خاندې؟ گيدړي ته نوره هم خندا ورغله، ويل دا څه خندا ده، خندا خو به وروسته ووينې، ته ودرېږه چي د غوا خاوند په خير راسي او تا په ختهو کي مښتى ووينى، د غوا خاوند خو پوهېږي چي ته د غوا د راخلاصولو لپاره نه، بلکي د هغې په خوړلو پسي ختهو ته ورلوېدلى يې، بيا به نو د غوا خاوند سوټې او ستا به

(c) ketabton.com: The Digital Library



مغزی وي، نو ځکه مي درته وويل چي خندا به هغه وخت وي چي د غوا خاوند راسي.

یادونه:

دا متل په کندهار کي ډېر ويل کېږي. کله چي يو څوک له خپله ژونده ناخوښه وي او تر دې نور ډېر خطرونه پر لاره وي او د نورو بدو پېښو وړاندوينه هم سوې وي، نو خلک دا متل وايي.[1]

[1] دا کيسه مي د ( ۱۳۸۸ ش ) کال د ليندۍ د مياشتي پر شلمه نېټه له ښاغلي گل اغا څخه په تيليفون کي اورېدلې ده. ښاغلی گل اغا د کندهار ولايت، ژيړۍ والسوالۍ د پاشمول د کلي اوسېدونکی دی. ( ع، همت)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ټولو نیمه نیمه د ابۍ سوه یوه نیمه

وایي چې یوه انا له خپلو دوو کوچنیو لمسیانو سره یو ځای اوسېده، پر لمسیانو انا ډېره ګرانه وه او له نازه یې ابۍ بلل. دوی داسې غریبان ول چې په وچه ډوډۍ هم نه ول ماړه. یوه شپه یې ډوډۍ نه درلودل، نه پوهېدل چې څه وکړي. په دې وخت کي د کور دروازه وټکېده، انا چې ورغله، نو په دروازه کي یو هلک ولاړ دی او درې ډوډۍ یې په لاس کي نیولي دي، ویل مور خیرات کړی دی، مور مي ویل چې دا ډوډۍ واخلئ.

ابۍ او لمسیان یې ډېر خوشاله سول، سمدلاسه یې دسترخوان اوار کړ چې ډوډۍ وخوري. څرنګه چې ډوډۍ درې او دوی څلور نفره وه، نو د ډوډۍ وېش ګران سو، انا ډوډۍ لمسیانو ته ور ووېشلې او دا خپله لاس تر زنه ورته کښېناسته، ویل بچیانو وخورئ.

په دې وخت کي د لمسیانو پام سو چې ابۍ ته ډوډۍ و نه رسېده، ویل ابۍ ته به څه شي وخورې؟ ابۍ په ټګۍ ورته وویل چې ابۍ دي تر تاسي قربان سي، تاسي هر یو چې نیمه نیمه ډوډۍ راکړئ زما بس ده. لمسیانو چې یې هر یوه نیمه نیمه ډوډۍ ورکړه، نو هر لمسي ته نیمه نیمه، خو ابۍ ته یوه نیمه ډوډۍ ورسېده. په دې وخت کي د بوډۍ دیوه لسمي ډوډۍ ته پام سو او په خندا یې وویل: د ټولو نیمه نیمه د ابۍ سوه یوه نیمه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## خپل وطنه، گل وطنه

یادونه:

دا متل د افغانستان په ختیځو ولایتونو کي ډېر ویل کېږي. کله چي یو څوک په فریب او چل ول تر نورو ډېره ونډه واخلي او بیا هم ځان داسي ښیي چي څه نه دي ور رسېدلي، نو خلک دا متل وایي. [1]

[1] دا کیسه مي په کابل کي د ( ۱۳۸۸ ش ) کال د زمري د میاشتي پر شلمه نېټه د پښتو ژبي لـه نـامتو طنز او ډرامه لیکوال ښاغلي کاتب پاڅون څخه اورېدلې ده. ښاغلی پـاڅون اصـلا د ننگرهـار ولایـت د شینوارو ولسوالۍ، نازیانو درې د
(مندتي) کلي دی، خو له ډېره وخته راهیسي په کابل کي اوسېږي. ( ع، همت )

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پړانګ سپينه منګوله، شپنو پوڅه پرې وېشله

وايي چي يوه ورځ کوچيانو په يوه داسي سيمه کي وانده[1] واړوله چي شاوخوا يې جګ جګ غرونه ول، په دې غرو کي يو ډېر خطرناک پړانګ هم اوسېده چي اکثره وخت به يې د کوچيانو پر رمو حملې کولې.
بس د پړانګ همدا ښکار و، هره ورځ به يې د پسو پر رمه یر غل کاوه او يو پسه به يې خوړ. شپانه او د رمې ساتونکي سپي ته ګرانه وه چي په يوازي سر د پړانګ مخه ونيسي. هغه و چي څو شپنيانو خپلي رمې سره يو ځای کړې، دوی داسي فکر کاوه چي اوس نو شپنيان او د رمې سپي ډېر سول، ښايي پړانګ به پر رمه يرغل و نه کړي، خو پړانګ ډېر زړه ور سوی و، د شپنو پر وايې و نه کړه او پر رمو يې بيا هم حمله وکړه.
شپنو د کوتکو په وارونو او ساتونکو سپيانو د پړانګ په داړلو پيل وکړ، جګړه ښه په خرپ روانه وه، په دې وخت کي يوه شپانه خپل کوسی[2] پر پړانګ واچاوه چي له دې سره سم د پړانګ منګولي په کوسي کي بندي سوې، پړانګ چي هر څومره زورونه ووهل ، منګولي يې له کوسي څخه نه سوای خلاصولای. شپنو هماغسي

[1]: پښتانه کوچيان خپلي رمې د دوبي په موسم کي ليري څرځايونو ته بيايي چي دې سفر تـه ( وانـده) وايي. دوی له ځان سره يوه اندازه خواړه هم وړي چي ( څوری ) يې بولي.

[2]: کوسی د چپني غوندي يو پنډ او اوږد لباس دی چي له وړيو څخه جـوړ ېږي. شـپنيان د يخنـۍ پـه موسم کي کوسی له ځان سره وړي چي هم يې د برستن، هم يې د فرش او هم يې د باران پـر مهـال د سرپناه په ډول استعمالوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کوتکو وارونو او سپو د پړانګ داړلو ته دوام ورکړ چي په پای کي پړانګ له جنګه ولوېد او مړ سو.

شپنو چي خپل یوه لوی دښمن ته ماته ورکړې وه، په دې خوشالۍ کي یې تر خپل منځ پوڅه ووېشله، ددې لپاره چي شپنیان خپل غرور وښیي له پړانګ څخه یې یوه منګوله پرې کړه او په هغه یې تر خپل منځ پوڅه ووېشله، شپنو سره خندل او یو بل ته یې مبارکۍ سره ورکولې. په دې وخت کي یو کوچی پر لاره تېر بده، کله چي یې د شپنو په لاس کي د پړانګ منګوله ولیده، نو د پړانګ زړه ورتوب او مېړانه ور په یاد سوه، دا چي نن یې شپنو په سپینه منګوله پوڅه وېشله، نو پر پړانګ یې زړه وسوځېد او له ځان سره یې وویل: د پړانګ سپینه منګوله، شپنو پوڅه ([1]) پرې وېشله.

[1]: پښتانه کوچیان او مالداران له شیدو څخه یو ډول قوي خواړه جوړوي چي ( پوڅه ) یې بولي. د پوڅي جوړولو لپاره په شیدو کي ( خمزوری) نومي وحشي بوټی وهي او یا د پسه د کوچنیو کولمو لومړۍ برخه چي په عربي ژبه یې ( اثنا عشر ) او پښتو کي یې ( خوړه مړی) بولي وهي. څرنګه چي په خمزوري او خوړه مړي کي ځیني انزایمونه دي، نو له دې املـه شیدې کلکي او پوڅه ځني جوړېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یادونه: دا متل په زابل، غزني او پکتیکا ولایتونو کي ډېر ویل کېږي. کله چي یو مېږه، تکړه او ښه سړی خوار سي او یا د دښمنانو په دام کي ولوېږي ، نو خلک د زړه سوي په ډول دا متل وايي(1).

[1] : دا کیسه مي د ۱۳۹۱ه ش کال د وري د میاشتي پر نولسمه نېټه د شپې پر اتو بجو د ټیلیفون له لاري له سید عبدالرحیم اغا څخه اورېدلې ده. ښاغلی رحیم آغاد زابل ولایت د کلات ښار اوسېدونکی دی. ع، همت

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دوران پر هر گوروان

وايي چي د يوه کلي ملک له خپلو خلکو سره ښه ژوند نه کاوه، د هغوی ماتو گوډو او مشکلاتو ته يې پام نه و او هسي يې خپله ورځ تېروله، کليوالو تر يوه وخته څه نه ويل، خو وروسته يې زړونه تنگ سول او پرېکړه يې وکړه چي د کلي لپاره نوی ملک وټاکي.

په کلي کي د نوي ملک د ټاکلو لپاره جرگه جوړه سوه، هر چا د ملکۍ لپاره يو يو سړی ياد کړ، خو داسي سړی يې پيدا نه کړ چي د ټولو دي خوښ وي. په پای کي يوه سپين ږيري د کلي گوروان ( پاده وان ) ته اشاره وکړه، دا خبره د ټولو خوښه سوه، ځکه چي گوروان خورا پاک، صادق او مېړه ځوان و او څو کاله يې په خورا صداقت د کلي خدمت کړی و. لنډه دا چي گوروان ته يې د ملکۍ لنگوټه وروتړله او ولسوال ته يې وروپېژانده، ولسوال هم ورسره ومانه او نوي ملک خپل کار ته دوام ورکړ.

يوه ورځ د کلي پخواني ملک چي اوس يې ځوک په کيسه کي هم نه وه، نوی ملک وليد چي ډېر خلک پر راټول دي او مشوره ورسره کوي، پخوانی ملک ډېر ناهيلی او زړه ورته لړ سو، خپل پخواني وختونه يې ورپه ياد سول، ژړا ورغله، ويل يو وخت زه د کلي ملک وم، خو اوس مي ځای گوروان ونيو، له ځان سره يې په ناهيلۍ وويل: دوران پر هر گوروان.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## خپل وطنه، گل وطنه

یادونه:

دا متل په کندهار ولایت کي ډېر ویل کېږي. کله چي یو وړ او مناسب شخص له کاره گوښه او پر ځای یې یو بل نا وړه شخص راسي، نو خلک دا متل وایي. [1]

[1] دا کیسه مي په کوچنیوالي کي زموږ په کلي کي له یوې کوچۍ سپین سري ښځي څخه چي موږ به ( کوچنۍ تره کې ) بلل اورېدلې ده. (ع، همت )

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د دې ځای وم، د دې ځای سوم

وايي چي د يوه غريب سړي کره مېلمه راغی، نه يوه، نه دوې او نه درې ورځي وې، څو هفتې يې پرله پسې تېري کړې، د کور به په کور کي خوراکي شيان مخ پر خلاصېدو ول، له يوې خوا د خپل اولاد په ډوډۍ پوري حيران و او له بلي خوا يې مېلمه د اوږدو پېټی و. کوربه چي د مېلمه په مخ کي هر څومره د خپلي بېوزلۍ خبره ياده کړه مېلمه بيا هم سر خلاص نه کړ او ښه درانه يې اړولي وه.

يو وخت کوربه خپلي ښځي ته وويل چي دا سړی خو زموږ کره داسي بېغمه ناست دی لکه خپل کور چي يې وي، په نيمه خو نه پوهېږي، بايد يوه داسي لار ورته جوړه کړو چي خپل کور ته ولاړ سي. ښځي يې ورته وويل چي مېلمه يوازي يوه مور لري چي ډېره سپين سرې ده، ورته و به وايو چي مور دي ناجوړه ده، ګوندي په دې خبره وارخطا او خپل کور ته ولاړ سي. مېړه يې هم ورسره ومنله او مېلمه ته يې د هغه د مور ناروغي ورياده کړه. مېلمه وويل چي زما خيال و چي سبا کور ته ولاړ سم، خو اوس چي مي مور ناجوړه ده نه ځم، ځکه چي مور مي ناروغه ده، خپل کار يې خپل کار دی زما لپاره ډوډۍ پخول او کالي پر ېولل بيا بل جنجال دی، ناروغه ښځه ده، هم خپل او هم زما خدمت نه سي کولای، تر هغو چي مور مي جوړېږي کور ته نه ځم او ستاسي کره به اوسم.

کوربه او ښځي چي يې دا خبره واورېده، نو حيران سول چي اوس څه وکړي؟ تر ډېرو سوچونو وروسته يې دا نقشه جوړه کړه چي مېلمه ته به ووايو چي مور دي مړه سوه. هغه و چي کوربه او مېرمن يې خفه او په ژړغوني ډول مېلمه ته راغلل،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویل وروره ستا لپاره یو بد خبر لرو، نه پوهېږو چي درته ووایو کنه؟ خو خیر چاره نسته. همدا اوس ستاسي له کلي څخه یو سړی راغی ویل ستا مور وفات سوه، کلیوالو ویل چي ده ته ووایه چي ژر راسي. مېلمه چي دا واورېده، نو پټو یې تر ځان لاندي کړ، ښه ارام ورباندي کښېناست او ویې ویل: پخوا به که کور ته تلم خو مور مي ژوندۍ وه اوس چا ته ورسم؟ بس داسي یې وبوله چي د دې ځای وم، د دې ځای سوم.

یادونه:

دا متل په غزني، وردگو، پکتیکا او لوگر ولایتونو کي ډېر ویل کېږي. کله چي یو څوک په یوه کار یا یوه ځای کي درانه واړوي او هلته پاته سي، نو دا متل وایي. [1]

[1] دا کیسه مي د ( ۱۳۶۴ ش ) کال د جنوبي پښتونخوا په هندوباغ یا په نوي اصطلاح ( مسلم باغ ) کیمپ کي له ښاغلي محمد پذیر رشید څخه اورېدلې ده. ښاغلی رشید د پکتیکا ولایت، ارگون ولسوالۍ د چانه خوا د مرغې کلي اوسېدونکی دی، خو ډېر ژوند یې په کابل کي کړی دی. (ع، همت)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د خدای و د پردې، ادې مېړه کاوه، خو ابا راغی له مکې

پخوا به حاجیان پر پښو حج ته تلل چې تګ او راتګ به یې څو میاشتې او کله نا کله یو کال وخت نیوه. په لاره کې به له ډول ډول خواریو او تکلیفونو سره مخامخ کېدل. وایي یو سړی چې سالار نومېده د حج نیت وکړ، ځوانه ښځه او دوې کوچنۍ لوڼې یې په کور کې پرېښودې او دی حج ته روان سو. څو میاشتې وروسته چې نور حاجیان راغلل سالار ورسره نه و، خپلوانو یې توري ځمکې ورپسې سپیني کړې، خو د سالار پته و نه لګېده.

د لاري ملګرو یې ویل چې سالار په لاره کې راڅخه ورک سو، نور نه یو خبر چې مړ به وي او که ژوندی. چا به ویل چې په لاره کې څو حاجیان شرمښانو وخوړل، کېدای سي چې دی یې هم خوړلی وي، چا به ویل چې غلو به وژلی وي، چا به بیا ویل چې سالار له دې خوا یو څه ناروغه و، کېدای سي چې مړ سوی وي.

د سالار خپلوانو چې دا خبري واورېدې نو زړه ته یې ولوېده چې سالار مړ دی، د فاتحې کمبلې یې واچولې او فاتحه یې واخیسته. که څه هم ټولو خلکو سالار مړ باله، خو ملایانو بیا هم د هغه کونډې ته اجازه نه ورکوله چې بل مېړه وکړي، د سالار کونډې هم له حیا څخه څه نه ویله .

یو په بل پسي کلونه تېرېدل چې په دې وخت کي د کونډې دوې لوڼې پېغلې سوې، اوس چې به نو کله د کونډې د کور مخ ته کوم لاروی تېر سو، نو د کلي خلکو به ویل چې په دې سړي کي خامخا څه فساد سته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کونډه له یوې خوا د خلکو خبرو او له بلې خوا غریبۍ تنګه کړه، خو څه یې له لاسه نه کېده. یوه ورځ یو نابلده مسافر راغی او په کلي کې یې شپه سوه، مسافر په خبرو خبرو کې وویل چې زموږ سره په حج کې یو سړی ملګری و چې سالار نومېده، له هغې خوا چې راتلو په لاره کې لېوانو وخوړ. کلیوالو چې دا خبره واورېده، نو زړه ته یې ولوېده چې هغه سړی خامخا زموږ د کلي سالار دی.
تر دې وروسته ملایانو وویل چې د سالار کونډه مېړه کولای سي. څرنګه چې د کونډې لوڼې پېغلې سوې وې او د کونډې هم زړه مات سوی و، اوس یې واده زړه نه غوښت، خو د هغې په باره کې د کلیوالو خبرې ورځ په ورځ ډېرېدې. اخیر کونډه له دې خبرو څخه ډېره تنګه سوه، یوه ورځ یې د ګاونډې ښځې ته وویل چې بس ده نور د خلکو ګډې وډې خبرې او تورونه نه سم زغملای، غواړم چې مېړه وکړم، خو له داسې چا سره واده کوم چې زما د لوڼو ساتنه او پالنه هم وکړي.
دا اوازه په لږ وخت کې په ټول کلي کې خپره سوه، وروسته شا وخوا نور کلي هم خبر سول چې د سالار کونډه غواړي مېړه وکړي. څرنګه چې کونډه ښایسته وه نو ډېرو خلکو غوښتل چې واده ورسره وکړي، هغه و چې پر کونډې د مرکو باران جوړ سو، یوه مرکه به نه وه تللې چې بله به راغله.
د کونډې لوڼې ډېرې وارخطا سوې، ویل که ادې مېړه وکړي د دوی پای به څه وي؟ مور ته یې وویل چې که ته مېړه وکړې زموږ ژوند به تر دې هم تریخ سي، خدای خبر چې پلندر به موږ وساتي کنه؟ اوسنی ژوند که ښه دی او که بد په ګډه به یې سره تېروو. لوڼو چې یې هر څه زارۍ او جګۍ ورته وکړې کونډې نه منلې، ویل زه نور د خلکو خبرې نه سم زغملای، هر څه چې کېږي مېړه کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بس د خدای کړه دي او د بنده ورته کاته دي، په دې وخت کي سالار روغ رمټ کور ته راغی. په کلي کي چوک چوکه (هنگامه) سوه چي سالار ژوندی دی. د سالار کونډه او خپلوان ډېر خوشاله سول، په تېره بیا د کونډې لوڼي خو له خوشالیه په کالیو کي نه ځایېدې. په دې وخت کي د سالار مشري لور کشري خور ته په خوشالۍ وویل: خورکۍ ! د خدای مهربانۍ ته وگوره، له لویي شرمنده گۍ څخه خلاص سولو، که ادې مېړه کړی وای او بیا بابا راغلی وای په کور او کلي کي به مو پزه پرې سوې وای. کشري خور یې په خندا ورغبرگه کړه: د خدای و د پردې، ادې مېړه کاوه، خو ابا راغی له مکې.

یادونه:

دا متل په کندهار کي ډېر ویل کېږي. کله چي په اټکلي او تصادفي توگه یو څوک له خطر او شرمندگۍ څخه وژغورل سي او پرده یې وسي، نو دا متل وایي. [1]

---

[1] دا کیسه مي په کوچنیوالي کي د کندهار ولایت، ډنډ ولسوالۍ د ( کوبي ) د کلي له یوې سپین سري ښځي څخه چي مور (ادې) بلله اورېدلې ده. (ع، همت )

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د خسرګنۍ د کور ډوډۍ اغزي لري

وايي چې يوه ښځه د خسر په کور کې ډېره ناراضه وه، د وخت په تېرېدو سره د ښځې لوڼې پېغلې او زامن يې ځوانان سول چې ورسره د دې ژوند هم ښه سو، که څه هم اوس يې ژوند ښه و، خو د دې له زړه څخه هغه پخوانۍ ترخې خاطرې او ديدنۍ نه وتلې، کله چې به د خسر يا خسرګنۍ نوم ياد سو، نو د دې تر خوله به بې واره دا خبره ووته چې د خسرګنۍ د کور ډوډۍ اغزي لري. لوڼې او زامن يې نه پوهېدل چې مور ولې دا خبره کوي، زموږ د کور ډوډۍ خو اغزي نه لري.
يوه ورځ دې ښځې خپله يوه لور ورکړه او د واده وخت راغی، کله چې يې ناوې تر کور ايستله نو مور خپلې لور ته په غوږ کې کرار وويل: لوري د خسرګنۍ په کور کې به ډېر پام کوې، هغه دي د پلار کور نه دی چې پر هر چا به ګرانه يې، ډېر به پام کوې چې د خسرګنۍ د کور ډوډۍ اغزي لري. لور چې يې پخوا هم په دې خبره نه پوهېده دا وار هم پوه نه سوه، خو څه يې و نه ويل او د هوکې په ډول يې سر وښوراوه.
کله چې ناوې د خسر کور ته ولاړه، نو تل به يې ډوډۍ ته په ځير ځير کتل چې کوم اغزی پکښې نه وي، هر څومره چې يې وکتل، نو په ډوډۍ کې يې کوم اغزی و نه ليد، حيرانه سوه چې مور خو ويل د خسرګنۍ د کور ډوډۍ اغزي لري، په دې ډوډۍ کې خو اغزي نسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د وخت په تېرېدو سره د مېرې، خواښي، خسر، يونې، اندرندو او لېورونو ګډووډو خبرو د ناوي ژوند تريخ کړ، چا به يې اشپزي نه خوښوله، چا به ويل چې ډوډۍ پخول يې نه دي زده او چا به ويل چې لټه ده. کله چې به دسترخوان هوار سو، نو مېرې، خواښې، خسر او يا لېوره به داسې خاري او اغزنه خبره ورته وکړه چې په ناوي پوري به يې خپله ډوډۍ زهر کړه. ناوي چې به د خسرګنۍ لغازونه او پېغورونه واورېدل، نو له دسترخوان څخه به ورېې ولاړه سوه، لنډه دا چې ورځ په ورځ يې ژوند خرابېده، خو نه پوهېده چې څه وکړي.

يوه ورځ چې دسترخوان اوار سو، نو خواښي ډوډۍ ته وکتل او په درد يې ناوي ته وويل: ملا دي ماته سه کوچنۍ خو نه يې، دا ډوډۍ ده چې تا پخه کړې ده؟ په دې وخت کي د ناوي په خوله کي ډوډۍ داسي کلکه ونښته لکه اغزي چې لري، نور يې زغم نه درلود، له دسترخوان څخه ورېې ولاړه سوه، خپلي خوني ته ولاړه او په ژړا يې شروع وکړه. په دې وخت کي يې د خپلي مور خبره ورياده سوه، له ځان سره يې وويل: بس اوس پوه سوم، د مور مطلب مي د خسرګنۍ لغازونه او پېغورونه ول، دا خو رښتيا د خسرګنۍ د کور ډوډۍ اغزي لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## خپل وطنه، گل وطنه

یادونه:

دا متل د کندهار په ښځمنو کي ډېر ویل کېږي. کله چي یوه ښځه د خسرگنۍ په کور کي له کوم مشکل سره مخ سي یا د خسرگنۍ له خوا پېغور واوري، نو دا متل وایي.[1]

[1] دا کیسه مي په کوچنیوالي کي له خپلي انا ښخه اورېدلې ده. (ع، همت)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# داسي دروااغ مه وایه چي سبا رښتیا کېږي

وايي چي په پخوا زمانه کي دوه ورونه ول، دا یو ورور یې ډېر رند، چالاک او زیرک و، ځان یې د خپلي چالاکۍ له برکته د پاچا دربار ته ورساوه او پاچا د ځان مشاور وټاکه، په لږ وخت کي د ډېر شهرت او پیسو خاوند سو.

د دې سړي بل ورور ساده، مړخولی او ډېر بېوزله و، ده چي کله ولیده چي ورور یې دربار ته ننوت نو ده هم هڅه وکړه چي دربار ته ننوځي او ځان پاچا ته ورنژدې کړي، خو د پاچا خوښ نه سو او له دربار څخه یې وشاړه.

یوه ورځ یوه سړي ورته وویل چي ډېر ساده سړی یې، ستا ورور په دروااغو ځان پاچا ته ورنژدې کړی دی او ته هیڅ دروااغ نه وایې، په صداقت او رښتیا ویلو څوک دربار ته نه سي ننوتلای، که زما منې نو پاچا ته داسي لوی دروااغ ووایه چي ستا ورور په خوب هم نه وي لیدلي.

غریب سړی هم بله ورځ پاچا ته ورغی او ورته ویې ویل چي ستا لپاره یو په زړه پوري خبر لرم، پاچا ویل وایه څه خبره ده؟ غریب سړي وویل: نن سهار وختي چي زه له خوبه راکښېناستم، نو په اسمان کي یوه سپي غپل. پاچا ته په دې دروااغو سخت درد ورغی، عسکرو ته یې وویل چي دا دروااغجن ونیسئ او په دار یې وځړوئ.

په دې وخت کي د غریب سړي ورور خبر سو، سمدلاسه پاچا ته ورغی او ورته ویې ویل: پاچا صاحب ستا قربان سم، فقط زما یوه خبره واوره، بیا که دي زما ورور واژه او که دي باخښه. پاچا یې هم خبره ومنله، ویل ښه وایه ! چالاکه ورور

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې وویل: پاچا صاحب زه خپل ورور ډېر ښه پېژنم، ده په ټول ژوند کې دروغ نه دي ویلي، اصلي خبره دا ده چې یوه شاهین د سپي کوچنی بچی په منګولو کې نیولی او هوا ته یې پورته کړی و، هغه د سپي کوچني بچي په هوا کې غپل او ده یې غپا اورېدلې ده، دی بېچاره یو ساده سړی دی، داسي فکر یې کړی دی چې ګواکي په اسمان کې سپي غاپي.
پاچا چې دا خبره واورېده، نو امر یې وکړ چې سړی خوشي کړئ. غریب سړی چې یې له دار څخه راکښته کړ، نو چالاکه ورور یې په غوږ کې سوکه ورته وویل: ته زما په شان نه سې کېدای، دا خبره سمه ده چې ما په دروغو او چالاکۍ پر پاچا ځان ګران کړی دی، خو ستا په شان ساده نه یم، دروغ هم یوه لار لري، دا وار خو له مرګه خلاص سوې خو بیا پام کوه، داسي دروغ مه وایه چې سبا رښتیا کېږي.

یادونه:
دا متل په کندهار کې ډېر ویل کېږي. کله چې یو څوک په خپلو دروغو کې بند او یا رسوا سي، نو خلک دا متل وایي. [1]

[1] دا کیسه مي په کوچنیوالي کې له خپل پلار څخه اورېدلې ده. (ع، همت)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د خره مینه لغته ده

وايي چي يوه بزګر يو خر او يو سپی درلود. سپي له خاوند سره ډېره مينه درلوده. کله چي به بزګر له کار څخه ستړی ستومانه کور ته راغی، نو سپی به يې د روغبړ لپاره مخ ته ورغی، په پښو کي به يې ور ولوېد، کله به يې خپلي دوې پښې په غاړه کي ور واچولې، کله به يې خپله يوه پښه د روغبړ په ډول د خاوند په لاس کي ورکړه .

د بزګر هم د سپي لوبي ډېري خوښېدې او له همدې خاطره به اکثره وخت ورسره ملګری و. خره چي د بزګر له خوا د سپي ګرانښت وليد نو بد يې راغله، له ځان سره يې فيصله وکړه چي بايد تر دې وروسته دی هم له خاوند سره لوبي وکړي چي دی هم ورباندي ګران سي.

يوه ورځ بزګر له کاره ستړی ستومانه راغی، سپي چي خاوند وليد، نو ورمنډه يې کړه او له هغه سره يې لوبي پيل کړې. په دې وخت کي خره هم ورمنډه کړه او له خاوند سره يې ساتېری شروع کړ، خره پورته پورته ټوپونه وهل چي په دې وخت کي يې خاوند په نس کي په لغته وواهه، له دې سره سم بزګر راچپه او بې سده سو.

سپي چي خپل خاوند وليد، نو په غپا يې پيل وکړ، په دې وخت کي د بزګر مېرمن راغله ګوري چي مېړه يې بې سده پروت دی، په زوره زوره يې چيغي کړې، ويل وا خلکو د خدای پر پار مرسته راسره وکړئ چي مېړه مي مړ سو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## خپل وطنه، گل وطنه

گاونډيانو چي د بزگر په کور کي چيغي واورېدې، نو د مرستي لپاره ورته راغلل. کله چي بزگر په سد کي راغی، نو گاونډيانو پوښتنه ځني وکړه چي څه درپېښه سوه؟ بزگر د خپل سپي او خره کيسه ورته وکړه. په دې وخت کي يوه گاونډي په ملنډو وويل: د خره مينه لغته ده.

يادونه:
دا متل په ډېرو پښتني سيمو کي ويل کېږي. کله چي يو بې عقل سړی يو ناړوه کار وکړي او داسي فکر کوي چي ښه کار کوي، نو خلک دا متل وايي. [1]

[1] دا کيسه مي د جنوبي پښتونخوا د پنجپای يا محمد خېلو په کيمپ کي له اروابښاد معلم عبـدالرازق څخه اورېدلې ده. دی اصلا د کندهار ولايت، ارغنداب ولسوالۍ د لويې منارې د کلي اوسـېدونکی و. ( ع، همت )

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دوه چې سره جوړ سي، د دریم دي نو مخ تور سي

وایي چې یوه ګیدړه او چغال ( سورلنډی) سره انډیوالان ول، دوی به په ګډه ښکار کاوه او بیا به یې په ګډه سره خوړ. یوه ورځ دوی خبري سره کولې چې په دې وخت کي له لیري یو وړی زمری راښکاره سو. چغال او ګیدړه ډېر سخت وارخطا سول، چغال ګیدړي ته وویل چې زمری ډېر وږی دی او ځني تښتېدلای هم نه سو، ژر یوه چاره وکړه چې ومو نه خوري.

ګیدړي ورته وویل چې ته بېغمه اوسه زما یې چاره زده ده، هر څه چې زه وایم ته هغسي وکړه، کله چې زمری ګیدړي دوی ته راورسېد په دې وخت کي ګیدړي له چغال سره غالمغال جوړ کړ. زمري ویل پر څه مو جنجال دی؟ ګیدړي وویل چې پاچا صاحب قربان دي سم، ښه سو چې راغلې که نه موږ خپله ستا حضور ته در تلو. خبره داسي ده چې ما او چغال په ګډه پنځه چرګان نیولي او په غار کي مو ساتلي دي، مشکل دا دی چې اوس یې پر وېش نه سره جوړېږو.

زمري چې دا خبره واورېده نو په زړه کي ډېر خوشاله سو،ویل درځئ زه مو روغه جوړه در وکړم. له دې سره سم زمری له ګیدړي او چغال سره د غار خوا ته روان سول، غار ته چې ورسېدل نو چغال غار ته ننوت او زمری او ګیدړه دباندي ورته ودرېدل، چغال په غار کي ځنډ وکړ، د زمري زړه تنګ سو او په درد یې وویل: اې چغاله څه سوې چې درک دي ورک سو؟ چغال په عاجزۍ ورته وویل: پاچا

(c) ketabton.com: The Digital Library



صاحب قربان دي سم، زه په يوازي سر تول چرګان نه سم نيولای، کله چي يو چرګ نيسم بل راځخه ايله کېږي.
څرنګه چي غار تنګ و او زمری خپله نه سوای ور ننوتلای نو ګيدړي ته يې وويل چي ته ور ننوزه او د چرګانو په نيولو کي له چغال سره مرسته وکړه. ګيدړه هم سمدلاسه غار ته ورننوته. زمري ښه ډېر انتظار وکړ، خو د ګيدړي او چغال درک معلوم نه سو. زمری وغورېد او په درد يې وويل : اې سپين سترګو څه سولاست؟ ژر را ووځئ چي پر ما ناوخته کېږي.
ګيدړي په غوره مالۍ وويل : پاچا صاحب ستا سي يې کور ودان چي غواړئ زموږ تر منځ روغه وکړئ، خو موږ په کور کي سره جوړ سولو، ستاسي يې په مخه ښه.
زمری بيا وغورېد او په درد يې وويل:نه داسي نه کېږي، بايد زه مو جوړه دروکړم، ګيدړه چي اوس يې ځان د زمري له شره خوندي باله زمري ته وويل : دوه چي سره جوړ سي، د دريم دي نو مخ تور سي.
يادونه:
دا متل د کندهار په ښځو او ماشومانو کي ډېر ويل کېږي. کله چي دوه نفره تر شخړي وروسته سره جوړ سي او بيا يو دريمګړی راسي او غواړي چي هغوی بيرته په جنګ سره اخته کړي، نو دا متل ويل کېږي. [1]

[1] دا کيسه مي په کوچنيوالي کي له خپل پلار څخه اورېدلې ده. (ع، همت)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دومره بخت به مي له څه وي
# چي کاکو(1) به مي مېړه وي

وايي چي يوه ښځه په ځوانۍ کي کونډه سوه، يو څه وخت يې صبر وکړ، خو وروسته يې ژوند تريخ او يوازي ژوند کول ورته گران سو، فيصله يې وکړه چي مېړه وکړي. لېورونو او ترېورو يې ورته وويل چي يواځي به په کور او تربورونو کي مېړه کوې اوبس. دې چي وکتل نو خپل يو لېور چي خلکو (کاکو) باله د واده لپاره خوښ کړ، خو له شرمه يې چا ته نه سواى ويلاى چي زه غواړم له کاکو سره واده وکړم. کاکو که څه هم بله ښځه درلوده خو تر نورو لېورونو ځوان او له ښځو سره په گوزاره کي ښه و.

ورځي شپې همداسي تېرېدې. يو وخت يې ايندرور يانې د کاکو مېرمنه ورباندي پوه سوه چي دا غواړي زما له مېړه سره واده وکړي. ايندرور غوښتل چي ځان ډاډه کړي چي رښتيا کونډه غواړي زما له مېړه سره واده وکړي او که هسي ما گومان ورباندي کړى دى. هغه و چي کونډې ته يې د دوى يو تربور ورياد کړ چي هغه غواړي ستا سره واده وکړي. کونډې وويل چي د هغه سرې رنگ څنگه دى؟ ايندرور يې وويل چي رنگ کي کټ مټ لکه کاکو داسي دى. په دې وخت

1 : کاکو په کندهارۍ لهجه کي د درناوي او ناز له امله کاکا يا اکا ته وايي لکه (درخانۍ) (لالا ) او (ماما) ته چي ( درخو) (لالو ) او ( مامو ) ويل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## خپل وطنه، گل وطنه

کي د کونډي تر خولې بې واره ووتل : دونه بخت به مي له څه وي چي کاکو به مي مېړه وي؟

یادونه:

دا متل په زابل ولایت کي ویل کېږي. کله چي یو څوک په خپل نصیب او برخلیک خوښ نه وي ،ځان بدمرغه بولي او خپل د خوښي مقام او ارمان ته نه سي رسېدای، نو له ناهیلۍ څخه دا متل وایي. [1]

[1] دا کیسه په ( ۱۳۸۹ ش ) کال د لړم د میاشتي پر څلورمه نېټه ښاغلي سعید زابلي په ټیلیفون کي راته ویلې ده. ښاغلی زابلی د زابل ولایت، شمولزو ولسوالۍ، ږیخ دیار سیمي د غبرگي کلي اوسېدونکی دی. (ع، همت )

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د نشې وعده وه، له نشې سره ولاړه

وايي چې يو چا دشرابو بوتل پر انبار (ډېران) وغورځاوه، په بوتل کې لږ شراب پاته ول، ډېران ته نژدې د موږک غار هم و، موږک چې له غار څخه را و وت، نو په بوتل ننووت او شراب يې وڅښل. کله چې نشه سو، نو لار ځني ورکه سوه، په بوتل کې يې دې خوا او ها خوا منډې کړې خو له بوتل څخه نه سواى راوتلاى، اخير په بوتل کې پرېوت او لغتې يې وهلې.

په دې وخت کې پيشي راغله، گوري چې موږک په بوتل کې بند دى. موږک چې پيشي وليده نو په ډېره زړه ورتيا يې وربړغ کړه: اې گراني پيشو جانې، ما له دې بوتل څخه در وباسه سرمې تر تا قربان دى. پيشي ورته وويل چې ته همېشه وعده کوې، خو بيا خپله وعده نه پوره کوې، موږک ورته وويل چې دومره ناځوانه نونه يم چې ته ما له بوتله وباسې او زه به ستاسره ناځواني کوم. پيشي بوتل په منگولو کې پورته کړ او له مځکې يې وواهه، بوتل مات سو او موږک ځني را ووت، له راوتلو سره سم يې منډه کړه او په خپل غار ننووت. پيشي يو ساعت دغار و مخ ته ودرېده، اخير له ډېره انتظاره ستړې سوه او موږک ته يې ورناره کړه چې ناځوانه زه يو ساعت کېږي چې درته ولاړه يمه او ته نه راوزې، تا خو ويل چې زه خپله وعده پوره کوم او اوس پټ سوې؟ موږک په خندا ورته وويل: پيشو جانې ورځه په مخه دې ښه، هغه د نشې وعده وه، له نشې سره ولاړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یادونه:

دا متل په کندهار کې ډېر ویل کېږي. کله چې یو څوک د یوه بې پروا او درواغجن سړي خبري ته ارزښت ورکوي او یا یوه تر وخت تېره موضوع بیا راپورته کوي، نو خلک دا متل وايي.[1]

[1] دا کیسه د ( ۱۳۸۹ش ) کال د لړم د میاشیت پر اوومه نېټه ښاغلي معلم عبدالاحد سرتیف د بریښنالیک له لارې را لېږلې ده. (ع، همت)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# داسي وم لکه دا ته، داسي به سې لکه دا زه

وايي چي يو سړی ډېر سپين ږيری او کمزوری سو، څه مهال وروسته ګوزڼ ( فلج ) وواهه او پر ځای پر پووت، خوراک، څښاک او هر څه يې په ځای کي ول. سپين ږيري يو لمسی هم درلود چي ډېر ورباندي ګران و، پر لمسي هم خپل نيکه ډېر ګران و او ټوله ورځ به ورسره ناست و. په لومړيو وختونو کي يې سپين سري مېرمني خدمت کاوه، خو وروسته هغه هم مړه سوه او د سپين ږيري خدمت د خپلي نږور له غاړي سو.

مږور يې هم يو څو ورځي خدمت وکړ، خو وروسته يې زړه نه غوښتل چي خدمت يې وکړي. هغه و چي خپل مېړه ته يې د خسر په باب شکايتونه پيل کړل. مېړه يې له شرمه پلار ته څه نه سوای ويلای او بله چاره يې هم نه درلوده، کله چي ښځه پوه سوه چي مېړه يې خبره نه مني نو په خسر پوري يې ډول ډول تورونه پوري کړل، لنډه دا چي اخير يې مېړه راضي کړ چي خپل سپين ږيری پلار له کوره وباسي.

زوی يې سپين ږيری پلار په يوه زاړه کټ کي راواخيست او په يوه دښت کي يې يوازي پر ښود. د سړي پام نه و چي د سپين ږيري لمسی هم پټ ورپسې دی، سړي سپين ږيری ليري يوه دښت ته راوړ او غوښتل يې چي په دښت کي يې يواځې پر ږدي، په دې وخت کي يې زوی د شا له خوا ورناره کړه چي بابا جان مه وژنه ! هلک چي هر څومره وژړل او پلار ته يې زارۍ او جګۍ وکړې، خو هغه يې خبره ونه منله. سپين ږيری يې په دښت کي پر ښود او دی څني روان سو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## خپل وطنه، گل وطنه

په دې وخت کې ماشوم خپل پلار ته وویل چې بابا کټ ولې کور ته نه درسره وړې؟ کټ کور ته درسره یوسه چې بیا زما په کار دی، کله چې ته هم سپین ږیری سوې، نو زه به دې په کټ کې همدلته راوړم. سړي چې دا خبره واورېده نو پر پلار یې زړه وسوځېد او بیرته وروګرځېد. زوی یې بیرته پلار په کټ کې واخیست او د کور پر خوا روان سول.

په لار کې پلار وویل چې لمسی مې سمه خبره کوي، ما هم خپل سپین ږیری پلار وژلی و، په همدې کټ کې مې راوړ او په همدې دښت کې مې غورځولی و، ما ته د خپل پلار کیسه راپېښه سوه او تا ته به هم زما کیسه درپېښه سي، بیا یې ورته وویل: خدای کساتونه اخلي، داسي وم لکه دا ته، داسي به سې لکه دا زه.

یادونه:

دا متل د کندهار په سپین ږیرو کې ډېر ویل کېږي. کله چې کوم سپین ږیري ته خپل پخواني برم، مستي، ځواني او هستي وریاده سي او بیا خپلي اوسنۍ ناتوانۍ او بې وسۍ ته وګوري او یا کوم ځوان د سپین ږیرتوب او ناوسۍ پېغور ورکړي، نو سپین ږیری دا متل وایي.[1]

---

[1] دا کیسه مي په (۱۳۷۵ش) کال له ښاغلي عبدالغني څخه د جنوبي پښتونخوا مرکز کوټې ښار په خروټ اباد نومي سیمه کي اورېدلې ده. نوموړی د کندهار ولایت، ارغنداب ولسوالۍ د ناګان کلي اوسېدونکی دی. (ع، همت)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د درانه پېټي پروا مې نسته،

## د خره په لکۍ پورې ترل مې ځوروي

وايي په پخوا وختو کې يو ډېر موړ او خان سړی و چې خورا ډېر سره او سپين زر يې دلودل، پر دې سربېره يې خورا ډېرې وزې، پسونه، اوښان، آسان او خرونه هم درلودل. يو وخت خان ناروغه سو، زامنو يې د هغه وخت ټول طبيبان ورته راوستل او ډېرې پيسې يې ورکړې چې د خان علاج وکړي. طبيبانو چې هر څومره خپل وس وکړ او خان ته يې ډول ډول دواوې ورکړې خان بيا هم جوړ نه سو، د خان ناروغي ورځ په ورځ ډېرېده، خان پوه سو چې نور نو نه جوړېږي، زامنو ته يې وويل چې زما ټول خپلوان او نوکران راولئ، زامنو يې هم خپل ټول خپلوان او نوکران راوستل.

خان وويل چې زه نور نه جوړېږم، ستاسې څخه هيله کوم چې خپل حق را خپل کړئ، که ما بد درسره کړي وي او يا مې ستاسې حق خوړلی وي نو ما وبخښئ. ټولو په يوه خوله وويل چې خان صاحب خدای دې تا وبخښي، موږ بخښلی يې. تر دې وروسته خان وويل چې زما څاروي ( حيوانان) هم راولئ چې له دوی څخه هم بخښنه وغواړم. زامنو يې د پلار امر پر ځای کړ او ټول څاروي يې ورته راوستل. خان وويل چې تاسې زما سره ډېرې نيکۍ کړې دي، په هر ډول سخته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورځ کې مو زما مرسته کړې ده، زه چې څومره پیسې لرم دا ټول ستاسې برکته دی.

بیا یې یوې یوې وزې ته وویل چې کېدای سي ستاسي سره به مي ظلم کړی وي او یا به مي وږي تږي پرې ایښي یاست، اوس زه مړ کېږم، هیله ده چې ما وبخښئ، وزو ورته وویل چې خدای دي تا وبخښي، موږ بخښلی یې. بیا یې هر یوه پسه ته وویل چې تاسې هم ما وبخښئ، پسو ورته وویل چې موږ هم بخښلی یې. وروسته یې خرو ته وویل چې زما له لاسه پر تاسي ډېري سترياوي، لوږي او تندي تېري سوي دي، زما له لاسه مو ډېر وهل ټکول خوړلي دي، زه پر دې کارونو ډېر پښېمانه یم، هیله ده چې ما وبخښئ، خرو ورته وویل چې موږ هم بخښلی یې.

په پای کې د اوښانو وار راغی،اوښانو ته یې وویل چې تاسې زما په خاطر ډېري خواري ګاللي دي، په ورځو ورځو به وږي تږي پاته واست، په سرو غرمو او سرو ریګو کې به مو مزلونه کول، زما لپاره به مو ډېر درانه بارونه وړل. ټولو اوښانو وویل چې موږ بخښلی یې خو په پای کې یو اوښ پاته سو. خان ورته وویل چې پر تا مي هم ډېر ظلمونه کړي دي، ډېر مي ستړی کړی یې، زما ښه یاد دي چې یوه ورځ مي پر تا، خره او اس پيټي بار کړي ول او په یوه اوږده سفر روان وو، په لاره کې خر په یوه کنده کې ولوېد او یوه پښه یې ماته سوه، ته سره له دې چې خپل پيټی دي درلود ما د خره پيټی هم درباندي بار کړ، په هغه ورځ که څه هم ډېر ستړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوې، خو په خوله دي څه و نه ویل، زه د هغې ورځې د ظلم له امله ډېر شرمنده یم، اوس زه مړ کېږم هیله ده چې ما وبخښې.

اوښ ورته وویل چې ستا له خوا وهل ټکول، لوږې، تندې او سترياوي مې ټولي در بخښلي دي، خو يوه ورځ دي ما ته ډېر په سپکه سترگه کتلي دي چې هغه نه در بخښم. تا به کله نا کله زما مهار د بل اوښ په لکۍ پوري وتاړه او زما واک به دې هغه ته ورکړ. په دې کار مې هيڅ پروا نه کېده، ځکه چې اوښ زما سيال، زما سره برابر او زما له قوم څخه و، خو يوه ورځ دي زما مهار د خره په لکۍ پوري وتاړه او خر دي زما واکمن او رهبر کړ، په دې ورځ دي ما ته ډېر په سپکه سترگه وکتله چې تر اوسه مې نه هېرېږي. زه ستا ټول ظلمونه او جفاوي بخښم، خو دا ناځواني دي نه سمه بخښلای.

خان د اوښ په دې خبره سم پوه نه سو او بيا يې د درانه پيټي له امله معذرت وغوښت، خو اوښ خپله کيسه بيا تکرار کړه او و يې ويل: د درانه پېټي پروا مې نسته، د خره په لکۍ پوري تړل مې ځوروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یادونه:

دا متل په کندهار کي ډېر ویل کېږي. کله چي د سیال سړي واک ناسیال او ناځوانه سړي ته وسپارل سي، په تېره بیا دا چي ناسیال سړي ته مشرتوب وسپارل سي، نو خلک دا متل وایي.[1]

[1] دا کیسه مي په ( ۱۳۸۷ش ) کال په کابل کي له ښاغلي عبدالمجید لودین څخه اورېدلې ده. نوموړی اصلا د کندهار د ښار د خلورمي ناحیې د دفتر د کوڅې اوسېدونکی دی، خو اوس په کابل کي اوسېږي. (ع، همت)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ښار دروازې تړل کېږي، خو

# د خلکو خولې نه تړل کېږي

وايي چي يوه سړي خپله ښځه پر خره سپره کړې او دی پر پښو ورسره روان و، لاره ښه اوږه وه، دوی په خپلو منځو کي کيسې سره کولې او په دې ډول يې لاره لنډوله، په خبرو خبرو کي يوه کلي ته ورسېدل، د وني تر سيوري لاندي يوه ډله خلک ناست ول، کله چي يې دوی وليدل نو په خندا سول، ويل پخوا مېړانه په سيالي وه او اوس سپيتانه په سيالۍ ده، دا بې ننګه وګورئ چي ښځه يې پر خره سپره کړې او دی پر پښو ورسره روان دی، د مېړه قدر خو خدای له ښځي سره نه دی برابر کړی، دا د ماينې مزدور له خلکو هم نه شرمېږي.

پر سړي ښځه ډېره ګرانه وه، زړه يې نه غوښتل چي پر پښو دي ولاړه سي، خو کله چي يې د خلکو خبري واورېدې نو ښځي ته يې وويل چي ته له خره ځخه را کښته سه زه به پر خره سپور سم، کله چي له کلي ووتو بيرته به ته پر خره سپره سې. ښځي هم ورسره ومنله او له خره ځخه راکښته سوه، سړی پر خره سپور سو او ښځه يې د شا له خوا ورپسې روانه سوه.

لږ مخکي چي ولاړل نو د خلکو يوه بله ډله په مخه ورغله، هغوی چي وکتل نو ټوله په خندا سول، په ډېريو او ريشخنديو يې شروع وکړه، ويل دا بې ننګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وګورئ ! څومره پلن ښتې او غټې اوږې لري، خو له بې ننګيه پر ښځو نه سې تلای، نه له خدایه وېرېږي او نه له خلکو شرمېږي، خپله پر خره سپور دی او ښځه خوراکۍ يې پر پښو پسي روانه ده.

سړي چې د خلکو پېغورونه واورېدل، نو سخت درد ورغی، خو نه پوهېده چې څه وکړي؟ ښځې يې ورته وويل چې خير دی سړيه د خلکو په خبرو پسي مه ګرځه، درځه چې پر خپله لاره ځو. سړي بيا هم ځان د خلکو پېغورو ته نه سوای ټينګولای، هغه و چې دی او ښځه يې دواړه پر خره سپاره او له کلي ووتل.

تر لږ مزله وروسته بل کلي ته ورسېدل، د کلي خلکو چې سړی او ښځه وليدل چې پر يوه خره سپاره دي، نو ټول په خندا سول، ويل تاسي دا ظالمان وګورئ چې دواړه پر يوه خره سپاره دي، دا ډنګر خر وګوره او دوه نفره وګوره چې پر سپاره دي، دا ظالمان خو بيخي والله که د جنت مخ ووينې. سړي چې د خلکو خبري واورېدې، نو ښځې ته يې وويل چې توکل پر خدای دی، شکر خدای روغي پښې راکړي دي، راځه چې دواړه پر پښو ولاړ سو، کله چې له کلي ووتو بيرته به پر خره سپاره سو. ښځې يې ورته وويل چې د خلکو په خبرو پسي مه ګرځه، خلک په هر حال کې خبري راپسې کوي، سړي ويل چې ښځې نور د خلکو پېغورونه نه سم زغملای، هغه و چې دواړه له خره څخه راکښته سول، خر يې د مخه او دوی دواړه پر پښو پسي روان سول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له کلي لا نه وه وتلي چي يوه بله ډله خلک په مخه ورغله، خلکو چي دوی وليدل، نو په خندا او ملنډو يې پيل وکړ، ويل دا لېونيان وګورئ چي خر يې شاتوری روان کړی او دوی پر پښو ورسره روان دي، خر خو خدای د بار لپاره پيدا کړی دی، دا چي دا خلک کار نه ځني اخلي ګناه يې خپله ده. ښځي او مېړه چي د خلکو ملنډي او پېغورونه واورېدل، نو لاره او ګودر ځني ورک سول، نه پوهېدل چي څه وکړي او د کومي ډلي خبري ومني؟ اخير ښځي مېړه ته وويل سړيه که زما منې نو د خلکو په خبرو پسي مه ګرځه، د ښار دروازې تړل کېږي، د خلکو خولې نه تړل کېږي.

يادونه:

دا متل په کندهار کي ډېر ويل کېږي. کله چي يو څوک د عامو خلکو له خبرو څخه ځوربږي او يا غواړي چي يوه عامه خبره پټه کړي او ملګری او انډيوال يې دې ته هڅوي چي د خلکو په خبرو پسي و نه ګرځي او خپل کار ته دوام ورکړي، نو دا متل وايي.[1]

[1] دا کيسه مي په ( ۱۳۷۵ش ) کال له ښاغلي عبدالغني څخه د جنوبي پښتونخوا مرکز کوټې ښار په خروټ اباد نومي سيمه کي اورېدلې ده. نوموړی د کندهار ولايت، ارغنداب ولسوالۍ د ناګان کلي اوسېدونکی دی. (ع، همت)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډېر عمر ښه دی پنجوايي مي هم وليد

وايي چي يو وخت د پاشمول ([1]) په کلي کي يو غريب بزگر اوسېده، ده به خپله بزگري کوله او چندان به له کلي نه ووت، ان دا چي سپين ږيرى سو، خو بيا هم له کلي و نه وت.

يوه ورځ په کوم ضروري کار پسي د سيند د بلي غاړي کلي (پنجوايي)بازار ته ولاړ. بزگر چي تر اوسه يې د پنجوايي بازار نه و ليدلی دا کوچنی بازار يو لوی ښار ورته ښکاره سو. ورځ يې په ډېره خوشالۍ تېره کړه، ماځيگر چي بيرته کورته روانېده، نو داسي فکر يې وکړ چي دا يې په ژوند کي يو لوی برياليتوب دی، کله چي پاشمول ته ولاړ، نو په کور کي يې د پنجوايي کيسه ټکي په ټکي وکړه، د کيسې په پای کي يې په جگه غاړه او غرور وويل: ډېر عمر ښه دی پنجوايي مي هم وليد.

يادونه:

دا متل د کندهار ولايت په ژيړۍ او پنجوايي ولسواليو کي ډېر ويل کېږي.[1]

[1] : پاشمول په کندهار کي د يوه کلي نوم دی چي پخوا يې په پنجوايي پوري اړه درلوده، خو د نوي اداري تشکيل له مخي په ژيړۍ ولسوالۍ پوري وتړل سو. پنجوايي په کندهار کي د يوې ولسوالۍ نوم دی چي مرکز يې هم پنجوايي نومېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زه او لالا یوازي و، غل او کوتک[2] دوه ول

وایي چي دوه ورونه یو ځای په سفر روان ول چي په لاره کي یو غل پر پېښ سو، غله کوتک تر سر ورته واړاوه، ویل ښور و نه خورئ کنه ماغزه به مو دربادباد کړم. دوی هم له ډاره لاسونه پور ته کړل، غله د دواړو ورونو لاسونه وروتړل او هر څه چي یې درلودل ځني یویې وړل، ان دا چي د غاړي کالي یې هم ځني وایستل او دوی یې سره لغړ ایله کړل.

کله چي ورونه کلي ته ولاړل نو کلیوال پر راټول سول، ویل خدای دي یې خیر کړي، څه پېښه ده دا کالي چا در څخه وایستل؟ دوی ټوله کیسه ورته وکړه چي داسي غله ول، داسي و او هسي و. یوه کلیوال ور ته وویل چي بې غیرتو جنگ مو ولي نه ورسره کاوه؟ دوی وویل هغوی پر موږ زوروور ول، ځان خو به مو نه واژه. کلیوال یې له کشر ورور څخه پوښتنه وکړه چي غله څو نفره ول؟ ده ورته وویل چي زه او لالا یوازي و، خو غل او کوتک دوه ول.

---

[1] دا کیسه مي د ( ۱۳۸۸ش ) کال د وري د میاشتي پر یوولسمه نېټه له ښاغلي عبدالقیوم مینه وال څخه په تیلیفون کي اورېدلې ده. نوموړی د کندهار ولایت، ژیړۍ ولسوالۍ د وزیرو د کلي اوسېدونکی دی.

[2] : کوتک یو ډول غټ او دروند ډانگ دی چي شپانه د وسلې کار ځني اخلي او د ځان او رمې د ساتني لپاره یې له ځان سره گرځوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یادونه: دا متل په کندهار کې ډېر ویل کېږي. کله چې یو څوک بې غیرته وي او تر ځان د کمزوري دښمن له لاسه مات سي، نو خلک دا متل وایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سپي ته يې ويل د چا له لاسه په عذاب يې، ويل له خپله قامه

وايي چي په يوه سيمه کي سخته وچکالي راغله، خلک له له لوړي او تندي تنگ سول، څوک نورو سيمو ته کډه سول او پاته له ډېري لوړي او تندي سره لاس او گرېوان سول. دا وچکالي تر انسانانو د حيوانانو لپاره ډېره له خواريو ډکه وه، ډېر حيوانان له لوږي او تندي مړه سول، ځيني حيوانان له لوږي مړه او ځيني يې نورو سيمو ته ولاړل.

په دې ډله کي يو سپی هم له خپل کلي څخه روان سو، څو مياشتي يې مزل وکړ، يو وخت يوې داسي سيمي ته ولاړ چي هلته شنه باغونه او کلی ښکاره سول، سپي داسي فکر وکړ چي په دې سيمه کي خامخا وچکالي نسته او يا لږ ده، هغه و چي په کلي ورگډ سو.

يوه کليوال سپی وليد چي له تندي يې ژبه راوتلې او له ډېري وږي او له ډېري ډنگروالي يې پښتۍ راوتلي دي، زړه يې ورباندي وسوځېد، ډوډۍ او اوبه يې ورته کښېښوولې، سپي اول اوبه وڅښلې او بيا يې ډوډۍ وخوړه، کله چي موړ سو نو ستړيا يې راپورته سوه او خوب ورغی، سترگي يې لا نه وې سره ورغلي چي د کلي سپي په خبر سول، ټول په يوه سلا ورباندي راټول سول او مسافر سپی بېچاره يې داسي وداړه چي په خپلو وينو يې رنگ کړ.

سپی په ډېر تکليف له کلي څخه وتښتېد او بل کلي ته ولاړ، د هغه کلي خلکو چي وليد نو د دوی هم زړه پر وسوځېد، اوبه او خواړه يې ورته راوړل، په دې کلي کي چي هم سپي خبر سول نو ورباندي راټول سول، دې سپيانو هم مسافر سپی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## خپل وطنه، گل وطنه

داسي ټوک کړ چي تېښتي ته اړ سو، لنډه دا چي هر کلي ته به ورغی نو خلکو به ډېر نازاوه، خو چي کله به سپي ورباندي خبر سول نو له کلي به يې وشاړه.

په همدې منډه او تېښته کي بارانونه شروع سول، هري خواته اوبه او خواړه پيدا سول، کال اباد سو، انسانان او حيوانان هوسا سول. سپی چي په بل کلي کي يې د اوسېدو ځای نه درلود بيرته خپل کلي ته ولاړ. د کلي سپيانو چي وليد نو ډېر خوشاله او ورباندي راټول سول. يوه سپي ورته وويل چي موږ خو مړ بللی وې، ته دا دومره وخت چېري وې؟ څه دي وليدل او څه درباندي تېر سول؟ مسافر سپي د خپل ژوند ټوله کيسه ورته وکړه، ويل انسانانو ډېري نېکۍ راسره وکړې، خو له خپله قامه ډېر په عذاب وم.

يادونه:

دا متل په کندهار کي ډېر ويل کېږي. کله چي يو چاته د خپلو تربورونو، خپلوانو او خپل قوم له لاسه تاوان ورسېږي، نو د زړه له درده دا متل وايي. [1]

---

[1] دا کيسه مي د (١٣٨٨ش) کال د لړم د مياشتي پر اتلسمه نېټه په کابل کي د شپې پر لسو بجـو لـه ښاغلي عبدالحي څخه چي په حاجي لالا شهرت لري اورېدلې ده. (ع، همت)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سپرلیه ته لا ښه یې، خوابښې نه لرې ویده یې

وایي چې یوې خوابښي پر خپلې نږور ډېر ظلم کاوه، د کور ټول کارونه یې په کول. مږور که به یې روغه وه که به رنځوره له ناچاریه یې د کور ټول کارونه په یوازي سر کول. مېړه یې هم پر خبره غوږ نه نیوه او د مور او پلار یې څه په وسه نه وه چې ددې ظالمې خوابښې له شره یې خلاصه کړي.

یوه ورځ مږور کالي پرېولي او ډېره ستړې سوې وه، په همدې ورځ یې د غوا وابښه له یاده وتلي او دا ویده سوې وه، بله خواري دا وه چې په دغه شپه یې مېړه هم پر کور نه و. پر نیمه شپه یې د خوابښې پام سو چې مږور یې غوا ته وابښه نه دي ور اچولي، سمدلاسه یې د مږور خواته ور منډه کړه، مږور یې تر کوڅې ونیوله او په درد یې ورته وویل: پور ته سه سپاړې او ټمبلې ! غوا دي وږې پرې ایښې ده او ته ارامه ویده یې؟ ژر پورته سه غوا ته وابښه ورواچوه !

ښځه چې ډېره ستړې سوې وه او ټول وجود یې درد کاوه په ډېر تکلیف را ولاړه سوه، دالان ته ولاړه چې وابښه راواخلي او غوا ته یې ور واچوي. په دالان کې یې ولیده چې د دوی سپرلی په خواږه خوب ویده دی. ښځه چې خوب زنګوله پر خپل مظلومیت او یوازي والي ارمان ورته ودرېد او سپرلی یې تر ځان بختور وګاڼه، ویل که سپرلي خوابښې درلودای نو دی به هم د اوس غوندي ارام نه وای ویده، د زړه خواله یې بل چا ته نه سوای کولای نو هغه و چې سپرلي ته یې زړه تش کړ او ویې ویل: سپرلیه ته لاښه یې خوابښې نه لرې ویده یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یادونه:

دا متل د کندهار په ښځو کي ډېر ویل کېږي. کله چي یوه ښځه د خسرگنۍ په کور کي خوشاله نه وي او یا یوه ښځه له خپل ژونده راضي نه وي خو بر عکس بله ښځه د خسرگنۍ په کور کي خوشاله وي نو ناراضه ښځه دا متل ورته وایي.[1]

[1] دا کیسه مي په کوچنیوالي کي د کندهار ولایت، ارغنداب ولسوالۍ د ناگان د کلي لـه ( ببـو) نـومي بوډۍ ښځه اورېدلې ده. (ع، همت)

(c) ketabton.com: The Digital Library



#ساندي هم خوشاله زړه غواړي

پخوا یو ډول پېښنه گري یا ممثلي ښځي وې چي د پردیو خلکو په غمونو او فاتحو کي به یې ساندي ویلې او ویر به یې کاوه. لکه څنگه چي خلک د خوشالۍ د محفل لپاره سندرغاړي رابولي او غواړي چي خپله ښادي درنه او مشهوره کړي، دغسي به دغه ډول ښځي هم خلکو ددې لپاره راغوښتې چي په خپلو ساندو او ځانگړو حرکتونو خلک ژړا او ویر ته وهڅوي چي په دې ډول د غم مراسم درانه او تاوده وښيي.

هغه چا چي به ډېري پيسې درلودې، نو څو پېښنه گري ښځي به یې راغوښتې، کله چي به یوه ښځه ستړې سوه، نو بلې ته به یې اشاره وکړه او هغې به په ژړا پیل وکړ، خو بېوزلو خلکو به بیا یوازي یوه ناټکي ښځه راغوښته.

کله چي به د مړي مور، خویندو او نورو خپلوانو په طبیعي ډول ژړل، نو پېښنه گري ښځي به پټه خوله ناستي وې، خو کله چي به د کور ښځي د مېلمنو په خدمت بوختي سوې او یا به فاتحې ته راغلیو ښځو شخصي بانډار جوړ کړ نو په دې وخت کي به د مړي له خپلوانو څخه یوې ښځي کرایه سویو ژړاندو ښځو ته سترگه ووهله چي ساندي شروع کړئ. ښځو به هم نابېره چيغه کړه او د مړي په اړه به یې یوه دردناکه خبره وکړه.

خلکو به دغه ډول ښځو ته تر فاتحې مخکي د مړي په اړه لږ معلومات ورکول چي هغوی یې ځینې خبري د ژړا پر مهال یادي کړي، مثلا هغه مړی چي ځوانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مېرمنه او اولادونه به يې پاته ول، په ژړا کي به يې داسي ويل: اى زما زويه څنگه ځوانيمرگ سوې؟ کاشکي خو ستا پر ځاى زه مړه سوې واى، تا دا خپله ځوانه ماينه او کوچني اولادونه چا ته پرېښوول؟ تر دې وروسته به يې مخ په چپلاخو (څپېړو) واهه او سر به يې هم شکاوه، نورو ښځو چي به ورته وکتل نو دوى به هم په ژړا پيل وکړ. کله چي به يو موړ او خان سړى مړ سو، نو خپلوانو به يې پېښه گرو ښځو ته ډېري پيسې ورکولې او ښځو به هم ښه په اخلاص او لوړ اواز ژړل. وايي چي يو وخت د يوه بېوزله او غريب سړي ورور مړ سو، د ښځينه فاتحې لپاره يې يوازي يوه پېښه گره[1] ښځه راوبلله. څرنگه چي پېښه گري ښځي ته لږ پيسې ورکول سوي وې، نو تر يو څه ساندو وروسته يې ساندي بس کړې او پټه خوله کښېناسته، د فاتحې ښځو چي دا چوپتيا وليده نو تر خپل منځ يې شخصي کيسې شروع کړې چي وروسته خبره خندا او ټوکو ته ورسېده. په دې وخت کي د مړي د خپلوانو يوه ښځه راغله او پېښه گري ښځي ته يې کرار وويل چي ولي ساندي نه وايې؟ پېښه گري ښځي ورغبرگه کړه: بس ده نوري ساندي نه سمه ويلاى، ساندي هم خوشاله زړه غواړي.

1

(c) ketabton.com: The Digital Library



یادونه: دا متل په کندهار کي ډېر ویل کېږي. کله چي د یوه کار بیه یا حق الزحمه لږ وي او د چا زړه نه غواړي چي کار ته اوږه ورکړي او کار هم د حق الزحمې په اندازه کمزوری اجرا کړي، نو خلک دا متل وایي.[1]

[1] دا کیسه مي د جنوبي پښتونخوا د پنجپای یا محمد خېلو په کیمپ کي د ښاغلي مولوي دوست محمد شخه اورېدلې ده. نوموړی په پنجپای کي د عبدالله بن مسعود نومي مدرسه کي استاد او اصلا د کندهار ولایت، بولدک ولسوالۍ د کندني د کلي اوسېدونکی و. (ع، همت)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سر زما، خو واک يې د لالا

وايي په پخوا زمانو کي يو لېوني و چي مور، پلار او نور خپلوان يې مړه سوي او يوازي يې يو ورور درلود او پالنه يې د ورور پر غاړه وه، کله چي به لېوني ډېر په تکليف سو او خلک به يې وهل نو ورور به يې په ځنځيرونو وتاړه. لېوني له خپل ورور څخه ډېر تنګ سو او هر چا ته به يې ويل چي لالا ډېر بد سړی دی.

لېوني ته د ورور له خوا نور بنديزونه يو څه د زغملو وړ ول، خو دا ډېره ورته ګرانه وه چي نايي به يې سر ور خرايه. ځکه چي د کلي د نايي چاړه ډېره پڅه وه، هر وخت چي به يې د لېوني سر ورخرايه نو څو ځايه به يې ويني پوست ورپرې او ويني کړ، لېوني د نايي د پخي چړې خوړ او ټپونو ډېر وارخطا کړی و، کله چي به لېوني د خپل ورور خبره نه منله، نو ورور به يې ورته ويل چي ارام کښېنه کنه نايي ته دي بيايم.

يو وخت د لېوني د سر وېښتان ډېر اوږده او ښپوله سول، ورور يې نايي ته بوت چي سر يې وروخريي. لېوني چي د نايي چاړه وليده، نو چيغي يې کړې چي زه سر نه خريم، خو ورور يې سترګي ورباندي راغتي کړې، ويل دا ستا کار نه دی، خامخا به سر خريې. کله چي لېوني نايي ته کښېناست، نو هغه د خريلو چاړه پر را واخيسته. لېوني ورته وويل چي زما سر را جوړ که، خو خريه يې مه. نايي ورته وويل چي نه خامخا دي سر در خريم، ځکه چي لالا دي وايي سر يې ور وخريه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې وخت کې لېوني ولاړ سو او په درد يې نايي ته وويل: عجيبه ده، سر زما، خو واک يې د لالا !

يادونه:

دا متل په ډېرو پښتني سيمو کې ويل کېږي. کله چي څوک د چا په شخصي کارونو کي مداخله کوي، نو خلک دا متل وايي.[1]

---

[1] دا کيسه مي په ۱۳۹۰ه ش کال د لړم د مياشتي پر اتمه نېټه په کندهار کې د محمود شگيوال نومي نايي څخه اورېدلې ده. ښاغلی شگيوال اوس په کندهار ښار کې اوسېږي او د سلمانۍ دوکان لري، خو اصلا د ننگرهار ولايت د شگي سيمي اوسېدونکی دی. (ع، همت)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شیخ چلي، پر ښاخ ناست دی ښاخ رېبي

په پخوا زمانه کې یو ډېر ساده سړی و چې شیخ چلي نومېده. یوه ورځ یې په کور کې د سونګ بوټي خلاص سول، مېرمنې یې ورته وویل چې سړیه لرګي خلاص سوي دي، یوه چاره یې وکړه. شیخ چلي په کلي کې یوه سړي ته ورغی چې لږ بوټي ورکړي، هغه ورته وویل چې ورسه زما په باغ کې د توتو څو ونې ولاړې دي، یو څو ښاخونه یې ورېبه او کور ته یې یوسه.

شیخ چلي هم اره راواخیسته او د توت یوې ونې ته وخوت. پر یوه ښاخ کښېنوست او د هغه ښاخ په رېبلو یې پیل وکړ، په دې وخت کې یو سړی د باغ څنګ ته پر لاره تېرېده، کله چې یې شیخ چلي ولید، نو ورته ویې ویل چې وروره پام دي سته کنه؟ پر ښاخ ناست یې او ښاخ رېبې؟ که ښاخ پوره ورېبل سي، نو خامخا رالوېږې، داسي نه وي چې خدای مه کړه پښه یا لاس دي مات سي. شیخ چلي ورته وویل چې ځه بېغمه اوسه زما پام دی، کله چې ښاخ ورېبل سي، نو زه ځني لیري کېږم.

لاروی پر خپله لار ولاړ او شیخ چلي د ښاخ رېبلو ته دوام ورکړ، کله چې ښاخ ورېبل سو، نو شیخ چلي پر ځمکه راولوېد او مغزی یې مات سو. تر دې پېښې وروسته د شیخ چلي ساده ګي ډېره مشهوره سوه، کله چې به یو چا له عقل څخه کار نه اخیست او د بل چا خبره به یې هم نه منل، نو خلکو به وویل چې دا سړی لکه شیخ چلي، پر ښاخ ناست دی ښاخ رېبي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یادونه:

دا متل په ډېرو پښتني سيمو کي ويل کېږي. کله چي يو څوک په خپله گټه او تاوان نه پوهېږي او په لوی لاس ځان ته تاوان رسوي، نو خلک دا متل وايي.[1]

---

[1] دا کيسه مي دا کيسه مي په ( ۱۳۶۷ش ) کال له اروابناد جنرال محمد اکرم خاکر بزوال څخه اورېدلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# عقل په عمر نه دی په سر دی

وایي چې دریو ختګرانو له یوې کندوالې څخه خاوري وړلې، یو وخت کولنګ په یوه کلک شي کي ونښت، کله چې یې څمکه وشنله نو ګوري چې د سرو زرو چرګ دی. ختګران چې بېوزله او غریبان ول د سرو زرو د چرګ په لیدو ډېر خوشاله سول، سره ویې ویل چې چرګ به خرخ کړو او خپل ژوند به په جوړ کړو، خو ستونزه دا ده چې چرګ به څنګه سره ووېشو؟ که چرګ درې ټوټې کوو، نو بیا په دومره لوړه بیه نه خرڅېږي او که یې روغ سره وېشو هر څوک به خپله برخه څنګه اخلي؟ اخیر یې سره وویل چې باید د سرو زرو چرګ خرخ او پیسې یې سره ووېشي.

په دې وخت کي یوه ختګر وویل چې که پاچا خبر سو چې موږ د سرو زرو چرګ لرو، نو بندیان کوي مو، وایي تاسي بېوزله خلک یاست دا چرګ مو له کومه کړ؟ په بلا به اخته سو، هم به مو چرګ له ګوتو ووځي او هم به بندیان سو. نورو ختګرانو چې دا خبري واورېدې نو ډېر وارخطا سول، خو نه پوهېدل چې څه وکړي؟ دوی اوس یوه لار درلوده، هغه دا چې د سرو زرو چرګ خرخ کړي، خو دوی چې چورت وواهه نو داسي موږ او خان سړی یې و نه موند چې د چرګ رانیولو وس دي ولري. اخیر یې سره وویل چې تر هغو چې چرګ ته یو مناسب خریدار یا رانیوونکی پیدا کوي باید چرګ یو ځای پټ کړي.

کله چې به یوه ختګر وویل چې چرګ زه په کور کي ساتم، نورو به داسي فکر وکړ چې داسي نه وي دی یې غلا کړي او وتښتي. تر ډېر فکر کولو وروسته یې په زړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي وروګرځېده چي د دوی د کلي یوې بوډۍ ښځې ته چرګ امانت کښېږدي. دا بوډۍ ډېره ښه ښځه وه، ټولو کلیوالو به خپل امانت شیان له دې سره ایښوول. لنډه دا چي د سرو زرو چرګ یې بوډۍ ته ورکړ او دا شرط یې ورباندي کښېښود چي تر څو موږ درې سره یو ځای نه یو درته راغلي زموږ یوه ملګري ته به چرګ نه ورکوې. بوډۍ هم دا خبره ورسره ومنله او ختګران ولاړل.

څو میاشتي وروسته یو ختګر راغی او بوډۍ ته یې وویل چي چرګ راکړه، بوډۍ ورته وویل چي تاسي خو ماته ویلي ول چي تر څو موږ درې سره یو ځای نه یو درته راغلي زموږ یوه ملګري ته به چرګ نه ورکوې، نو اوس هم چي نور دوه ملګري دي رانه ولې چرګ نه درکوم. ختګر ورته وویل چي هغه نور دوه ملګري مي په کوڅه کي راته ولاړ دي، بیا یې هغو ته ور ناره کړه چي بوډۍ چرګ نه راکوي وایي نور دوه ملګري دي چېري دي؟ هغوی له کوڅې څخه ور نارې کړې چي دا دی موږ ورسره یو چرګ ورکړه. بوډۍ چي دا خبره واورېده، نو چرګ یې ورکړ.

څو ورځې وروسته دوه نور ختګر راغلل او بوډۍ ته یې وویل چي د سرو زرو چرګ راکړه، بوډۍ ورته وویل چي چرګ خو مو څو میاشتي مخکي لا یووړ. یو ملګری مو کور ته راغی او تاسي په کوڅه کي ورته ولاړ واست، تاسي ویل چرګ زموږ ملګري ته ورکړه چي ما هم ورکړ. ختګرو وویل چي دروغ مه وایه موږ نه و ورسره، نور خلک به ول او یا ته دروغ وایې، خامخا چرګ تا پټ کړی دی. بوډۍ چي هر څه قسمونه وخوړل چي ستاسي چرګ مو ملګري یووړ، خو هغوی نه قانع

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېدل، ویل هر څنګه چي کېږي زموږ چرګ به راکوې. اخیر یې بوډۍ تر لاس ونیوله او محکمې ته یې بوتله.

په محکمه کي قاضي بوډۍ ملامته کړه، ویل ولاړه سه په دریو ورځو کي د دوی د سرو زرو چرګ ورپیدا کړه ، کنه بندي کوم دي. بوډۍ چي دا خبره واورېده، نو په چیغو او ژړاوو کور ته روانه سوه. په لاره کي یوه کوچني هلک پوښتنه ځني وکړه چي انا ولي ژاړې؟ بوډۍ ورته وویل چي پرې مي ږده بچیه ولي مي پر ټپونو مالګي رادوړوې، زه خپله په غم اخته یم او ته پوښتني راځخه کوې؟ هلک ورته وویل چي خیر دی ته خو راته ووایه، کېدای سي زه یوه د حل لاره په لاس درکړم. بوډۍ وویل چي په دې کوچنۍ ونه به ستا په سر کي دومره عقل له کومه وي چي تر ما به هوښیار یې. بوډۍ چي نور یې نو یوې خوا ته مخ نه ګرځېده او ډېره ناامیده سوې وه له ناچاریه کوچني هلک ته خپله ټوله کیسه تېره کړه.

هلک چي کیسه واورېده، نو په خندا یې وویل چي انا جاني دا خو اسانه کار دی. ورسه قاضي ته ووایه چي چرګ زما سره پروت دی. ما غوښتل ختګران معلوم کړم چي پر ما باور لري کنه؟ دوی چي هر وخت وغواړي زه یې چرګ ورکوم، خو باید هغه شرط ادا کړي چي لومړۍ ورځ یې تر خپل منځ سره ایښی و او زما سره یې هم منلی و. شرط دا دی چي لومړۍ ورځ دوی ما ته ویلي ول چي تر څو موږ درې سره یو ځای نه یو درته راغلي زموږ یوه یا دوو ملګرو ته به د سرو زرو چرګ نه ورکوې. که زه اوس دوی ته چرګ ورکړم سبا به یې دریم ملګری راغلی وي او ما به ملامتوي چي له ما پرته دي ولي دوی ته چرګ ورکړ، بیا به ماته یو جنجال

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي، که چېري ختګرانو خپل دريم ملګرى پيدا کړ، خو د چرګ غل پيدا سو او که يې پيدا نه کړ، نو ته يې له جنجاله بېغمه يې.
بوډۍ چي دا خبره واورېده نو ډېره يې خوښه سوه، بس سمدلاسه يې دغه خبره کټ مټ قاضي ته وکړه، قاضي هم ورسره ومنله او د بوډۍ په حق کي يې فيصله وکړه. بوډۍ چي د کوچني هلک هوښياري وليده نو زړه ته يې ولوېده چي په رښتيا سره عقل لوى او کوچنى نه غواړي، هلک ته يې وويل چي بچيه زه اوس پوه سوم، عقل په عمر نه دى په سر دى.

يادونه:
دا متل په کندهار کي ډېر ويل کېږي. کله چي يو څوک په لږ عمر کي ډېر هوښيار وخېژي او يا په عقل کي تر خپل عمر ډېر مشر وي ، نو خلک دا متل وايي.[1]

---

[1] دا کيسه مي د ( ۱۳۹۰ش ) کال د ليندۍ د مياشتي پر شپږويشتمه نېټه له ښاغلي عصمت الله بهير څخه په تيليفون کي اورېدلې ده. دى د کندهار ښار د دوهمي ناحيې اوسېدونکى دى چي اوس په کابل کي اوسېږي.. (ع، همت )

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غلو به قافلې وهلې، نو نه چې يې کوټې وهلې

وايي په يوه کلي کې دوه وروڼه اوسېدل چې مور، پلار او نور خپلوان يې نه درلودل، دوی دومره بېوزله او غريبان ول چې په وچه ډوډۍ هم نه وه ماړه، ان دا چې خپل کور يې هم نه درلود، يوازې يوه کوټه يې درلوده او دواړه په دې کوټه کې اوسېدل.

په دې وخت کې په شاوخوا کليو کې غلاوې شروع سوې، د کلي خلک وو پرېدل چې داسې نه وي د دوی په کلي کې هم غله لاس واچوي. د کلي خلکو تر سلامشورو وروسته بېوزله وروڼو ته وويل چې تاسې مجرد ياست او کوم خاص کار هم نه لرئ، موږ به تاسې ته ډوډۍ او يو څه پيسې در کوو او تاسې به د شپې په کلي کې پيره کوئ.

بېوزله وروڼو له خدايه دغه ورځ غوښته، پيره يې ومنله او د کلي په منځ کې يې په يوه زړه کوټه کې واړول. د ورځې له خوا به ويده ول او د شپې له خوا به يې په کلي کې پيره او ګزمه کوله. يوه شپه چې هوا ډېره سړه وه، دوی په کوټه کې اور بل کړ، په دې وخت کې يې يو اواز تر غوږ سو، يو ورور يې کرار دباندې وکتل، ګورې چې يو غل د دوی کوټه په کولنګ سورۍ کوي.

دوی هم څه و نه ويل او تر هغو يې انتظار وکړ چې غل کوټه سورۍ کړي، کله چې غله کوټه سورۍ کړه او کوټې ته يې سر ور ننه ايست، نو دواړو وروڼو په يوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلا ورحمله کړه او غل يې تر غاړه کلک ونيو، يوه ورور غل تر غاړه نيولی و او بل ورور يې سوټی ورته ونيو، لنډه دا چي غل يې داسي وواهه چي له اخ وټوخه يې واچاوه. وروسته يې غله ته وويل چي په دې کلي کي تر موږ بېوزله او غريبان نسته، ته بې غيرته راغلې زموږ کوټه دي ووهله؟ بې غيرته غلو به قافلې وهلې، نو نه چي يې کوټې وهلې.

يادونه:
دا متل په کندهار او جنوبي پښتونخوا کي ډېر ويل کېږي. کله چي يو څوک د مېړاني دعوه لري او بيا يو ټيټ او کوچنی کار وکړي او هغه مېړانه وبولي او يا خپلو خلکو ته زور ورښيي، نو خلک دا متل وايي.[1]

[1] دا کيسه مي په ( ۱۳۶۸ش ) کال د پنجپای يا محمد خېلو په کيمپ کي لـه ښـاغلي گـل اغـا څخـه اورېدلې ده. (ع، همت )

(c) ketabton.com: The Digital Library



# قاضي ملامتولم، خو زه نه ملامتېدلم

وايي چې د دوکسانو د ځمکي پر سر دعوه سوه، په دې دوو نفرو کي يو يې ډېر جنجالي و، خلکو چې هر څومره ملامت کړ ده پړه نه منله، خلکو دې خوا او هاخوامندۍ تړي وکړې،جرګې مرکې وسوې، خو دوی بيا هم سره جوړ نه سول.

څرنګه چې د خلکو روغي جوړي ګټه و نه کړه نو خبره تر محکمې پوري ورسېده.

قاضي چې دعوه وڅېړل نو جنجالي سړي ته يې وويل چې ته ملامت يې.

جنجالي سړي بيا هم خپله پړه و نه منله، ويل زه ملامت نه يم، اخير قاضي مجبوره سو او پوليسو ته يې وويل چې دی له محکمې څخه وباسئ، هغه بل سړي ته يې د ځمکي اسناد ورکړل ويل دا ځمکه ستا سوه.

کله چې جنجالي سړی کلي ته راغی، نو يوه کليوال پوښتنه ځنې وکړه چې د ځمکي دعوه څنګه سوه؟ جنجالي ورته وويل: قاضي ملامتولم، خو زه نه ملامتېدلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## خپل وطنه، گل وطنه

یادونه:

دا متل په کندهار او جنوبي پښتونخوا کي ډېر ویل کېږي. کله چي یو څوک پر سي او بیا هم خپله ملامتیا نه مني، نو خلک دا متل وایي.[1]

[1] دا کیسه مي په (۱۳۶۸ش) کال د کندهار ولایت، ارغنداب ولسوالۍ د ناګان کلـي لـه اوسـېدونکي اروانښاد حبیب الله جان څخه اورېدلې ده. (ع، همت)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# که تېټ ځې وايي غلا کوې او

# که لوړ ځې وايي کورو(1) ته گورې

وايي يو مسافر يو ليري وطن ته روان و چي په لاره کي يو کلی په مخه ورغی، ددې کلي د کورونو دېوالونه ډېر تېټ ول، خو مسافر په ونه ډېر جگ و. مسافر چي د کلي منځ ته ورسېد، نو د کلي ځوانان پر راټول سول، ويل اې بې شرمه خپله خور او مور نه لرې چي د خلکو کورو ته گورې؟ سړي چي هر څومره ورته وويل چي زه پر لاره تېرېدلم ستاسي کورو ته مي نه دي کتلي، خو ځوانانو نه ورسره منله، لنډه دا چي ځوانانو مسافر بېچاره راچپه کړ او د هغه په ډبولو يې شروع وکړه.

په دې وخت د کلي خان راغی، گوري چي د کلي ځوانانو مسافر را چپه کړی او وهي يې. مسافر چي خان وليد، نو په عذر او زاريو يې پيل وکړ، ويل زه پر خپله لاره تېرېدم، ستاسي کورو ته مي نه دي کتلي. د خان زړه پر وسوځېد او ځوانانو ته يې وويل چي مسافر پر بېردئ ! کله چي مسافر رخصت کېده، نو خان ورته وويل چي دا وار ما له هلکانو خلاص کړې، خو گوره پام دي وي چي بيا پر لاره

---

1 : کورو ته = کورونو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



جگ جگ ولاړ نه سې کنه بیا به په دغسي خوارۍ اخته سې، مسافر هم دا خبره ورسره ومنله او له کلي څخه روان سو.

مسافر پر لاري چوخ چوخ (ټیټ ټیټ) روان و، ویل داسي نه وي نور خلک هم داسي فکر وکړي چي گواکي زه د دوی کورو ته گورم. د مسافر له توره بختته په دې کلي کي غلو لاس اچولی و او خلک سخت وارخطا ول، هر نابلده سړی چي به یې لیده، نو هغه به یې نیوه او پوښتني گروېرني به یې څني کولې.

مسافر چي په کلي ور کښېوت، نو خلکو چیغي کړې، ویل هلئ غل دی ! مسافر چي خلک ولیدل چي دده خوا ته منډې راوهي، نو داسي فکر یې وکړ چي بیا یې وهي، بس پایڅې یې راپورته کړې او په منډو یې پیل وکړ. کلیوالو چي د مسافر منډو ته وکتل نو داسي فکر یې وکړ چي دا سړی ربښتیا غل دی، کلیوالو چیغي کړې چي مه یې پرېږدئ غل دی، مسافر د مخه او کلیوال ورپسې دي، منډې، منډې منډې اخیر یې مسافر ونیو او د هغه په وهلو یې پیل وکړ.

مسافر چي هر څومره نارې کړې چي د خدای پر پار زه غل نه یم، خو کلیوالو نه ورسره منله، ویل وهئ یې ! مسافر چي یې هر څومره وواهه او هر څومره پوښتني گروېرني یې څني وکړې نو داسي څه یې نه څني واورېده چي د غلا لپاره دي ثبوت او سند وبلل سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې وخت کې د کلي مشر په درد ورته وویل: بدبخته ته چې غل نه یې نو ولې دومره وارخطا وې او پر لاره ولې ټیټ ټیټ تلې؟ مسافر د مخکیني کلي کیسه ورته وکړه. د کلي مشر ورته وویل چې دا سم کار نه دی، که ته پر لاره همداسي ټیټ ټیټ روان یې، نو هر څوک به داسي فکر وکړي چې ته غلا کوې. مسافر په ژړا ورته وویل: د خدای پر پار زه څنګه وکړم؟ که ټیټ ځې وایي غلا کوې او که لوړ ځې وایي کورو ته ګورې.

یادونه:

دا متل په ډېرو پښتني سیمو کې ویل کېږي. کله چې یو سړی ډېر ناچاره سي او یا بې ګناه وي، خو بیا هم ګناهګار وبلل سي، نو خلک دا متل وایي.[1]

[1] دا کیسه مې په کوچنیوالي کې له خپلې انا څخه اورېدلې ده. (ع، همت)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# که ستا قسمو ته وګورم هم حیران یم او که
# د خپل چرګ پښو ته وګورم هم حیران یم

وايي چي یو چا چرګ غلا کړی او تر بالاپوښ لاندې یې پټ کړی و، خو پام یې نه و چي د چرګ پښې تر بالاپوښ راوتلي دي. یو څو ګامه چي ولاړ، نو د چرګ خاوند په مخه ورغی، ویل دا زموږ چرګ دي ولي غلا کړی دی؟ غله ویل قسم په خدای که مي غلا کړی وي. اخیر د چرګ د خاوند زړه تنګ سو، د چرګ راوتلیو پښو ته یې اشاره وکړه او ویې ویل: بس نو څه ووایم، که ستا قسمو ته وګورم هم حیران یم او که د خپل چرګ پښو ته وګورم هم حیران یم.

یادونه:

دا متل په کندهار او جنوبي پښتونخوا کي ډېر ویل کېږي. کله چي د یو چا په عمل او قول کي ژور توپیر ولیدل سي، یاني په عمل کي بد کار کوي، خو په خوله ځان ته ښه سړی وايي، نو خلک دا متل وايي. [1]

[1] دا کیسه مي په (۱۳۹۰ش) کال د کندهار ولایت، ارغنداب ولسوالۍ د ناګان کلي اوسېدونکي عبدالرازق څخه اورېدلې ده. (ع، همت)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# له لوړي دي مړ سم، خو د منت خواړه نه خورم

وايي چي يو لېوه سهار تر ماښامه په غرونو او دښتونو کي وگرځېد، خو ښکار يې پيدا نه کړ، ډېر وږی سو، اخير يې په زړه کي وروگرځېده چي کلي ته ولاړ سي، گوندي هلته يو ښکار ورپيدا سي. کلي ته چي راغی، نو په يوه کور کي د پسه بوی پر ولگېد، سمدلاسه يې پر دېوال ورټوپ کړه او کور ته ورواوښت. گوري چي په کور کي يو ډېر غټ او خډل سپی گرځي.

لېوه سپي ته نژدې ورغی او ځان يې د سپي ملگری او دوست وښود، وروسته يې د خپلي لوږي کيسه ورته وکړه، په دې وخت کي يې پام سو چي سپی ډېر چاغ دی، لېوه ورته وويل چي گرانه دوسته ته څه شي خورې چي دومره چاغ سوی يې؟ ته ماته وگوره له لوږي مي پښتۍ راوتلي دي، ماته هم دا ښکار راوښايه.

سپي ورته وويل چي ما په دې کور کي وظيفه نيولې ده. ددې کور خاوند ډېري پيسې، پسونه، وزې، غواوي، اسان او خرونه لري، زه شپه تر سهاره پيره کوم چي کور ته غل، لېوه، گيدړه، چغال ( سورلنډی) او بل ځناور را نه سي. خاوند ما ته ددې کار په مقابل کي اوبه او ښه غوړه ډوډۍ راکوي، په دوبي کي مي له گرمۍ او په ژمي کي مي له يخنۍ څخه ساتي، دا دی وگوره دا خونه يې زما لپاره جوړه کړې ده. ټوله ورځ په دې خونه کي خوبونه کوم او د شپې له خوا پيره کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لېوه چي د سپي خبري واورېدې، نو خولې يې اوبه وکړې، ويل گرانه ملگرې ماته هم دغسي يوه وظيفه راپيدا کړه، سپي ويل سمه ده زه به مي له خاوند سره خبره وکړم چي تا ته هم دغسي يوه وظيفه درپيدا کړي.

په دې وخت کي لېوه د سپي په غاړه کي يوه ټپ وليد، ويل گرانه دوسته دا ستا په غاړه کي ټپ د څه شي دی؟ سپي وويل چي دا ټپ د ځنځير دی، خاوند مي د ورځي له خوا په ځنځير تړي چي خلک راځخه ونه ډاربږي. لېوه چي وکتل نو د سپي د کوډلي څنگ ته يې يو لوی پولادي ځنځير وليدچي يو سر يې په موږي پوري تړلی او په بل سر کي يې طوق و چي د سپي د غاړي په اندازه جوړ سوی و.

لېوه چي د سپي په غاړه کي ټپ او ځنځير وليد، نو بيرته پښېمانه سو، ويل گرانه دوسته ما تل ازاد او په خپله خوښه ژوند کړی دی، خو د منت خواړه مي نه دي خوړلي، زه ستا په ډول د مره ييتوب ژوند نه سم زغملای، بس زه تر دې وظيفې تېر يم، د لوږي دي مړ سم خو د منت خواړه نه خورم.

يادونه: دا متل په ډېرو پښتني سيمو کي ويل کېږي. کله چي د مړو سترگو د ډوډۍ او مرييتوب خبره را ياده سي او يو يا يو څوک د غلامۍ تر غوړه ډوډۍ تېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



سي او په خپلواکۍ او شرافت کي په خپله وچه ډوډۍ قناعت وکړي، نو خلک دا متل وايي.[1]

[1] دا کيسه مي په کوچنيوالي کي زموږ په کلي کي د محمدالدين په نوم له يوه بزگر څخه اوريدلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لرګی توږه او سړی ځني جوړوه

وایي چي یو ترکاڼ یا نجار، خیاط او ملنګ سره ملګري او یوه لیري ځای ته په سفر روان ول. دوی تر یوه اوږده مزله وروسته یوه لوی ځنګله ته ورسېدل، لومړی یې داسي فکر وکړ چي لار به په ځنګله کي تېره سوې او بلي خوا ته به وتلې وي، هغه و چي په ځنګله ورکنبېوتل، څو ساعته یې مزل وکړ، خو لار تر ځنګله و نه وتله.

په دې وخت کي یې په خپلو منځو کي سره وویل چي موږ غلطي وکړه چي ځنګله ته راغلو، راځئ چي بیرته وګرځو، بل ځای که لار راڅخه ورکه سي، نو یو څوک خو به پیدا سي چي پوښتنه ځني وکړو، دلته خو هیڅوک هم نسته. هغه و چي بیرته شا ته وګرځېدل چي پخوانۍ لاره پیدا کړي، هر څومره چي وګرځېدل لاره یې و نه موندله. په ځنګله کي یوې او بلي خوا ته همداسي سرګردانه ګرځېدل چي شپه پر راغله. تر خپل منځ یې داسي پرېکړه وکړه چي اوس خو هسي هم شپه ده، هیڅ ځای نه سو تلای، شپه به دلته تېره کړو او سبا سهار به له خیره سره ځو.

هغه و چي په ځنګله کي یې یو غار پیدا کړ او درې سره ورننوتل چي شپه پکښې تېره کړي. یوه شیبه وروسته یې په ځنګله کي د ډول ډول وحشي ژویو اوازونه واورېدل چي سخت یې وارخطا کړل، تر خپل منځ یې سره وویل چي باید پیره وکړو، داسي نه وي چي ځنګلي ځناور مو وخوري. هغه و چي شپه یې پر دریو

(c) ketabton.com: The Digital Library



برخو سره ووېشله، داسي فیصله یې وکړه چي په لومړۍ برخه کي به نجار، په دوهمه برخه کي به خیاط او په دریمه برخه کي به ملنګ پیره کوي.

لومړی نوبت د نجار و، نجار پیره کوله او نور دوه ملګري یې ویده سول. څرنګه چي نجار توله ورځ مزل کړی و، نو خوب ورغی، یوه سترګه خوب یې لا نه و کړی چي د پړانګ غړومبي راویښ کړ، له ځان سره یې وویل چي که ویده سم، نو وحشي حیوانات مو خوري او که ویښ کښېنم نو خوب راځي، اخیر یې وویل چي راسه ځان په یو شي بوخت کړه. هغه و چي په ځنګله کي یې یوه ونه وسکښتل او انسان یې ځني جوړ کړ، ده چي دا کار خلاص کړ نو ګوري چي د پیرې وخت یې هم پوره سوی دی. بس ورغی او خپل ملګری خیاط یې راویښ کړ، ویل وروره زما د پیرې وخت پوره سو، زه ویدېږم اوس نو ستا نوبت دی.

خیاط چي لږ پیره شروع کړه نو ده ته هم خوب ورغی، کله چي یې د نجار لرګین سړي ته پام سو نو ده هم ټوکر او قیچي را وایستل او د سړي لپاره یې په کالیو جوړولو پیل وکړ، تر څو چي ده کالي جوړول، نو د پیرې وخت یې هم پوره سو. خیاط په لرګین سړي کالي واغوستل او ورغی ملنګ یې راویښ کړ، ویل اندېواله زما وخت پوره سو، اوس نو ستا نوبت دی.

ملنګ چي راپور ته سو نو د لرګي سړی یې ولید، خدای ته په ژړا سو، ویل خدایه د دوی خو کسبونه زده دي، نجار خپل وخت د لرګین سړي په جوړولو تېر کړ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



خیاط د کالیو په گنډلو ځان بوخت کړ، زما خو هیڅ کسب نه دی زده، زه به ځان په څه شي بوخت کړم، شپه لا ډېره پاته ده، که خوب راغی نو وحشي حیوانات به مو وخوري. بیا یې دعا وکړه چي ای خدایه دې لرگین انسان ته سا ورکړه !
خدای یې دوعا قبوله کړه او د لرگي انسان ژوندی سو. ملنگ او سړي تر سهاره بانډار سره کاوه او په دې ډول د ملنگ د پیرې نوبت هم په خیر سره تېر سو. کله چي سهار مهال نجار او خیاط راکښېناستل نو گوري چي د لرگي سړی ژوندی سوی او سم انسان دی.

دوی په خپل نوي انډیوال ډېر خوشاله سول، ویل اوس نو  څلور نفره سولو، که له کوم مشکل سره مخامخ کېدو، نو یو ملگری مو زیات سو. کله چي له ځنگله څخه ووتل او خپل ځای ته ورسېدل، نو خلکو ته یې د لرگین سړي کیسه وکړه. تر دې پېښې وروسته چي به کله یو چا خپل انډیوال خفه کړ او یا به یې په قدر نه پوهېده، نو خلکو به ورته ویل چي خلک له خدایه یو ملگری غواړي او ته په لوی لاس خپل ملگری له ځانه لیري کوې؟ که زما خبره منې نو  لرگی توږه او سړی ځني جوړوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یادونه:

دا متل په کندهار او جنوبي پښتونخوا کې ډېر ویل کېږي. کله چې یو څوک خپل خلک ناراضه او له ځان څخه یې لیري کوي او یا د خپلو انډیوالانو او خپلوانو په قدر نه پوهېږي، نو خلک دا متل وایي.[1]

[1] دا کیسه مې د (۱۳۹۰ش) کال د لیندۍ د میاشتې پر پنځه ویشتمه نېټه له ښاغلي عصمت الله بهیر څخه په تیلیفون کې اورېدلې ده. (ع، همت)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لږ به خورم طبیب ته به اړ نه یم

وايي چي په يوه کلي کي يو طبيب اوسېده، دا طبيب دومره مشهور و چي له ډېرو لیرو سیمو څخه به ناروغان ورته راتلل، يو څه طبیب د ناروغانو ښه علاج کاوه او يو څه هم خلک مجبور ول چي ورته راسي، ځکه چي په نژدې سیمه کي بل طبیب نه و، همدا دلیل و چي خلکو د طبیب ډېر خاطر کاوه، هم به يې ډېري پیسې ورکولې او هم به يې ډول ډول سوغاتونه ورته راوړل.

يوه ورځ د طبیب کوچني زوی له ګاونډي هلک سره پر يو شي جنګ وکړ، د طبیب زوی کوچنی او هغه بل هلک غټ و، د طبیب زوی يې راچپه کړ او خورا ټینګ يې وواهه، د طبیب زوی چي د مقابلې بله وسله نه درلوده، نو هلک ته يې په پټکه وویل: يو وخت خو به ته هم ناروغه کېږې کنه؟ پلار ته به مي ووايم چي ستا علاج و نه کړي. هلک ورته وویل چي ځه زه ستا پلار ته اړ نه یم، هیڅ طبیب ته ضرورت نه لرم. يوه ورځ ستا پلار راته وویل چي لږ خوره طبیب ته به اړ نه يې، زه به هم لږ خورم او طبیب ته به اړ نه یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یادونه: دا متل په ډېرو پښتني سیمو کي ویل کېږي. کله چي یوې خوا ته لږ بې خطره گټه او بل طرف ته ډېره گټه خو له خطره ډکه وي او یو څوک د ځان ساتني لپاره په لږ گټه قناعت وکړي، نو خلک دا متل وایي.[1]

[1] دا کیسه مي په (۱۳۷۷ش) کال په کوټه کي له ښاغلي احمدشاه څخه اورېدلې دی. نوموړی اصـلا د کندهار ولایت، ډنډ ولسوالۍ د (یخ کاریز) کلي اوسېدونکی دی. (ع، همت)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# له بې عقله مې زړه خوړین دی
# اوښ چې زوړ سي ورون یې شین دی

وایي چې یو چا په ګنج کې د حیواناتو دلالي کوله، دوه نفره به یې د پسه، وزې، غوا، خره، اوښ او یا اس په سودا کې سره جوړ کړل او بیا به یې له دواړو خواوو څخه یوه اندازه پیسې غوښتې. له څو کالو راهیسې یې دا کار کاوه او په همدې ډول یې د کور ګوزاره کوله.

یوه ورځ یې یوه انډیوال خپل یو زوړ اوښ په لاس ورکړ چې ور خرڅ یې کړي. ده هم د اوښ په صفتونو خوله پوري کړه، ویل دومره ښه اوښ دی، دومره ځوان دی، داسې بار وړي، دا دی او هغه دی. په دې وخت کې یې یو بل انډیوال راغی چې هغه بیا غوښتل اوښ رانیسي.

کله چې یې له خپل دلال انډیوال څخه د اوښ صفتونه واورېدل، نو غوښتل یې چې اوښ رانیسي. څرنګه چې د اوښ خرڅوونکی او رانیوونکی دواړه د دلال انډیوالان ول، نو نه پوهېده چې د چا پلوي وکړي. د اوښ خاوند ډېر چالاکه او چالبازه سړی و او اوښ رانیوونکی بیا ډېر ساده سړی و، په منځ کې دلال حیران و چې څه وکړي، که یې د اوښ رانیوونکي ته ویلای چې دا اوښ زوړ دی مه یې رانیسه، نو د اوښ خاوند ځني خوابدی کېده او که یې د اوښ زوړوالی پټولای، نو هغه بل انډیوال یې خپه کېده. که څه هم د اوښ رانیوونکی په اوښ نه پوهېده

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې څوان دی که زوړ، خو دلال وېرېده چې داسې نه وي وروسته يو څوک ورته ووايي او يا دی خپله پوه سي چې اوښ يې زوړ دی.
په دې وخت کي دلال حيران و چې اوښ رانيوونکی څنگه پوه کړي چې اوښ مه رانيسه. اخير يې دا کار انصاف وباله چې اوښ رانيوونکی پوه کړي چې اوښ زوړ دی، هغه و چې په زړه کي يې داسې خبره جوړه کړه چې اوښ رانيوونکی په کنايه او اشاره کي د اوښ په عيب پوه کړي، نو هغه و چې له ځان سره يې د سندري په ډول داسې وويل: له بې عقله مي زړه خوړين دی، اوښ چې زوړ سي ورون يې شين دی.

يادونه:
دا متل په کندهار کي ډېر ويل کېږي. کله چې يو څوک په اشاره يا نيمه خبره سر خلاص نه کړي او څوک نه سي کولای چې د نورو په مخ کي سپينه خبره ورته وکړي، نو خلک دا متل وايي.[1]

[1] دا کيسه مي په ( ۱۳۹۰ش ) کال د ليندۍ د مياشتي پر شپږويشتمه نېټه له عصمت الله بهير څخه په تيليفون کي اورېدلې ده. (ع، همت )

(c) ketabton.com: The Digital Library



# له مرګه تښتېدم، پر ادم خور ولګېدم

د يوې ښځې مېړه مړ سو او يو کوچنی يتيم زوی ورپاته سو.څرنګه چې دا ډېره بېوزله وه نو خپل يتيم زوی يې په ډېرو خواريو او تکليفونو رالوی کړ. پر کونډې خپل زوی دومره ګران و چې زړه يې ورسره ډوبېده. څرنګه چې د مېړه د مرګ له امله يې په ژوند کي ډېري سړې او تودې ليدلي وې، اوس ډېره وېرېده چې داسي نه وي زوی يې مړ سي او دا بېچاره يوازي پاته سي، کله چې به يې زوی له کوره ووت، نو دې به تر هغه مهاله پوري د کور دروازې ته سترګي نيولي وې چې زوی به يې راته.

هر وخت چې به په کلي کي څوک مړ سو، نو دې ته به خپل زوی ور په ياد سو چې له دې سره به يې په زړه وېره ننوته، ويل که داسي ورځ راغله چې زما زوی مړ سي نو زه به لېونۍ سم، هغه و چې له ځان سره يې داسي فيصله وکړه چې بايد يو داسي ځای ته کډه سي چې هلته مرګ نه وي. نوره نه پوهېده چې چېري به مرګ وي او چېري به نه وي، داسي فکر يې وکړ چې که هر ځای هديره نه وه، نو هلته به مرګ هم نه وي. وروسته يې دا خبره له زوی سره هم شريکه کړه، زوی يې که څه هم پوهېده چې له مرګه تېښته نسته، خو د مور خبره يې پر ځمکه نه واچوله او په کډه کولو راضي سو.

هغه و چې مور او زوی دواړو يوې نامعلومي خواته سفر پيل کړ. هر کلي ته به چې ورسېدل، نو پر کلي به شاوخوا راوګرځېدل، کله چې به يې هديره وليده، نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیرته به یې خپل سفر ته دوام ورکړ. په میاشتو میاشتو یې سفر وکړ، تر ډېرو غرونو او ځنګلونو واوښتل، په سفر کې یې ډېرې سرې او تودې ولیدې.

یوه ورځ پر یوه داسې کلې پېښ سول چې هدیره یې نه درلوده. کونډې او زوی یې بې له دې چې د هدیرې په باب له کلیوالو څخه پوښتنه وکړي په کلي کې کډه واړوله. یو څه وخت وروسته د کونډې زوی ناروغه سو. په دې وخت کې د ګاونډې یوه ښځه په کوم شي پسې دکونډې کره راغله، کله چې یې د کونډې زوی ولید چې په ځای کې پروت دی، نو پوښتنه یې وکړه چې زوی دې ولې پروت دی؟ کونډې ورته وویل چې ناروغه دی.

د ګاونډې ښځې چې دا خبره واورېده نو سمدلاسه له کوره ووته، کونډه پوه نه سوه چې دا ښځه ولې سمدلاسه له کوره ووته. یوه شیبه وروسته د کور دروازه وټکېده، کونډه چې ورغله نو ګوري چې څو نفره چړې په لاس ولاړ دي. کونډې ورته وویل چې څه خبره ده؟ خلکو ورته وویل چې موږ خبر سوي یو چې ستا زوی ناجوړه دی، موږ ویل چې ژر یې حلال کړو، داسې نه وي چې ډنګر سي.

کونډه د زوی پر ناروغۍ ناګاره سوه او هغوی ته یې وویل چې زما زوی نه دی ناجوړه، که باور نه کوئ نو زه به یې راوغواړم، تاسې یې په خپلو سترګو ووینئ. خلکو ویل سمه ده ورسه راخبر یې کړه. کونډه په وارخطایي راغله او زوی ته یې وویل چې اوس به څه کوو؟ دا خو د سړي خورو کلی دی، څو نفره ادم خواره راغلي دي چې تا حلال کړي.

د کونډې زوی چې دا کیسه واورېده، نو مور ته یې وویل چې ته غم مه کوه زما یې چاره زده ده. سمدلاسه را غی او په خندا یې سړي خورو ته وویل: زه روغ رمټ

(c) ketabton.com: The Digital Library



یم، هسي ټوکي مي درسره کولې، که باور نه کوئ نو په تاسي کي چي هر يو په غېږ راځي زه ورته تيار يم. ادم خورو چي دا خبره واورېده، نو بيرته خپلو کورونو ته ولاړل. په دې وخت کي کونډي له ځان سره په خواشينۍ وويل: له مرگه تښتېدم، پر ادم خور ولگېدم.

يادونه: دا متل په کندهار او جنوبي پښتونخوا کي ډېر ويل کېږي. کله چي څوک له يوې بلا تښتي او پر بلي بلا واوړي، نو خلک دا متل وايي. [1]

[1] دا کيسه مي په (۱۳۹۰ش) کال له عبدالحي (حاجي لالا) څخه اورېدلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# له ناپوه سره چې ښه کړې، لکه خره ته چې واښه کړې

وايي چې يوه سړي يو ډنګر خر رانيو، د دې لپاره چې خر چاغ سي نو ډېر يې نازاوه، هره ورځ به يې واښه ورته راوړل او پر وخت به يې اوبه ورکولې. کله چې خر ښه چاغ او تکړه سو، نو مستي يې شروع کړه، نه يوازي دا چې بار ته يې اوږه نه ورکوله، بلکې خپل خاوند ته يې هم کپونه ( خوله) ورلګوله، پور ته پورته به غورځېده او لغتي يې به وهلې. خاوند يې ډېرځني تنګ سو، خپله ټوله خواري او زحمت يې ارمان سو، ويل نا حقه مي له خره سره دومره خوارۍ وګاللې.

د خره خاوند يو هندو انډيوال درلود چې هغه بيا يو ناظر درلود، پر هندو خپل ناظر ډېر ګران و، هر څه چې به يې خپله خوړله، څښل او اغوستل به يې، نو هغه به يې ناظر ته هم ورکول، لنډه دا چې د خپل جايداد او کار وبار ټول واک يې ناظر ته ورکړی و. ناظر هم لومړی ځان ډېر عاجز، خواريکښ او تابعدار ښوده، خو کله چې په نس موړ، په تن پټ او جېب يې له پيسو ډک سو، نو د هندو خبره يې نه منله او هيڅ کار يې سم نه کاوه، ان دا چې په هندو به يې ريشخند او ملنډې وهلې، هندو چې به د څه کار ورته وويل نو ناظر نه يوازي دا چې کار به يې نه کاوه، بلکې د هندو د خولې پيښې به يې هم کولې.

يوه ورځ د خره خاوند او هندوسره ناست ول او بانډار يې کاوه. هندو د خره خاوند ته وويل چې انډيواله اوس خو دي خر چاغ او تکړه سوی دی، ښه بارونه به وړي، اوس به نو هوسا سوی يې که څنګه؟ دخره خاوند ورته وويل چې انډيواله که

(c) ketabton.com: The Digital Library



رښتیا درته ووایم له خره ښخه تر پزي راغلی یم، نور یې څه کوې چې بیخي ځني بېزاره سوی یم. بیا یې هندو ته وویل چې ښه ته خپله کیسه وکړه، له ناظر سره دي څه حال دی، ښه لاس به دي په خلاص وي، اوس به نو ډېر نه یې ستړی؟ هندو چې له ناظر ښخه تر پزي راغلی و په لنډ ډول د ناظر په باب وویل: نور به څه درته ووایم، زه هم له ناظر ښخه داسي نا خوښه یم لکه ته چې له خپل خره ښخه ناخوښه یې، بس له ناپوه سره چې ښه کړې، لکه خره ته چې واښه کړې.

یادونه:

دا متل په کندهار او جنوبي پښتونخوا کي ډېر ویل کېږي. کله چې څوک له کوم ناپوه او بې عقل سړي سره ښه وکړي او ښه نتیجه ور نه کړي او یا هغه سړی د ښو په مقابل کي بد ورسره وکړي، نو خلک د پښېمانۍ په ډول دا متل وایي. [1]

[1] دا کیسه په ( ۱۳۸۹ش ) کال د لینډۍ د میاشتي پر اوولسمه نېټه ښاغلي معلم عبدالاحد سرتیف د برېښنالیک له لاري را لېږلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مه کوه په چا، و به سي په تا

وايي چي يوه کلي ته به هره ورځ يو ملنګ راته او خير به يې غوښت. په دې کلي کي يوه بوډۍ ښځه وه چي له ملنګ سره يې ډېر ښه کول، هر څه چي به دوی خوړل هغه به يې ملنګ ته هم په کچکول کي ور اچول.

يوه ورځ ملنګ د بوډۍ د کور په دروازه کي ودرېد او ويې ويل: ملنګ ته خير راوړئ خدای مو وبخښه ! بيا يې پسي وويل: څوک که ښه کوي هم يې له ځان سره کوي او که بد کوي هم يې له ځان سره کوي. بوډۍ چي دا خبره واورېده نو ډېر درد ورغی، له ځان سره يې وويل چي خوله دي وچه سه ستا ملنګ، نمک حرامه زه څومره ښه درسره کومه او ته داسي خبري کوې. هغه و چي د کور دروازې ته ورغله او ملنګ ته يې وويل: ملنګ پاچا لږ صبر وکړه چي ډوډۍ پخه سي دربه يې کړم، ملنګ ويل سمه ده.

بوډۍ ولاړه پتيري يې پخې کړې او زهر يې پکښې ګډ کړل. پتيري يې ملنګ ته په کچکول کي ورواچولې او ملنګ پر خپله لاره ولاړ. په لاره کي دوو ځوانانو د غنمو لو کاوه، کله چي يې ملنګ وليد نو ورته راولاړ سول او ورته ويې ويل: ياره ملنګ پاچا نن ډېر وږي سوي يو، که لږ ډوډۍ درسره وي رايې کړه. پخوا به زموږ مور دا وخت ډوډۍ راوړله، خو نن تر اوسه پوري نه ده راغلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملنګ هم له کچکول څخه د بوډۍ پتيري راويستلې او ځوانانو ته يې ورکړې. ځوانانو چې پتيري وخوړلې نو ځای پر ځای راچپه او مړه سول. ملنګ حيران سو چې دا څه پېښه سوه؟ په دې وخت کې بوډۍ خبره سوه او په منډه منډه راغله، ګوري چې زامن يې مړه دي. بوډۍ په چيغو او ژړا ملنګ ته وويل چې دا زما زامن ولې مړه سول؟ ملنګ ورته وويل چې نور نه يم خبر، ما ته يې وويل چې ډېر وږي سوي يو، که لږ ډوډۍ درسره وي رايې کړه، ما هم هغه پتيري ورکړې چې تا راکړي وې، پتيري چې يې وخوړې بس ځای پر ځای مړه سول.

په دې وخت کې بوډۍ په خپله ګناه پوه سوه، ويل افسوس افسوس، ما ملنګ واژه، خو خبره نه ومه چې زما زامن به مړه کېږي. بوډۍ ډېره پښېمانه سوه او له ځان سره يې وويل: مه کوه په چا، و به سي په تا.

يادونه:

دا متل په ډېرو پښتني سيمو کې ويل کېږي. کله چې يو چالباز سړی په خپل دام کې خپله بند سي، نو خلک دا متل وايي.[1]

---

[1] دا کيسه مي په کوچنيوالي کې له خپل پلار څخه اورېدلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نر یم نه دروځم

وايي چي يوه ښځه کونډه سوه، لېورو او نورو خپلوانو يې غوښتل چي واده ورسره وکړي، خو ددې په خپلوانو کي څوک نه خوښېده، اخير يې تربورونو او د قبيلې مشرانو ورته وويل چي که په خپلوانو کي له چاسره واده کوې ښه دی، کنه له پردي سړي سره واده نه سې کولای.

خلکو چي د کونډي د خپلوانو اخطار وليد، نو چا زړه نه سوای کولای چي کونډي ته مرکه ورواستوي. له دې کلي څخه ډېر ليري يو خان اوسېده، څو مياشتي کېدې چي ښځه يې مړه سوې وه، په خپله سيمه کي چي يې څومره وکتل، نو د ځان لپاره يې د خپلي خوښي ښځه پيدا نه کړه.

يو چا ورته وويل چي په فلاني کلي کي ډېره ځوانه او ښايسته کونډه ناسته ده.

خان چي دا خبره واورېده، نو سمدلاسه يې يوه بوډۍ پيدا کړه او کونډي ته يې په مرکه ورواستوله.

بوډۍ کونډي ته د خان ډېر صفتونه وکړل او ورته ويې ويل چي خان غواړي ستا سره واده وکړي، اوس نو ته ووايه چي څنګه دي خوښه ده؟ کونډي وويل چي زه له خان سره واده کوم، خو مشکل دا دی چي زما لېورونه او تربورونه اجازه نه راکوي چي د بل قوم له سړي سره واده وکړم. بوډۍ ورته وويل چي غم مه کوه، خان به پټ راسي او کور ته به دي بوزي، بيا چي ستا لېورونه او تربورونه هر څه وکړي په خان يې زور نه رسېږي. کونډي چي دا خبره واورېده نو بوډۍ ته يې وويل چي سمه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بوډۍ خان ته راغله او د کونډې خبره يې ورته وکړه. خان هم سمدلاسه اس زين کړ او د شپې په تياره کي يې له څو ملگرو ځان د کونډې کورته ورساوه، کونډه يې پر آس را سپره کړه او خپل کور ته يې راوسته.

سهار چي د کونډې تربورونه سول، نو ډېر درد ورغی، سوتي يې راواخيستل او د خان سيمي ته راغلل، گوري چي خان په يوه داسي يوه لويه برجوره کلا کي ناست دی چي کلا ته ورختل اسمان ته ختل دي. خان له ټوپک سره د کلا برج ته وخوت او خلکو ته يې وويل چي که هر يو کلا ته راوخوت، نو پر سر به يې وولم.

خلکو چي د خان کلا ته وکتل نو هيچا زړه نه سوای کولای چي کلا ته په زور وروخېژي، کله چي يې په زور څه له وسه پوره نه سوه، نو غوښتل يې چي خان پر غيرت راولي، يو وار يې له کوره راوباسي او بيا جزا ورکړي. هغه و چي يوه ځوان په زوره ورناره کړه: ای بې غيرته خانه ! ته په کلا کي ناست يې او ځان ته غټ غټ وايې، که نر يې نو دباندي راووزه ! خان ورته وويل چي زه يوازي يم او تاسي شل نفره ياست، که يو په يو جنگ راسره کوئ نو را مخ ته سئ او که داسي نه وي زه لېونی نه يم چي په يوازي سر له شلو نفرو سره جنگ وکړم. په دې وخت کي بيا يوه ځوان ورته وويل: که نر يې نو د باندي راووځه. خان د کلا له برج څخه سر ور ته را وايست او په خندا يې ورته وويل: نر يم نه دروځم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## خپل وطنه، گل وطنه

یادونه:

دا متل په کندهار او جنوبي پښتونخوا کي ډېر ویل کېږي. کله چي یو څوک خپل سیال ته ماته نه سي ورکولای او غواړي چي هغه را ونګوي، پر غیرت یې

راولي او په دې ډول یې د خپل واک او نفوذ له سیمي څخه راوباسي او بیا برید ورباندي وکړي، نو هغه دا متل ورته وایي.[1]

[1] دا کیسه مي په (۱۳۹۰ ش) کال د لیندۍ د میاشتي پر څوارلسمه نېټه په کابل کي له نامتو افغان سیاستوال ښاغلي پوهاند ډاکټر اشرف غني احمدزي څخه د هغه په کور کي اورېدلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نه خان دی نه مان دی، زما د اوړو زیان دی

یوه نابللي مېلمه د یو بېوزله سړي کره څو شپې تېري کړې، مېلمه دکور د څښتن نژدې ملګری او یو وخت خورا لوی خان تېر سوی و، خو اوس یې خواري په پېڅکه وه او ډېر غریب سوی و. کوربه په کور کي یوه بوډۍ مور درلوده چي ډېره کمزورې وه او د مېلمه خدمت یې په وس پوره نه و.
بوډۍ د مېلمه شپې او ورځې شمېرلې، یو څو ورځې یې د مېلمه خدمت په یو ډول وکړ خو اخیر یې تر وس تېره سوه، زوی ته یې وویل چي زویه ته خو مي ویني چي پر ملا کړوپه یمه او له کمزوریه پر لاره نه سمه تلای، دلته دې مېلمه را ته واړول، مېلمستیا خو یوه شپه وي، دوې شپې وي، درې شپې وي، دې مېلمه خو بیخي زموږ په کور کي بستره راته وغوړوله، لس ورځې کېږي چي ناست دی، په یو ډول ورته ووایه چي خپل کور ته ولاړ سي.
زوی به یې د مور د قناعت لپاره یوازي دا یوه خبره کوله چي دروند سړی او لوی خان دی، هر څنګه چي کېږي باید عزت یې وکړو. مېلمه هماغسي ببغمه اړولي وه چي په همدې ډول یې لس ورځې نوري هم تېري کړې. اوس نو داسي وخت راغی چي د کوربه په کور کي اوړه یو مخ خلاص سوه، بوډۍ ته ډېر درد ورغی، نور یې نو تر وس تېره سوه، زوی ته یې وویل چي مېلمه ته ووایه چي په کور کي یو مټ اوړه هم نسته، نور نو ستا خوښه ده که ځې او که پاته کېږې. زوی یې بیا هم هغه پخوانۍ خبره ورته وکړه چي دروند سړی او لوی خان دی، هر څنګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## خپل وطنه، گل وطنه

چې کېږي باید عزت یې وکړو. مور ته یې درد ورغی او په تونده لهجه یې وویل:
نه خان دی نه مان دی زما داوړو زیان دی.

یادونه:
دا متل په کندهار او جنوبي پښتونخوا کې ډېر ویل کېږي. کله چې یو څوک ډېر شهرت ولري او په حقیقت کې د خپل شهرت په تله پوره و نه خېژي او شهرت یې کاذب او درواغجن وي، نو خلک دا متل وایي.[1]

[1] دا کیسه په (۱۳۹۰ ش) کال د وري د میاشتي پر یودېرشمه نېټه ښاغلي نور احمد قرانمل د بریښنالیک له لاري را استولې ده. نوموړی چې د کندهار ښار د څلورمي ناحیې د بامیزو کوڅې اوسېدونکی دی وایي چې دا کیسه یې له خپلي مور څخه اورېدلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ناوې چې سپره وه لا کږه وه

وايي چې يو وخت يې ناوې پر اس سپره کړې او د ورا په بدرګه يې د خسرګنۍ کره يې وړله، يو څه مزل چې يې وکړ، نو ناوې له اس څخه راولوېده او لاس يې مات سو، په ورا کي شور او ځوږ جوړ سو. په دې وخت کي د ناوي خسرګنۍ پر پلارګنۍ او پلارګنۍ بيا پر خسرخېلو پړه وراچوله چې پر ناوي يې سم پام نه کاوه. د ناوي خسر وويل چې شاته يې خپله خور ناسته وه، بايد هغې ناوې ټينګه نيولې وای او بل ناوې خو کوچنۍ نجلۍ نه ده چې ځان يې نه سوای ټينګولای، لاسونه يې درلودل بايد ځان يې ټينګ کړی وای. د ناوي پلارګنۍ بيا ويل چې د اس جلو د خسرخېلو په لاس کي و، بايد دوی پر ناوي پام کړی وای.

په دې وخت کي يوه سپين ږيري وويل چې تاسي ټول بېځايه خبري کوئ، اصلي خبره دا ده چې ناوې مو له لويه سره پر اس سمه نه وه سپره کړې، زما ټوله لار ورته پام و، تاسي ته مي هم وويل خو تاسي زما خبره نه منله، ناوې چې سپره وه لا کږه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یادونه:

دا متل په کندهار او جنوبي پښتونخوا کې ډېر ویل کېږي. کله چې یو کار له لویه سر کوږ او ناسم را پیل سوی وي، خو خلک داسې فکر کوي چې دا کار اوس تازه خراب سو، نو دا متل استعمالېږي.[1]

[1] دا کیسه مې په (۱۳۷۲ش) کال له ارواښاد عبدالستار خان څخه اورېدلې ده. نوموړی د کندهار ولایت، ډنډ ولسوالۍ د کوبې د کلي اوسېدونکی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نه خر مړ کېده او نه سپی ځني ته

وايي چې يو خر يوې ژورې کندې ته لوېدلی او غبرگې پښې يې ماتې سوې وې. هر څه چې يې وکړه نو له کندې څخه نه سواې را وتلاى. په دې وخت کې يو وږی سپی راغی، گورې چې د خره پښې ماتې او مرگې حاله پروت دی، بس سپې هم گونډې ورته ووهلې او سر يې پر خپړو کښېښود، بس هغه گړې ته يې انتظار کاوه چې خر به مړ سي او دی به يې په غوښو ځان تر پزې پورې موړ کړي.

خر به له ډېره درده بې سده سو، سپې چې به ورته وکتل نو داسې فکر به يې وکړ چې خر مړ سو، سمدلاسه به يې کندې ته ورټوپ کړه او په خره به يې خوله ولگوله، په دې وخت کې به خر بيرته په سد کې راغی، سپې چې به وليدل چې خر ژوندی دی نو بيرته به يې شا ته ټوپ کړه او د کندې پر غاړه به ورته کښېناست.

په دې ډول دوې درې ورځې تېرې سوې، دا خبره تر ډېرو خلکو پورې ورسېده چې په فلانې ځاى کې خر په کنده کې لوېدلی او سپی يې مرگ ته منتظر دی، وروسته چې به يو څوک د نامعلومه سرنوشت په تمه ناست و، نو خلکو به وويل: دا نو هغه د خره او سپې کيسه سوه چې نه خر مړ کېده او نه سپی ځني ته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یادونه:

دا متل په ډېرو پښتني سيمو کي ويل کېږي. دا متل تر ډېره بريده د سراښو او حريصو خلکو په اړه ويل کېږي. کله چي يو سراښ او وږی سړی يوې گټې ته په تمه ناست وي خو نه يوازي دا چي دا گټه په لاس نه ورځي، بلکي په دومره زيار گاللو هم نه ارزي نو خلک دا متل وايي.[1]

[1] دا کيسه مي په کوچنيوالي کي له خپلي انا څخه اورېدلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نلغام (1) که په عذاب دی بار دي سي

وايي چي په پخوا وختو کي د نلغام کلي ته څو کډي راغلې، دا کډي له ليري سيمي څخه راغلې او د کلي څنګ ته يې کيږدۍ ودرولې. دا کيږدۍ د يوه سپين ږيري وې چي لس ځوانان زامن او خورا ډېر پسونه او وزې يې درلودې. د سپين ږيرو زامنو به د ورځي له خوا مالونه د خلکو باغونو او کښتونو ته ور ايله کړل او د شپې له خوا به يې له ځمکو او باغونو څخه غلې او مېوې غلا کولې.
خلکو تر يوه وخته صبر وکړ خو اخير يې زړه تنګ سو او راغلل سپين ږيري ته يې شکايت وکړ، ويل بابا څو مياشتي کيږي چي ستاسي پسونه او وزې زموږ شنه کښتونه خوري، خو موږ څه و نه ويل، وروسته زموږ په کلي کي غلاوي شروع سوې، بيا هم موږ ويل چي بل څوک به وي، خو نن چي موږ د غله پل وکوت نو ستاسي کيږديو ته راغلی و، د دې لپاره چي په راتلونکي کي بيا دغسي يو جنجال جوړ نه سي، نو ښه به دا وي چي تاسي خپلي کډي بار کړئ او کوم بل ځای واړوئ.
سپين ږيری چي په خپلو لسو زامنو، لمسيانو او لوی کور ډېر مغروره و، نو کورټ يې نټه وکړه ويل نه زما زامنو ستاسي غلې او مېوې غلا کړي او نه موږ بار بړو، ورځئ لاس مو خلاص، هر څه چي مو د وسه پوره وي و يې کړئ !

[1] : (نلغام) د کندهار ولايت په ژيړۍ ولسوالۍ کي د يوه کلي نوم دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کليوالو چې وکتل چې سپين ږيرى جنګ ته تيار دى، نو د جنګ لار يې سمه و نه ګڼله او نه يې غوښتل چې له جلا وطنه خلکو سره جنګ وکړي. هغه و چې د نلغام ځو سپين ږيري ولاړل او د شا و خوا کليو له سپين ږيرو او قومي مشرانو څخه يې وغوښتل چې د دوى تر منځ روغه وکړي. هغه و چې د نورو کليو قومي مشران او سپين ږيري راغلل او کيږدۍ والا ته يې وويل چې ستاسي څخه د نلغام خلک په عذاب دي، د خداى ځمکه پراخه ده، ولاړ سئ بل ځاى مو کيږدۍ ودروئ. د کهاله مشر بابا د کليوالو خبره بابېز وګڼله او په ډېري بې پروايي يې وويل: زه خو دلته ډېر خوشاله يم، څوک چې په يو ځاى کي خوشاله وي ولي بار سي؟ پاته سو نلغام، د نلغام د خلکو خپل کار دى، نلغام که په عذاب دى بار دي سي.

يادونه:
دا متل تر اوسه پوري يوازي د کندهار په ژيړۍ او پنجوايي ولسواليو کي ويل کيږي. کله چې يو څوک پر خپلو ګټو ډېر مين او بر عکس د نورو خلکو پر ګټو او ددې تر څنګ پر هر ډول معيار او منطقو سترګي پټوي، نو خلک د کنايې په ډول دا متل وايي.[1]

[1] دا کيسه په ( ۱۳۹۰ش ) کال کي ښاغلي خليل احمد څارن په ټيليفون کي راته ويلې ده. نوموړى د کندهار ولايت د پنجوايي ولسوالۍ د مرکز (پنجوايي) اوسېدونکى دى. ع، همت

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نه به تل دا ناصر خان وي، نه به تل دا سره اوښان وي

وايي چي د دوو خلکو پر يوه ټوټه ځمکه سره دعوه وه. د يوه سړي پلار ناصرخان نومېده چي سوداګري يې کوله، ده خورا ډېر اوښان هم درلودل، پر دې اوښانو به يې ليري وطنو ته تجارتي مالونه وړل راوړل چي په دې ډول يې خورا ډېري پيسې پيدا کړي وې. د کلي سپين ږيرو او قومي مشرانو وويل چي ناصرخان ملامت دی او بايد ځمکه غريب سړي ته ورکړي، خو د ناصرخان زوی نه منله، ويل په محکمه کي به يې سره ګورو.

د ناصرخان زوی قاضيانو ته بډې او رشوتونه ورکړل او په دې ډول يې د ځمکي دعوه وګټله. غريب سړي چي دعوه بايلوله او بله هيڅ لاره يې نه درلوده د ناصرخان زوی ته وويل: خير اوس خو دي ځمکه قبضه کړه، يو وخت به ماته هم خدای ورځ راکړي، بيا به يې سره ګورو، تل خو به ستاسي زور او پيسې نه وي، نن که ته د پلار په پيسو او اوښانو نازېږې خو خاني او پيسې تل نه وي. نه به تل دا ناصرخان وي، نه به تل دا سره اوښان وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## خپل وطنه، گل وطنه

یادونه: دا متل په کندهار او جنوبي پښتونخوا کي ډېر ویل کېږي. کله چي یو ځوک ډېر کبر جن وي او د عقل او قانون پر ځای له زوره کار اخلي، نو خلک دا متل وايي.[1]

[1] دا کیسه مي په ( ۱۳۹۰ش ) کال له نامتو لیکوال، شاعر او ژورنالست ښاغلي عصمت قانع څخه په کابل کي اورېدلې ده. ښاغلی قانع د زابل ولایت، شاجوی ولسوالۍ د (کلاخېل ) کلي اوسېدونکی دی چي اوس په کابل کي اوسېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ومره د سرو اوښو پر قطار،
نه چي مړ سې د سپېرو خرو پر ناتار

پخوا کوچیانو د پښتنو په سیمه کي دوې مهمي مېني درلودې. یوې ته یې خراسان وایه چي غزنی، زابل او شاوخوا سیمي پکښې شاملي وې او بله مېنه یې ډېره اسمعیل خان، ډېره غازي خان، بنو او نوري نژدې سیمي وې چي ( دامان ) یې باله. کوچیان به په دوبي کي په دامان او ژمي کي به په خراسان کي اوسېدل. دوی چي به له یوې سیمي بلي سیمي ته تلل، نو په لاره کي به غله ورته ناست ول او د دوی مالونه به یې ځني غلا کول.
یو وخت کوچیان د مني په موسم کي له خراسان څخه دامان ته کوچېدل، له دوی سره د کوچیانو یو ډېر لوی خان هم ملگری و چي خورا ډېر اوښان او مېږي یې درلودې، کله چي غله خبر سول نو د کوچیانو دې ډلي ته یې لاره ونیوله. د کوچیانو مشر ته یو چا احوال ورکړ چي غلو لار درته نیولې ده، کوچیانو لاره واړوله او پر یوه بله لاره له سیمي څخه تېر سول.
په دې وخت کي د کوچیانو یوه بله ډله چي له غلو ناخبره وه پر همدې لاره راغله. دا کوچیان د مخکینیو کوچیانو په پرتله ډېر بېوزله او یوازي خره ورسره ول. کله چي غلو پر کوچیانو برید وکړ نو کوچیانو هم د ځان ساتني لپاره له هغوی سره جگړه شروع کړه، په دې ترځ کي غلو ته هم ډېره مرگ ژوبله واوښته او د غلو مشر هم پکښې ووژل سو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## خپل وطنه، گل وطنه

غلو د خپل مشر  مړی او ټپیان له ځانو سره واخیستل او له سیمي څخه وتښتېدل. تر دې جګړې وروسته غلو ډېر افسوس وکړ چي پر دې ببوزلو کوچیانو برید په دومره لوی تاوان نه ارزېده. یوه غله د خپل مشر مړي ته وکتل او د افسوس په ډول یې وویل: ومره د سرو اوښو پر قطار، نه چي مړ سې د سپېرو خرو پر ناتار.

یادونه:

دا متل د افغانستان په جنوبي ولایتونو او جنوبي پښتونخوا کي ډېر ویل کېږي. کله چي یو څوک د لږ ګټي لپاره سر  بایلوي یا ځان لوی خطر ته ورکړي، نو خلک دا متل وایي.[1]

[1] دا کیسه په ( ۱۳۸۹ش ) کال د مرغومي د میاشتي پر اتمه نېټه ښاغلي هدایت الله فیضي د تیلیفون له لاري راته ویلې ده. (ع، همت )

(c) ketabton.com: The Digital Library



# و دېوانه [1] بابا ته ولاړ سه

## ها زورور دی سوال پر لاره قبلوینه

وایي چي یو هلک پر یوې نجلۍ مین و، نجلۍ ته چي یې هرڅومره مرکې ورواستولې مور او پلار یې نه ورکوله، خسر ته یې ډېري ننواتي او زارۍ وکړې، خو هیڅ ګټه یې و نه کړه، خسر یې ویل خدای یو مالګي تروې دي که لور درکړم. اخیر هلک ناچاره سو کوډو او تاویزونو ته یې مخه کړه.

یو چا ورته وویل چي د دېوانه بابا زیارت ته ولاړ سه، هغه ډېر رسینده پیر دی، هیڅوک خالي لاس نه پر ېږدي، ډېر مینان ورځي او سوالونه یې قبلېږي. هلک چي دا خبره واورېده نو د دېوانه بابا د زیارت خوا ته روان سو، لږ مزل چي یې وکړ، نو په لاره کي یې یو بل ځوان ولید چي هغه هم د دېوانه بابا زیارت ته روان و. ده پوښتنه ځني وکړه چي د څه لپاره دېوانه بابا ته ځې؟ هغه وویل چي زه پر یوې نجلۍ مین یم، خو پلار یې نه راکوي، ده ورته وویل چي زه هم ستا په شان مشکل لرم، پر یوې نجلۍ مین یم، خو پلار ناځوانه یې نه راکوي، ما ویل دېوانه بابا ته به ورسم، کېدای سي چي هلته مي خدای د دیوانه بابا له برکته سوال قبول کړي.

---

[1] دېوانه بابا د یوه زیارت نوم دی چي په خیبر پښتونخوا کي د سوات او بونیر پر لویه لاره پروت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لاره کي دواړو مينانو خپله کيسه تېره کړه او يو بل ته يې د خپلي ميني کور کلي هم ور وښود، د خدای کارونه دي يوه نجلۍ د يوه او بله نجلۍ د بل هلک خور وه، يوه هلک بل ته وويل چي دېوانه بابا ته ولي ځو، دا فيصله خو زما او ستا په لاس کي ده، ته ماته خپله خور راکړه او زه به خپله خور تا ته درکړم، دا خبره دواړو ومنله او بير ته خپلو کورو ته راوګرځېدل.
کله چي ځوانان کلي ته راغلل، نو هر يوه خپل مور او پلار قانع کړل، مرکې راغلې او د دواړو نجونو ستن او تار يې يووړل. خلک حيران سول او له مينانو څخه يې وپوښتل چي ستاسي مور او پلار خو اول په دې کار نه وه راضي، اوس يې څنګه دې کار ته غاړه کښېښوول؟ هلکانو د دېوانه بابا د زيارت کيسه ورته وکړه. تر دې وروسته چي به څوک مين سو او د نجلۍ پلار او مور به نجلۍ نه ورکوله نو خلکو به مين ته وويل چي د دېوانه بابا زيارت ته ولاړ سه، هغه ډېر لوی پير دی، هيڅ يو مين تش لاس نه ايله کوي، ان دا چي په لاره کي يې هم مراد ورپوره کوي، وروسته دا باور او عقيده په لنډۍ واوښته، کله چي به يو مين ته خپله مينه معشوقه نه ور رسېدله، نو خلکو به دا لنډۍ ورته ويله: و دېوانه بابا ته ولاړ سه - ها زورو دی سوال پر لاره قبلوينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



يادونه: دا متل د افغانستان په خوست، پکتيا، مشرقي ولايتونو او خيبر پښتونخوا کي ډېر ويل کېږي. کله چي د دوو اړخونو په يوه کار کي گټه وي يا په يوه کار کي سره جوړ سي نو خلک دا متل وايي. (1)

(۱): دا کيسه مي د( ۱۳۸۹ش) کال د کب د مياشتي پر پنځه ويشتمه نېټه په کابل کي له ښاغلي پيرمحمد کاروان څخه اورېدلې ده. نوموړی د خوست ولايت ، تڼيو ولسوالۍ د نريزي کلي اوسېدونکی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# واده یم، خو خبره نه یم چې په چا؟

وایي چې یوه ښځه یوه لیري سیمې ته واده سوې وه، دا دومره یوه نااشنا سیمه وه چې دې یې د قوم، سیمې او خلکو په باب هیڅ معلومات نه درلودل. تر واده یو ځو ورځې وروسته ناوې ته خواښې وویل چې لوري همدومره ناویتوب دې بس دی، اوس نو باید کار وکړې. له دې سره سم یې ناوې ته منګی پر اوږو ورکړ چې له ګودر څخه اوبه راوړي.

ناوې چې ګودر ته روانه سوه نو کلی، لاره، ګودر او خلک ټول ورته نا اشنا ول، کله چې ګودر ته ورسېده، نو نجونې ورباندې راټولې سوې، ویل ته څوک یې؟ دې ویل چې زه دې کلي ته نوې راواده سوې یم، کله چې د ګودر نجونو د ناوې د مېړه، خسر او خسرګنۍ د قوم پوښتنه ځنې وکړه، نو د ناوې یې نوم نه و زده. اخیر یوې نجلۍ ورته وویل چې ته کوم کور ته راواده سوې یې؟ دې ورته وویل چې واده یم، خو خبره نه یم چې په چا؟

یادونه:

دا متل په کندهار او جنوبي پښتونخوا کې ډېر ویل کېږي. کله چې یو څوک په ګونګ حالت کې ژوند کوي او یا د یو نامعلوم سرنوشت په انتظار کې ناست وي، نو خلک دا متل وایي.[1]

[1] دا کیسه مي په ( ۱۳۷۵ش ) کال له عیسی محمد نومي ځوان څخه اورېدلې ده. نوموړی په کوټه کې په الخدمت نومي روغتون کې بستر و، ویل چې د هلمند ولایت د سنګین ولسوالۍ اوسېدونکی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# وزه له لېوه تښتېده، د قصاب کره يې شپه سوه

وايي چي يوه وزه له رمې څخه جلا او د يوې غونډۍ لمنې ته ولاړه، دا د وښو په خوراک لگيا وه، يو وخت يې پام سو چې ماښام دی، په زړه کې يې سخته وېره پيدا سوه، هر څه چې يې وليده رمه او شپانه نه ښکارېده. د يوې لوړې غونډۍ سر ته وخته او شا وخوا يې وکتل، له ليري څخه يې کلی وليد چي د اور لمبې او رڼاوي يې ښکارېدې، وزه په زړه کې ډېره خوشاله او د کلي خوا ته روانه سوه. کله چي کلي ته نژدې سوه، نو گوري چي يو لېوه د شا له خوا ورپسې دی، وزې چي لېوه ته وکتل نو سخته وارخطا سوه، غړي يې وتښتېدل او منډه يې نه سواى کولاى.

لېوه ورته وويل چي واه واه ! ما له خدايه پر اسمان غوښتې او ته خداى پر ځمکه راکړې. وزې چي وکتل چي د تېښتي لاره نه لري نو په زړه کي يې وروگرځېده چي راسه لېوه ته يو چم جوړ کړه، گوندي ځان ځني خلاص کړې. هغه و چې له لېوه سره يې غوړمالۍ شروع کړې، ويل ياره لېوه جانه نور مي له ژوند څخه زړه تور دی، خاوند مي په نس نه مړوي، په شپو شپو وږې پاته يم، ما ويل تر دې ژوند خو مرگ لا ښه دی ،بايد ځان تر يوه لوی پاڼ راواچوم چي له دې غم لړلي ژوند څخه خلاصه سمه، بيا مي وويل چي ناحقه ولي ځان وژنې؟ راسه لېوه ته ځان په لاس ورکړه، ته به له دې سترې ژونده خلاصه سې او لېوه بېچاره به په نس موړ سي. لېوه چي دا خبري واورېدې، نو ډېر خوشاله سو. وزې ته يې وويل چي دا خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي ډېره ښه فيصله کړې ده، ته چي دومره زما په غم کي يې نو زه دي هم هر ناز منم، وايه څه وصيت لرې؟

وزې ورته وويل چي ما اورېدلي دي چي ته ډېر ښه اواز لرې، که ته يوه بدله راته ووايې او زه درته ايشله ( نڅا) وکړم بل ارمان نه لرم، بس همدغه يو وصيت لرم او بيا مي نو وخوره. لېوه ورته وويل چي دا ناز خو به دي پر غبرگو لېمو واخلم، هغه و چي لېوه په انگولاوو پيل وکړ او وزې په نڅا شروع وکړه. د کلي سپو چي د لېوه انگولاوي واورېدې نو په منډه يې د لېوه خوا ته ځانونه راورسول.

لېوه چي وکتل نو يوه گله سپي يې خوا ته راروان دي، لېوه نه له يوې گلې سپيانو سره د جنگ وس درلود او نه يې وزه له ځان سره وړلای سوای، بس هغه و چي په منډو يې پيل وکړ، لېوه د مخه او يوه گله سپي ورپسې دي. وزې لېوه او سپي سره پرېښوول او خپله يې د کلي خواته منډې کړې.

کلي ته چي ورسېده، نو گوري چي دا د دوی کلی نه، بلکي بل کلی دی. په کلي کي وگرځېده، د ټولو کورونو دروازې تړلي وې، اخير يې يو داسي کور پيدا کړ چي دېوالونه يې ټيټ ول، تر دېوال يې ټوپ کړل او کور ته ورواوښته. دا کور د يوه قصاب و چي څو نوري وزې او پسونه يې هم درلودل، وزه غوجلي ته ننوته او يو ځای گوښه ويده سوه.

سهار چي چرگانو اذانونه وکړل، نو قصاب چاړه په لاس غوجلي ته ورغی. کله چي يې په غوجله کي پردۍ وزه وليده، نو له ځان سره يې وويل چي خدای روزي کور ته راواستوله، بس وزه يې تر څټ ونيوله او د حلالولو ځای ته يې په کشولو کشولو بوتله. وزې چي هر څومره زارۍ ورته وکړې چي زه ستا وزه نه يمه، له

(c) ketabton.com: The Digital Library

## خپل وطنه، گل وطنه

خپل خاوند څخه ور که سوې يمه، خو قصاب نه ورسره منله، هغه و چي وزه يې حلاله او غوښي يې پر خلکو خرڅي کړې.
قصاب دا خبره تر ډېر وخته پټه ساتلې وه، ويل داسي نه وي چي د وزې خاوند راخبر سي او تاوان يې راڅخه واخلي. څو کاله وروسته يې د وزې او لېوه کيسه خپل يوه انډيوال ته و کړه، انډيوال چي يې دا کيسه واورېده، نو پر وزه يې ډېر زړه وسوځېد او د زړه سوي په ډول يې وويل: وزه له لېوه تښتېده، د قصاب کره يې شپه سوه.

يادونه:
دا متل د پښتنو په ډېرو سيمو کي ويل کېږي. کله چي څوک له يوې بلا تښتي او پر بله بلا واوړي، نو خلک دا متل وايي.[1]

[1] دا کيسه مي په کوچنيوالي کي له خپلي انا څخه اورېدلې ده. (ع، همت)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# وطن په مېړو ساتل کېږي، نه په دېوالو

د کندهار اوسنی ښار لوی احمدشاه بابا جوړ کړی دی. د کندهار پخوانی ښار چي اوس يې خلک زوړ ښار بولي د اوسني ښار شمال غربي خوا ته پروت دی. زوړ ښار هم په خپل وخت کي يو ښايسته ښار و، ښايسته باغونه او لوړي لوړي ماڼۍ يې درلودې، له دې ماڼيو څخه يوه هم د نارنج په نوم ښايسته ماڼۍ وه چي اوس يې هم کنډواله پاته ده.

کله چي ايرانيانو پر کندهار بريد وکړ د هغه وخت د ځوان او پښتون پاچا شاه حسين هوتکي پاچهي يې رانسکوره کړه د کندهار ښار يې هم کنډواله کنډواله کړ. کله چي احمدشاه بابا د افغانستان پاچا سو، نو اوسنی ښار يې جوړ کړ، له همدې امله اوس د کندهار پخواني ښار ته زوړ ښار وايي.

احمدشاه بابا د زاړه ښار نړېدل په خپلو سترګو ليدلي او زړه يې ډېر درد کړی و، دا وار يې غوښتل يو داسي کلک او خوندي ښار جوړ کړي چي د هيڅ ډول قوي ډښمن زور په و نه رسېږي، نو هغه و چي د ښار د خونديتوب لپاره يې خپل عسکري صاحب منصبان او قومي مشران راټول کړل او مشوره يې ځني وغوښته.

په دې مجلس کي يو چا ورته وويل چي که پر ښار اووه دېوالونه او څو خندقونه ياني کندي راوګرځوو، نو ښار به د دښمنانو له بريدونو څخه خوندي وي. د احمدشاه بابا دا مشوره خوښه سوه او غوښتل يې چي د کندهار پر ښار اووه دېوالونه او خندقونه راوګرځوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## خپل وطنه، ګل وطنه

کله چې د احمدشاه بابا مور ( زرغونه انا ) خبره سوه، نو احمدشاه بابا یې کور ته وروغوښت او داسي یې ورته وویل: زویه مور. پښتانه یو او پښتانه هیڅکله په دېوالو او خندقو ځان نه ساتي، که ته ځان په دېوالو او خندقو ساتې، نو تر دېوالو او خندقو ها خواته ولسونه به څوک ساتي؟ دا یوه خبره تل په غوږ کي ساته چي پښتون هیڅکله د خاورو دېوالو او کندو ته پناه نه وروړي، بلکي د خدای په مرسته او خپل غیرتي ولس په مټ وطن ساتي. که پښتون وې، غیرت دي درلود او د پښتنې مور شیدې دي رودلي وې، نو دښمن به دي هیڅکله دا زړه ونه کړي چي ښار ته رانژدې سي او نه باید ته دښمن ته دومره فرصت په لاس ورکړې چي د ښار تر دېوالو راورسېږي. زویه دا یوه اخیري خبره مي واوره ! وطن په مېړو ساتل کېږي، نه په دېوالو.

احمدشاه بابا چي د خپلي مور وصیت واورېد، نو له خپل هوډ او نیت څخه واوښت او پر ښار یې دېوالونه او کندي نه راوګرځولې. تر دې وروسته د زرغونې انا دا وروستی وصیت ډېر مشهور سو او اوس خلک د متل په ډول وایي چي: وطن په مېړو ساتل کېږي، نه په دېوالو.[1]

[1] : دا کیسه مي د ۱۳۹۲ه ش کال د لیندۍ د میاشتي پر یوولسمه نېټه له آغلي رڼا ترین څخه اورېدلې ده. آغلې ترین د کندهار ولایت، ډنډ ولسوالۍ د ( سبزکار ) کلي اوسېدونکې ده چي اوس مهال د کندهار د خلکو په استازیتوب د مشرانو جرګې غړې ده. ع، همت

(c) ketabton.com: The Digital Library



# عادت په پند نه ځي، په بند نه ځي، له سر سره تړلی دی[1]

وايي چي يو پاچا ډېر سپين ږيری سو، اعصابو يې سم کار نه کاوه، بېځايه بــه يــې خلک وژل او بندیانول، رعيت ډېر ځني تنگ سول. دې پاچا يو ځوان زوی درلود چي ډېر هوښيار او عادل سړی و، مخکي تر دې چي پاچا سي له خلکو ســره يــې ښه کول او ټول خلک ځني خوشاله ول. وزیرانو د پاچا زوی ته وويل چي ستا پلار نور د پاچهۍ وړ نه دی، ورځ په ورځ کارونه ځني شوړ ېږي او خلک هــم تــر پــزي راغلي دي، داسي نه وي چي خلک د پاچا پر ضد راپورتــه ســي او پــاچهي ځنــي ونيسي ، که زموږ خبره منې نو پلار دي بندي کړه او موږ به تا پاچا کړو. شاهزاده چي دا خبري واورېدې نو پر زړه يې ښه ولگېدې، هغه و چي پلار يې په کور کــي په يوه خونه کي واچاوه او ځان يې پاچا اعلان کړ، عسکرو ته يې وويل چــي بابــا دباندي مه پرېږدئ. لنډه دا چي پاچا له واکه ليري او په خپل کــور کــي نظربنــد سو.

که څه هم په کور کي ښه خواړه او د ضرورت ټول شيان وررسېدل، خو له کــوره دباندي يې امر نه منل کېده او نه چا دربار ته پرېښوده. شاهزاده چي به هره ورځ

---

[1] : دا متل مي داسي اورېدلی و: هر څه پاتېږي، خو عات نه پاته کېږي. کله چي مي خپل کتاب ( خپــل وطنه، گل وطنه) د هیواد نامتو سياستوال، ليکوال، شاعر او فولکوريســت ښــاغلي ســليمان لايــق تــه ورښکاره کړ، نو هغه وويل چي ما دا متل داسي اورېدلی دی: عادت په پند نه ځي، په بند نه ځي، له سر سره تړلی دی.

ع، همت

(c) ketabton.com: The Digital Library



کورته راغی، نو د پلار احوال به یې اخیست. یوه ورځ یې له مـور ځخـه وپوښـتل چي د بابا ډوډۍ سمه ده کنه؟ مور یې ورته وویل چي پخوا به یې ډول ډول خواړه خوړل، خو اوس یوازي د پسه کوتۍ ( سر) خوري او بل دا چـي پخـوا بـه یـې لـه اولادونو سره یو ځای ډوډۍ خوړله، خو له کومي ورځي راهیسـي چـي لـه واکـه لیري سوی بیخي یوازي ډوډۍ خوري، کله چي ډوډۍ خوري هیڅوک ځان تـه نژدې نه پرېږدي، ان دا چي د کوټې دروازه هم په ځان پسي تړي.

شاهزاده چي دا خبره واورېده، نو مور ته یې وویل چي زه نن دربار ته نه ځم، غواړم پوه سم چي بابا ولي یوازي ډوډۍ خوري؟ پاچا ته چي یې ډوډۍ راوړه، نو شاهزاده تر یوه سوري ورته کتل چي وګوري بابا څه کوي؟ پاچا د پسه کوتۍ مخ ته کښېښود او په درد یې ورته وویل: ښه بې ادبه ! تا زما نوم دي نه و اورېدلی چي داسي کار دي وکړ؟ ته نه وې خبر چي دا زما پاچهي ده؟ جلاده ونیسه یو غوږ یې ځني پرېکړه چي بل څوک داسي کار و نه کړي. له دې سره سم یې له کوتۍ څخه په چاړه یو غوږ پرې کړ او ویې خوړ. تر دې وروسته یې بیا کوتۍ ته په درد وویل: ښه ته اوس دومره سوې چي له پاچا سره جوابونه وایې؟ بې ادبه اوس به درسره جوړ سم. جلاده ونیسه ژبه یې ځني پرې کړه چي بیا بل څوک داسي بې ادبي و نه کړي. له دې سره سم یې له کوتۍ څخه ژبه پرې کړه او ویې خوړه.

لنډه دا چي په همدې ډول یې د پسه ټول کوتۍ وخوړ. شاهزاده چي وکتله نو پوه سو چي بابا خپل پخوانی عادت کوي او په دې ډول د خپلي پاچاهۍ پخواني

(c) ketabton.com: The Digital Library



وختونه وریادوي. وروسته یې مور ته په خندا وویل: هر څه پاتېږي، خو عادت نه پاتېږي.

یادونه: دا متل په ډېرو پښتني سیمو کې ویل کېږي. کله چې یو څوک د خپل بد عادت له مخې یو کار وکړي، نو خلک دا متل وایي. [1]

[1] دا کیسه مې په کوچنیوالي کې له خپل پلار څخه اورېدلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# هر کار په استاکار

وايي چې د يو چا توره په جنګ کې کږه سوه، د کلي پښ ته يې ورووړه چې ورسمه يې کړي. پښ چې توره وکتله، نو ورته ويې ويل چې توره دي درجوړوم، خو مزدوري يې شل افغانۍ کېږي. د توري خاوند وويل چې سمه ده شل افغانۍ درکوم. پښ توره پر تندي تکيه کړه او په دوو لاسو يې کنبېکنبله چې له همدې يوه وار کنبېکنبلو سره توره سيده سوه، سړي ته يې وويل چې ها دا دی واخله توره دي جوړه سوه، اوس نو ماته شل افغانۍ راکړه.

سړي ورته وويل چې شل افغانۍ ولې درکړم؟ توره دي نه اور ته واچوله، نه دي وټکوله او نه دي نور زحمت وکيښ، بس يوازې دي پر تندي دي تکيه کړه او لږ دي کنبېکنبله. پښ ورته وويل چې ستا مطلب د توري سمېدل وه او که زما خواري؟ ته يې څه کوې ستا توره مي در سمه کړه. سړي بيا هم نه ورسره منله ويل شل افغانۍ دي حق نه کېږي، د پښ سره ناستو خلکو هم د توري خاوند ملامت کړ چې بايد د پښ مزدوري ورکړي، خو د توري خاوند ويل خدای يو مالګې تروې دي که دومره پيسې ورکړم.

اخير پښ ته درد ورغی، توره يې بيرته کږه کړه او سړي ته يې ورکړه چې ها دا دي توره ده. سړي چې مخکي د توري سمېدل ليدلي وه، غوښتل يې چې د پښ په مخ کي توره هماغسې اسانه جوړه کړي، هغه و چې ده هم د پښ په ډول توره پر تندي کنبېبنبوول خو پام يې نه و چې د توري تېره خوا يې د پزي خوا ته نيولې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده، کله چي يې په دوو لاسونو پر توري زور وکړ، نو توره د پزي خوا ته راوښويېده او پزه يې غوټه پرې سوه. پښن او خلکو چي ورته وکتل نو ټول په خندا سول، د توري خاوند ډېر شرمنده سو، په زړه کي ډېر پښېمانه و، ويل کاشکي مي شل افغانۍ ورکړي وای، اوس به مي پزه نه وای پرې سوې، ما بېځايه ځان استاد وګاڼه، کله چي له پښن څخه روانېده، نو له ځان سره يې په شرمندګۍ وويل: استاده تا سمه خبره کوله، هر کار په استاکار.

يادونه:
دا متل د افغانستان په مشرقي او مرکزي ولايتونو کي ډېر ويل کېږي. کله چي يو کار نا اهله سړي ته وسپارل سي يا يو کار په غير فني ډول تر سره سي، نو خلک دا متل وايي.[1]

[1] دا کيسه مي په ( ۱۳۵۸ ش) کال زمونږ په کلي کي له يوه وردګ ختګر څخه اورېدلې ده. (ع، همت )

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هغه زوړ کفن کښ ښه و،

## د مړو پزي خو يې نه پرې کولې

په پخوا زمانه کي يو غل و چي له مړو څخه به يې کفنونه ايستل او بيا به يې خرڅول، دا غل اخير ډېرو خلکو وپېژاند، خو ده ته به يې مخامخ څه نه ويل. دې غله يو زوی هم درلود چي د پلار د کړو وړو ډېر مخالف و، تل به د خپل پلار په غلاوو شرمېده.

د خدای کارونه دي يو وخت دا کفن کښ مړ سو، کله چي يې ښخاوه نو له خپلوانو پرته يې نور هيڅوک په جناره کي نه وه حاضر، فاتحې ته يې هم څوک نه ورغلل. تر دې وروسته چي به په کوم مجلس کي د کفن کښ نوم ياد سو، نو هر چا به بد ورپسې ويل، که څه هم زوی يې په ژوند کي لا د خپل پلار د کارونو مخالف و، خو اوس چي مړ سوی و، دا يې نه خوښېدله چي خلک دي يې پلار په بد نوم ياد کړي.

د کفن کښ زوی تر يو څه وخته پوري د پلار غيبتونه وزغمل، خو وروسته يې زړه تنګ سو او ده هم له مړو څخه کفنونه ايستل پيل کړل، ده به نه يوازي له مړو څخه کفنونه ايستل، بلکي پزي به يې هم ځني پرې کولې. خلکو چي د کفن کښ د زوی ظلم او بې ادبي وليده، نو پخواني کفن کښ ته يې دوعاوي وکړې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

## خپل وطنه، ګل وطنه

کله چي به تازه کوم مړی لخ او پزه به يې پرې سوې وه، نو خلکو به وويل: هغه زوړ کفن کښ ښه و، د مړو پزي خو يې نه پرې کولې.

يادونه:

دا متل په ډېرو پښتني سيمو کي ويل کېږي. کله چي خلک له يوه حالت يا يوه بد شخص څخه شکايت کوي او تر هغه وروسته داسي حالت راسي چي خلک پخوانی حالت په سترګو پوري رانجه کړي، نو دا متل وايي.[1]

[1] دا کيسه مي په ( ۱۳۶۷ش ) کال په جنوبي پښتونخوا کوټه کي د اسلامي اتحاد ګوند له مشر ښاغلي استاد عبدالرب رسول سياف څخه د يوه کنفرانس پر مهال اورېدلې ده. (ع، همت )

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یا مړ یا موړ او جګ پر غوایي سپور

په پخوا زمانو کي چي بایسکل، موټرسایکل، موټر، الوتکه، اورګاډی او د سفر کولو نور وسائل نه وه، نو خلکو به پر حیوانانو لکه خرو، اسانو، اوښانو او غویو سفرونه کول او یا به یې بارونه ورباندي وړل، له همدې امله دغه ډول حیوانان ډېر ګران ول او یوازي شتمنو خلکو رانیولای سوای. په دې حیوانانو کي په کلیو کي غویی تر ټولو مهم و، ځکه چي هم یې بار وړای سوای او هم یوې ورباندي کېدله.

وایي چي یوه خان خورا ډېري پیسې، جایداد او څاروي درلودل. خان دا شتمني په ډېر ظلم او ناروا لاس ته راوړې وه، کله چي سپین ږیری سو، نو د مرګ او قبر له عذاب څخه ډېر وېرېده. یو وخت خان ناروغه سو، کله چي په ځان پوه سو چي نه جوړېږي، زامن، لوڼي او نور تېروني خپلوان یې راوغوښتل او داسي وصیت یې ورته وکړ: تاسي ته مي دومره ډېر جایداد او مال در پرېښود چي ستاسي لمسیان یې هم نه سي خلاصولای، نو باید تاسي هم زما دا یو وصیت خامخا پر ځای کړئ. هغه دا چي کله زه مړ سوم، نو په قبر کي مي لومړۍ شپه یوازي مه پرېږدئ، په هره بیه چي وي یو څوک دي راسره پاته سي.

کله چي خان مړ سو، نو مخکي تر دې چي په قبر کي یې کښېږدي زامنو یې وویل چي باید د بابا وصیت پر ځای سي. د خان زامن، لوڼي، مېرمني او نورو تېروني خپلوان یې سره کښېناستل، دوی په دې باب خبري شروع کړې چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



څوک به له بابا سره یوه شپه په قبر کې تېره کړي؟ تر ډېرو سلاوو او مشورو وروسته هیچا هم دې کار ته اوږه ور نه کړه. کله چې د خان زامنو په خپلوانو کې ددې کار لپاره څوک پیدا نه کړ، نو په کلي کې یې داسې اعلان وکړ: هر چا که له خان سره په قبر کې لومړۍ شپه تېره کړه، نو هم ښه ډېرې نغدې پیسې او هم یو دانه د یوې غویې په انعام کې ورکول کېږي. که څه هم په کلي کې د ټولو بېوزلو خلکو زړه غوښته چې دا انعام وګټي، خو هیچا هم زړه نه سوای کولای چې په قبر کې ژوندی ښخ سي.

په دې کلي کې یو ډېر بېوزله او غریب سړی اوسېده، دی له خپله ژونده دومره بېزاره سوی و چې مرګ ته یې هوا کېده. کله چې یې دا اعلان واورېد، نو د خان زامنو ته ورغی، ویل زه غواړم د خان سره په قبر کې لومړۍ شپه تېره کړم. زامن یې ډېر خوشاله سول، ویل سمه ده. ددې لپاره چې د غریب سړي زړه ته ولوېږي یوه اندازه پیسې یې د مخه لا ورکړې او د یوې یو غټ غویی یې ورښکاره کړ، ویل دا دی وګوره دغه غویی په انعام کې درکوو.

کله چې د مسکین سړي مېرمن خبره سوه، نو په چیغو چیغو یې مېړه ته وویل: د خدای پر پار ! دا کار د کړو دی چې ته یې کوې؟ ته نه پوهېږې چې تر اوسه هیڅوک هم له قبر څخه ژوندی نه دی راوتلی؟ مور. اوس هم په وچه ډوډۍ نه یو ماړه، که ته خدای مه کړه مړ سې نو زه او اولادونه به دې څه کوو؟ مسکین سړی چې نور یې له ژونده زړه تور سوی و، ماینې ته وویل: زما ژوند اوس هم د ژوندیو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلکو په شان نه دی، هر ډول چي کېږي زه دا کار کوم، یا مړ یا موړ او جګ پر غوایي سپور.

کله چي غریب سړي دا کار ته غاړه کښېښووله، نو د خان زامنو د خان قبر ډېر لوی جوړ کړ، داسي یې جوړ کړ چي یو سړی په ناستي ورسره ځایېدای سي، غریب سړی یې له خان سره په قبر کي پټ کړ او قبر ته یې یو کوچنی سوری ورکړ چي قبر ته هوا ورتلای سي.

غریب سړی اول دومره نه وېرېده، ځکه چي د قبر تر کوچني سوري یې لږ رڼا لیدله، خو کله چي شپه سوه، نو له ډاره یې ستونی وچ سو او د بدن وېښتان یې جګ جګ ودرېدل، وروسته یې له ځان سره وویل چي توکل پر خدای هر څه چي راپېښېږي، بسم الله یې څو واره پر ځان چوف کړه چي له دې سره سم یې وېره له زړه څخه ووته.

څرنګه چي تېوله ورځ یې په ځمکه کي کار کړی و، نو یو ساعت وروسته خوب یووړ او ښه په درانه خوب ویده سو. غریب سړی همداسي ویده و چي د یو شي ټک ټک له خوبه راویښ کړ، سترګي چي یې را روښې کړې، نو ګوري چي سهار سوی دی او د قبر تر سوري د لمر وړانګه ورلوېدلې ده. کله چي یې غوږ ونیو نو د خان د زامنو خبري یې واورېدلې چي په کولنګ یې قبر سوری کاوه. کله چي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خان زامنو قبر سورى کړ او غريب سړى يې راوکيښ نو غريب سړى دومره خوشاله سو لکه تر مرگ وروسته چي بيرته راژوندى سوى وي.

د خان زامنو ورته وويل چي کيسه وکړه څه دي وليدل، زموږ پلار ته څه ورپېښ سول؟ غريب سړي ور ته وويل هيڅ مي نه دي ليدلي، يو ساعت وروسته خوب راغى او ستاسي د کولنگ په کړپي راويښ سوم. د خان زامنو غريب سړي ته نغدي پيسې او يو غټ غويى په انعام کي ورکړ، سړى ډېر خوشاله سو، کور ته راغى او هوسا ژوند يې پيل کړ. تر دې وروسته چي به چا په کلي کي يو داسي کار کاوه چي له گټي سره به يې تاوان هم تړلى و، نو د غريب سړي دا خبره به يې کوله: مړ يا موړ او جگ پر غوايي سپور.

يادونه:

دا متل په کندهار او جنوبي پښتونخوا کي ډېر ويل کېږي. کله چي يو څوک بېوزله وي او د يو کار لپاره ټينگ عزم وکړي او خپل ژوند له بېوزلۍ څخه وباسي، البته دا يو داسي کار وي چي د بري تر څنگ د مرگ خطر هم ولري خو سړى نه پر شا کېږي او قوي اراده ولري، نو دا متل وايي.[1]

[1] دا کيسه مي د ( ۱۳۸۹ش ) کال د غوايي د مياشتي پر شپږمه نېټه له ښاغلي خليل احـمد خارن څخه د تيليفون له لاري اورېدلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# يو يې ګټي، شل يې خټي

وايي چې په يوه سيمه کې سخته وچکالي راغله، څو کاله پرله پسې بارانونه و نه سول، ويالې، سيندونه او چينې وچې سوې، پر انسانانو سر بېره د ځنګله حيوانان هم تنګ سول، آن دا چې ډېر حيوانان له لوږي او تندي مړه سول. په دې ځنګله کي يوه ګيدړه هم اوسېده، تر يوه وخته يې لوږي او تندي وګاللې خو نور يې زغم نه درلود، هغه و چې له ځنګله څخه ووته او يوه ليري کلي ته ولاړه.

په دغه ورځ کليوالو خيراتونه کړي ول چې خدای بارانونه وکړي، هري خواته د حلال سويو پسونو او غويو کولمې او لري پراته ول، ګيدړي په لږ وخت کي خورا ډېري کولمې وخوړې او ځان يې تر پزي پوري موړ کړ. څرنګه چې ګيدړي په ټول ژوند کي پر يوه ځای دومره ډېري غوښې نه وې خوړلي او بل نو د ځنګله وچکالۍ هم ډېره زلخوږې کړې وه، زړه يې نه غوښتل چې بيرته ځنګله ته ولاړه سي، هغه و چې په کلي کي يوه باغ ته ولاړه او هلته په درانه خوب ويده سوه.

په دې وخت کي باغوان راغی، ګوري چې ګيدړه په باغ کي ټنډه را اوښتې او ويده ده. باغوان سمدلاسه ګيدړه ونيوله، په غاړه کي يې ځنځير ور واچاوه او لکه سپی په کور کي يې وساتله. ګيدړه ډېره خوشاله وه، له منډو، ستړياوو او تر ځان له زورو حيواناتو له وېري بېغمه وه، هر څه تيار او پر ځای وررسېده، خو دا چې په ځنځير تړلې وه، نو زړه يې ډېر تنګ و، هر وخت به يې چورت واهه چې څنګه ځان ازاد کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## خپل وطنه، گل وطنه

په دغه کال خورا ډېر بارانونه وسول، خلک ډېر خوشاله ول چې وچکالي ختمه او کال اباد سو. یوه شپه چې تېز باران اورېده، د ګیدړي په زړه کي ور وګرځېده چې وتښتي. ګیدړي هغه موږی په خوله کش کړ چې ددې ځنځیر ورپوري تړلی و، څرنګه چې ځمکه لنده وه، نو موږی په اسانۍ سره له ځمکي را وخوت، ګیدړه له کلي وتښتېده او په منډه پخواني ځنګله ته ولاړه.

ګیدړو او نورو حیوانانو چې ګیدړه ولیده نو ټول پر راټول سول، پوښتني ګروېږني يې ځني شروع کړې، ویل ښه کیسه وکړه ته دا یو کال چېري وې؟ موږ چې ویل ته به مړه سوې يې، شکر دا دی ته خو ژوندۍ يې. ګیدړي ورته وویل چې زه کلي ته تللې وم او له انسانو سره اوسېدم.

یوې ګیدړي وویل چې ښه کیسه وکړه انسانانو څنګه ژوند درلود، څه يې خوړل او څه يې څښل؟ ګیدړي ورته وویل چې انسانان ډېر ښه خلک دي، خو یو عجیبه خوی لري، هغه دا چې ډېر لټ او ټمبل دي، یو کار کوي او نور تیار په کورو کي ناست وي او د یوه نفر ګټلې په ګډه سره خوري، بس نور يې څه کوې یو يې ګټي او شل يې څټي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یادونه: دا متل په کندهار کې د مفت خورو او ټمبلو خلکو په اړه ویل کېږي. کله چې په کور کې یو نفر کار کوي او د کور نور غړي که څه هم د کار وس لري، خو بیا هم کار نه کوي او د یوه نفر ګټې ته یې سترګې نیولې وي ، نو دا متل استعمالېږي.[1]

[1] دا کیسه مې په ( ۱۳۷۸ش ) کال د جنوبي پښتونخوا په (سرانان) نومي مهاجر کیمپ کې له ښاغلي حاجي ملاسخیداد څخه اورېدلې ده. نوموړی د کندهار ولایت د ارغسان ولسوالۍ اوسېدونکی دی. ( ع، همت )

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یو خوشحالک دي راکړی و، یو خوشحالک مي درکړ

وایي چي یوه ورځ پیران پیر صاحب یاني لوی ځوان د کلي تر ځنګ پر یوه ویاله اودس تازه کاوه، په دې وخت کي یو بیزووان له بیزو سره ورته ودرېد، سلام یې ورواچاوه او ورته و یې ویل: پیر صاحب خوښه دي نه ده چي یو خوشحالک درکړم؟ لوی ځوان ورته وویل چي ولي مي نه ده خوښه. بیزووان هم بیزو ورته وګډوله او د لوی ځوان ساعت یې ورتېر کړ. کله چي د بیزووان وار تېر سو نو لوی ځوان ته یې وویل چي ای زموږ پیره او د خدای دوسته ستا قربان سم ما خو خوشحالک درکړ او ته مي خوشحاله کړې اوس نو ته هم ما خوشحاله کړه. لوی ځوان ورته وویل چي ورسه هغه هندوانه واخله، دا یې ستا خوشحالک.
بیزووان خپله بیزوو په یوه ونه پوري وتړله او د هیندوانې پر خوا ورروان سو. له لیري په هندوانه کي یو کوچنی سوری ښکار بده، بیزووان چي ورنژدې کېږي نو ګوري چي د هیندوانې سوری وار په وار غټېږي، کله چي بیزووان ښه ورنژدې سو، نو ګوري چي هیندوانه لکه غر دومره غټه سوه او د هیندوانې کوچنی سوري یو لوی غار غوندي ښکاره سو. بیزووان هم په غار ور ننوت، لږ څه مخکي چي ولاړ، نو غار یو لوی میدان ته وتلی و. په میدان کي په زرګونو خلک ولاړ دي. بیزووان هم ورغی چي وګوري څه خبره ده.
خبره دا وه چي د دې وطن پاچا مړ سوی و، خلکو باز الوزولی و چي نوی پاچا وټاکي. کله چي یې باز والوزاوه، نو باز سیده راغی او د بیزووان پر سر کښېناست.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلکو چې بيزووان ته وکتل ويل باز خطاووت، دا زمور پاچا نه سي کېداى، ځکه چې دا د بل وطن سړى دى. بيا يې باز والوزاوه، باز بيا راغى او د بيزووان پر سر کښېناست، خلکو بيا وويل چې باز خطاووت. په همدې ډول باز دريم وار هم د بيزووان پر سر کښېناست. اخير خلکو وويل چې بس همدا زمور پاچا دى. هغه و بيزووان يې د پاچا ماڼۍ ته بوت، حمام يې په وکړ، د پاچهۍ کالي يې په واغوستل او پر تخت يې کښېناوه.

دوې درې ورځې وروسته يوه وزير پاچا ته لور ورکړه، ښه په درب او درازه واده جوړ سو، په واده کي د پاچهۍ لوړو خلکو برخه اخيستې ول او خورا لوى جشن و. د وخت په تېرېدو سره پاچا ته خداى څو زامن ورکړل. يوه ورځ د پاچا زړه تنگ سو. وزيرانو ته يې وويل چې راځئ ښکار ته ولاړ سو. وزيرانو هم د پاچا لپاره يو تکړه **آس** زين کړ او څو وزيران او د دربار لوړ خلک ښکار ته ورسره روان سول.

د ښکار ځاى ته چې ورسېدل نو يوه هوسۍ يې وليده، پاچا وويل چې هيڅوک به پر هوسۍ د غشي يا نېزې وار نه کوي، زه غواړم چې دا هوسۍ ژوندۍ ونيسم. له دې امر سره سم ټولو د هوسۍ د نيولو لپاره منډې پيل کړې. منډې، منډې، منډې اخير هوسۍ يو داسي ځاى ته ورسېده چې د تېښتي لار يې نه درلوده. پاچا وويل چې ټول پر هوسۍ ورمنډه کړئ، خو که هوسۍ د هر چا تر څنگ تېره سوه، نو هغه به يې نيسي.

له دې سره سم ټولو د هوسۍ پر خوا ورمنډه کړه، هوسۍ راغله د پاچا د **آس** تر گېډه ووته. پاچا هم په هوسۍ پسي **آس** پونده کړ او په هوسۍ پسې سو. منډې منډې منډې، اخير هوسۍ په غره کي په يوه غار ننوته. پاچا هم **آس** ودراوه او په

(c) ketabton.com: The Digital Library



هوسۍ پسي غار ته ور ننووت. په غار کي چي يو څه مخ ته ولاړ، نو گوري چي غار هغه بل سر ته وتلی دی، پاچا چي له غاره ووت نو گوري چي هماغه ميدان دی چي دی څني راغلی و، هماغه ځای او هماغه وخت دی، لوی ځوان خپل اودس تازه کوي او بيزو په هماغه ونه پوري تړلې ده.

بيزووان چي شاته وکتل نو نه هغه غر سته او نه غار. ځان ته چي يې وکتل د پاچاهۍ کالي يې هم په غاړه کي نه ول، بس هغه پخوانی بيزووان و. بيزووان چيغي کړې او د لوی ځوان په پښو کي ورولوېد، ويل ای د خدای نازولې ! زما پاچهي، ښځه او اولادونه ټول ولاړل، ته خو د خدای دوست يې، خدای ته دعا وکړه چي ما ته خپله پاچاهي او کورنۍ بيرته راکړي. لوی ځوان په خندا ورته وويل: همدومره دي بس ده، يو خوشحالک دي راکړی و، يو خوشحالک مي درکړ.[1]

د کتاب پای

[1] : دا کيسه مي د ۱۳۹۲ ه ش کال د ليندۍ د مياشتي پر اوومه نېټه له حاجي احمدالله څخه چي پـه ( حاجي پاچا ) سره شهرت لري اورېدلې ده. حاجي پاچا اصلا د کندهار ولايت، ډنډ ولسوالۍ د ( سوخته ) نومي کلي اوسېدونکی دی، خو اوس په کندهار ښار کي اوسېږي. ع، همت

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**